

# امیرالمؤمنین

# د یوویشتمې پېړۍ

## ملا محمد عمر مجاهد

راټولونه او ترتیب: آصف ژمن

د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین
راټولونه او ترتیب: آصف ژمن

Bawar.net

# د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین

## ملا محمد عمر مجاهد

راټولونه او ترتیب: آصف ژمن

۱۳۹۸ هـ ل

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net

بسم الله الرحمن الرحيم

# د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین


راټولونه او ترتیب: **آصف ژمن**

ډیزاین چارې: **شاه گرافیکس**

خپرندوی: **فکري ویښتیا خپرندویه ټولنه**

برېښنالیک: **fikreeweshtia@gmail.com**

چاپ شمېر: **زر ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **۱۳۹۸/۲۰۲۰م**


د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net

# ډالۍ

- د مرحوم امیرالمؤمنین د سپېڅلي، منلي او ویاړلي یون هر یوه سپېڅلي لاروي ته!
- هغو ته؛ چې د قربانۍ، فداکارۍ او اېثار عجیب و غریب او حیرانکن شهکارونه يې پرېښودل. هو، د استشهاد د اسمان هر یوه ستوري ته!
- د ممبر خوږ ژبي داعي، د سنگر زړور زمري او د دوو جهادونو ویاړمن غازي؛ استاد یاسر ته!
- ورور ته مې؛ هغه چې د فکري بې لاریو په را لوټې توفاني زمانه کې يې سپېڅلی اسلامي فکر را کړ. د اسلامي فکر د مبارزې لار يې را وښوده...هو؛ اروا ښاد ډاکټر...صاحب ته!

(آصف ژمن)

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net

# لړلیک

هر گز نمیرد...:...........................................................................۱
د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین!:................................................... ب
خپلې خبرې:..............................................................................ج
لومړی څپرکی:.............................................................................۱
د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ژوند لیک، د امارت تأسیس او دامیرالمؤمنین
لقب:......................................................................................۱
زوکړه او نشأت:...........................................................................۱
زده کړه او تعلیم:........................................................................ ۲
کورنۍ:....................................................................................۳
جهاد او مبارزه:...........................................................................۴
د فساد په وړاندې پاڅون او د اسلامي امارت تأسیس:...............................۱۰
د تحریک پیل د ملا محمد عمر په ژبه:.............................................۱۴
د دیني عالمانو ستره غونډه او ملا محمد عمر ته د امیرالمؤمنین لقب ور کول:.....۱۸
د ملا محمد عمر مجاهد قیادي شخصیت:............................................۲۳
د نړیوالو اسلامي قضایاو په اړه یې اهتمام:.........................................۲۶
شخصي ژوند:.............................................................................۲۷
طبیعت او شخصي مزاج:...............................................................۲۹
له امریکایي یرغل وروسته:..........................................................۳۰
دویم څپرکی:.............................................................................۳۱
د امیرالمؤمنین رحمه الله وفات او تاثرات........................................ ۳۱
د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات:.........................۳۳
د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات د اعلان په اړه د اسلامي
امارت د رهبري شورى او د مرحوم د کورنۍ اعلامیه:..............................۳۶
د ملا محمد عمر مجاهد د وروستیو کلونو د اوسیدا د ځای انځورونه:.............۴۱
امیرالمؤمنین د یو څو نامتو څېرو له انده:...........................................۴۳

Downloaded from Bawar.net

که ملا محمد عمرمجاهد نه وای را پاڅېدلی!:........................................۵۱
هغه اتل غازي رحلت وکړ:..............................................................۵۳
د ثور ۴مه؛ د دریم عمر د رحلت ورځ:............................................۵۷
د ثور۴مه؛ امت بل عمر له لاسه ورکړ:.............................................۶۲
د نجات الهي لورینه د هغه په شخصیت کې:.......................................۶۵
با وقاره امیر:...................................................................................۷۲
امیرالمؤمنین د عظمتونو وارث:.....................................................۷۷
عمر؛ د راشدینو شپږم و:...............................................................۸۱
ملا صاحب استاذ کل او لوی عالم و:...............................................۸۲
ستر محسن او ملي ناجي:................................................................۸۸
عمر مجاهد ـ لمر مجاهد:..............................................................۹۴
د یوویشتمې پېړۍ اتل:...................................................................۹۸
هغه افغان چې تاریخ یې بدل کړ:....................................................۱۰۱
د هغه چا په یاد چې اوس نشته:......................................................۱۰۳
ملا محمد عمر مجاهد ته!:.............................................................۱۰۵
دریم څپرکی:.................................................................................۱۰۸
مرکې او خاطرې:..........................................................................۱۰۸
له امریکا غږ سره د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد مرکه:..........۱۰۸
د تیسیر العلوني مرکه:....................................................................۱۱۱
له الشرق الاوسط ورځپاڼې سره د ذبیح الله مجاهد مرکه:..................۱۱۹
د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اړه زما د ژوند څو خاطرې:............۱۲۵
د بیت المقدس د پخواني امام زوی...................................................۱۳۹
مشر ملا صاحب او څو جالبې خاطرې یې.........................................۱۴۱
مرحوم امیرالمؤمنین د خپلې پېړۍ مجدد و/ خاطره...........................۱۴۶
خاطره:..........................................................................................۱۴۹
خاطره:..........................................................................................۱۵۰

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net

**ملا محمد عمر ولاړ، خو...:......................................................۱۵۱**
**مک کرسټل: ملا عمر ته تر کرزي سل ځله ډېر احترام لرم:..............۱۵۳**
**ځلورم څپرکی:......................................................................۱۵۴**
**د اميرالمؤمنين رحمه الله ويناوې او ځينې فرمانونه:..........................۱۵۴**
**د اميرالمؤمنين رحمه الله څو ويناوې:...........................................۱۵۴**
**د اميرالمؤمنين رحمه الله ځينې فرمانونه:........................................۱۵۷**
**اوس هم وحتي ده چې...:.........................................................۱٦۲**
**د الله په امان ملا محمد عمر مجاهده!:............................................۱٦۳**
**ماخذونه:............................................................................۱٦۵**

Downloaded from Bawar.net

# هر گز نمیرد...

**هر گز نمیرد انکه دلش زنده شد بعشق**
**ثبت است بر جریده عالم دوام ما**

نړۍ فاني او هغه څه چې ورکې موجود دي؛ ټول په فنا محکوم دي. انسانان هم چې د دې فاني نړۍ یو فنا کېدونکی عنصر دی، که دی په خپل ژوند کې هر څومره اوږدې هیلې او ارمانونه ولري؛ مگر بیا هم حتماً یوه ورځ وربانديې راځي چې نیمگړې پاتې او دی ور څخه فنا شوی وي. تر اوسه پورې د مختلفو سویو لا حسابه انسانان نړۍ ته راغلي او د خپل بشري ژوند په مختلفو مراحلو او مختلفو برخو کې د کمال لوړو پوړیو ته رسېدلي او بیا فنا شوي دي. مونږ مسلمانان په دې باور لرو چې انسانان به د دې فاني دنیا د لنډ ژوند په اړه په یوې بلې ابدي نړۍ کې پوښتل کیږي او هلته به د خپلو ښو او بدو کړو په اړه سوال ځواب ترې کیږي. تر اوسه پورې نړۍ ته ډېر انسانان راغلي او ډېر بېرته فنا شوي دي، په دې کې مختلف شخصیتونه دي چې د ژوند په یوه خاصه مرحله کې یې د انسانیت خدمت، د هغوی د هدایت او د هغوی د هوساینې لپاره کار کړی وي، او په دې لاره کې یې ډېرې ستونزې گاللي وي.

هغوی خپل ځان په زحمت کړی، خو د نورو انسانانو ژوند یې هوسا او ارام کړی وي. دغه ډول کسان د انسانانو په منځ کې تاریخ جوړونکي شخصیتونه دي، چې د دوی له ظاهري فنا کېدو وروسته یې هم د ژوند دایمي او تاریخي کار نامې تلپاتې وي. په معاصر دور کې د دغو شخصیتونو له جملې څخه یو هم ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله دی چې په خپلو تاریخي کار نامو سره

Downloaded from Bawar.net

يې د افغانستان د تاريخ په يوه حساس پړاو کې تبارز وکړ، د سختو زحمتونو په ګاللو او بې سارو قربانيو په ورکولو سره يې د ډېرو ځورېدلو ژوند هوسا، د جهادي ارمانونو د تحقق او په افغانستان کې د اسلامي شـــريعت د انفاذ لپاره تاريخ سازه خدمتونه وکړل.

محترم ورور آصف صاحب زحمت ګاللی او د دغه تاريخي شخصيت په اړه يې له ليکل شويو مقالو څخه ځينې داسې ليکنې په ترلاس لاندې ټولګه کې را ټولې کړي چې د ملا محمد عمر (مجاهد) د جهادي، سـياسي او ټولنيز ژوند بېلا بېلې برخې يې احتواء کړې.

دا يو ستر مسؤليت دی چې ليکوال ورونه د خپلو تاريخي اتلانو کارنامې په ليکنو کې ثبت او د راتلوونکو نسلونو د تنوير لپاره يې د تاريخ د يوې برخې په توګه خوندي کړي، ځکه راتلونکي نسلونه به بيا د همدې ليکنو له مخې د خپلو اتلانو په مواقفو وياړي او په هغه به قضاوت کوي.

**آصف ورور ته د لا برياوو په هيله**

**والسلام**

**عبدالرحيم ثاقب**

**۱۳۹۷/۰۹/۱۳ هـ ش**

Downloaded from Bawar.net

## د يووېشتمې پېړۍ اميرالمؤمنين!

ځينې ځـاى د مرحوم اميرالمؤمنين د كرامت خبرې واورم. دا ســړى يقيناً الله تعالى په كرامتونو نـازولى و. د ده تر ټولو ستر كرامت ماته دا برېښي؛ چې دى يو ســتر امتحان ته ټينگ شــو. زه دلته د ډار خبرې ته اشــاره نــــه كوم، چې گوندې داســې موضوع يې پر اوږو بار كړه، چې نور څوک يې له ډاره نه شي بـارولى. زه بـل څـه وايم. دا جهـاد په ډېرو عجيبو امتحاناتو كې روان دى. يو امتحـان پكې دا دى؛ چې لـه علمي او فكري ســويو ټيټ او د خداى ملنگ انســان به دې پر پاكســتان ور وتپي، ځان به پرې د جهاد له مكلفيته خلاصوي يا به دې پر همدې دليل د اسلام له دايرې وباسي. مرحوم اميرالمؤمنين سره له دې چې د روان جهاد له عمقه خبر و، له غوښــتنو يې هم خبر و، خو د خپل ديني مكلفيت اداء، د خپل تاريخي برم ســاتنې او د جهاد اســتقلال دې ته اړ كړ، چې دى لـه خپـل كوره لرې، لـه زورورو يـارانو جلا، لـه الله تعالى پرته د اسبابو نړۍ كې بې اسرې او له ټولې بې عاطفې نړۍ سره په جگړه كې د خپل وطن يوه خړه تپه غوره كړي.

مرحوم چې كله مريضـېږي، ډاكټران ورته وايي، ســتا معالجه دلته نه كېږي، ته بايد له هېواده ووځې، ستا مريضــــي د هېواد د اطرافي طبابت له زوره وتې ده. دلته نو مجبوريت تصور كړئ. لــــه دښمنه ځان پټوي، چې ديني مكلفيت او تاريخي برم وســاتي. د خپل هېواد په يوه لرې پرته سيمه كې پاتې كېږي، چې د حركت اســتقلال يې ســوال لاندې رانه شي، همدغه مجبوريتونه يې پر بلې لار مرگ ته ور برابروي. تصــور كړئ! خو دى له مرگه نه تښــتي. پر مرگ يې ايمان دى، خو پر داســـې مرگ، چې بايد له شــايبو پاک وي. مرگ ته په رښو

Downloaded from Bawar.net

سترگو ور مخامخ کيږي. مرگ سره يې سلا کړې، خپله ور درومي. دلته موږ دا هم معلومولی شو، چې د ده پتېده د دښمن له وېرې نه ول. که دی له وېرې پتېد، نو بايد د علاج لپاره له هېواده وتی وی، ځکه دا هم مرگ دی او د مرمۍ له مرگه سخت ځکه دی، چې په تدريج ور روان دی، په خپلو سترگو يې ويني! د مرمۍ په څېر يې ناڅاپه او پرېکنده نه وژني.

اوس نو دا را سره تصور کړئ، چې يو سړی له مرگه نه وېرېږي، خو د نړۍ مخې ته ډپ شوي خړ پړ طالبان يې سترگو کې غړېږي. د غړمبېدلي سېلاب مخې ته يې ډپ اچولی. دا گردو وهلي خلک تاريخ لري او را تلونکی هم لري. هسې نه څوک مخ ور واړوي، چې هغه مو بنسټگر و!

الله! همدغه ستر کرامت و، چې يو سرشاره انسان د خپل دين، ولس او حرکت د تاريخ لپاره ځان د يوې ساده وړې خونې څلورو دېوالونو کې ايساروي. د راوتلو وخت معلوم نه دی. څه وخت به د دښمن موضوع تماميږي؟ څه وخت به دی د خپل وطن ازاده هوا تنفس کوي؟ دا نه معلوميږي، خو دا ور معلوميږي، چې د کومې موضوع لپاره د دښمن له مرمۍ ځان ساتي، يوه بله بلا يې له دې موضوع تروړي. دی د خپل فردي مکلفيت پر بنسټ د کَوني واقعيت دا جبر مني. کار يې پاتې دی، خو دی بايد جبر ومني. دی بايد لاړ شي. هو؛ که له هېواده بهر چېرته ځي، نو د انساني عقل دايره ده، ممکن څه علاج يې وشي، خو که له هېواده بهر وليدل شي؟ له هېواده بهر ونيول شي؟ له هېواده بهر ومري؟ بيا؟

دی نو د خپل ديني مکلفيت لپاره، د تاريخي برم د ساتنې لپاره او د خپل حرکت د استقلال لپاره، «نه» وايي! نه ځم، هيڅ ځای ته نه ځم. ده خو د سترو

Downloaded from Bawar.net

مقاصدو لپاره پراخه نړۍ پر ځان را تنګه کړه، خو یقین مشــر به ـ هیله مو ده ـ چې الله تعالی به په خپلو پراخو نعمتونو نازولی وي! ان شاءالله

د اسلامي نړۍ په جهادي مشاربو کې دومره مقبولیت هم د ده خدای ور کړی کرامت دی. زه کله ځینو خلکو ته حیران شــم. ده سره جنګېدلي مخالفین، د ده پر ضـد بهرني دښـمن سره ولاړ مخالفین، چې کله د اسـتقلال او تاریخ په اړه د وینا جلال ته واوړي، د ملا صــاحب له بېلګې پرته یې بل څوک خولې ته نه ورځي. سر سپارلی مخالف یې کله دې ته مجبور شي، چې په واز کومې د ده په نوم خپل مخالف وننګوي.

د جــهاد په مســیر کې به تر ډېـرې اوږدې مـودې ـ که ووایـم تر قـیامته، نــو هم مبـالغه به نـه وي ـ د ده نوم د سپېڅلو مسلمانانو د ترحم وړ وي. د اسلامي نړۍ په ګوټ ګوټ کې ټوکېدلي او را ټوکېدونکي حرکتونه به په یو ډول د ده منتبار وي. د جهاد په باب کې د ده مقبولیت داسـې را بریښـي، لکه د علم په باب کې زموږ د ســلفو علماو مقبولیت، چې له ســوونو کلونو را هیســې یې کتابونه زموږ د امت د تعلیمي نصابونو سترې برخې دي!

«د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین» او دې ته ورته بلا نور کتابونه د مرحوم فکر نه شي را نغاړلی. که وخت راغی، د تاریخ او سیاست څېړونکي به پرې په بېلا بېلو مرحلو کې ژورې او پراخې څېړنې او شننې کوي.

د ملا صـاحب رحمه الله د سترې قربانۍ بدلې یو الله جل جلاله ورکولی شي. د ده د اعمالو مکـافـات د الفـاظو له دایرې وتې خبره ده. الله تعالی دې بدلې ورکړي. امین!

**لطف الله خیرخوا**

**۱۴۴۰/۰۵/۲۴ هـ ق**

**پېښور، خالص بابا کمپ**

Downloaded from Bawar.net

# خپلې خبرې

له څو ورځو را هیسې مې یې په رسنیو کې د وفات خبر اورېده. ملګرو یې په هکله چوپتیا غوره کړې وه. د ملګرو چوپتیا یې اندېښـمن کړم. شـېبه په شـېبه مې انټرنېټي خبري سایټونـه تعقیبول. د ۲۰۱۵م کال د جولای ۳۰مې ورځې د مازدیګر مهال مې په الاماره پاڼه کې د دې ستر انسان د وفات اعلامیه مخې ته راغله. پوره مې ونشـوه لوسـتلی؛ خدای شته د لوستو زغم مې یې نه درلود. دا داسـې خبر و؛ چې زما لپاره یې تصور هم تریخ و. خو د الله تعالی په دې قول عقیده لرو چې: ( كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ)

د دې نالیدلي امیر مینه د ډېرو په زړونو کې خوره وه، ده او وي به!

دا د لمر غوندې ځلانده انسـان په یوه داسې زمانه کې وځلېد؛ چې پر هېواد د تیارو منګولې هر خوا خپرې او خښـې وې. له ولس نه د ژوند شیمه ختلې وه. پـه مړ ژواندي ولس وحشـــــــي داړه مارانو خپلې خولې خښـــې کړې وې. لوټماری، پاټکسالاری، قتل و قتال، چور و چپاول، د عزت او ناموس لوټ او پایمال هرې خواته خپور و. د دې سـتر ملت تورو دښـمنانو داسـې ګڼلې وه؛ چې نور نو دا ملت له منځه تللی بویه!

خو الله تعالی د دې ملت د خیر غوښتونکو دعا قبولـه کړه. له لوی کندهاره بیا یو داسـې څوک را پورته شـو؛ چې د دې ملت لپاره یې معجزه ګڼلی شو او د دې ملت د نجات او ژغورنې پرښته یې ګڼلی شو.

هو، د همدې سـتر انسان په را پورته کېدو دا هر څه یو مخ بدل شول. د ولس پـه مړاوو رګونو کې د ژونـد وینـه په حرکت راغله. ولس سره د یوه نوي ژوند هیلـه پیـدا شــوه. خلکو یو وار بیـا بې له وېرې، بې له جګړې او بې له چور و

Downloaded from Bawar.net

چپاول څخه شپې سبا کړې. د هېواد د تجزيه غوښتونکو تورو دښمنانو تور او ناولي ارمانونه هسې دروغجن خوب و خيال شول. له کلونو کلونو وروسته دې ستر انسان نړۍ ته د اسلامي نظام نمونه وړاندې کړه. د سياسي اسلام هغه مفاهيم چې له کلونو کلونو را هيسې يوازې د کتاب په پاڼو کې محدود پاتې شوي و، يو وار بيا د سياست او حاکميت عملي ميدان ته را ووتل. دا هغه څه و؛ چې د اسلام ابدي دښمنانو ورسره کلونه کلونه جګړه کړې وه او د عمل له ميدانه يې ايسته کړي و. نو دا ورته کله د زغم وړ کېدای شوه. نو يې دې مسلمان او مېلمه پال ولس ته راغلی يو مسلمان مېلمه بهانه کړ او د دې مسلمان نظام پر خلاف يې شيطاني اشر وکړ.

له ځينو په اصطلاح سياسي شنونکو څخه په سياسي بحثونو کې بعضې وخت واورو چې مشر ملا صاحب په دې و نه توانېد؛ چې له امريکا سره د اسامه بن لادن پر سر لانجې ته کوم سوله ييز حل وړاندې کړي!

خو دا ښاغلي يا خو د مشر ملا صاحب په يو نه يو ډول د تورنولو ناکامه هڅه کوي او يا په دې نه دي خبر چې سوله ييز حل نه؛ بلکې حلونه وړاندې کړای شول: (د افغانستان اسلامي امارت له امريکا سره د دښمنۍ نيت نه لري او نه هم په نړۍ کې د تروريستي اعمالو پلوي کوي، بلکې تروريستي اعمال چې بېګناه خلک پکې وژل کيږي، د نړۍ د بې ثباتۍ سبب کيږي، په کلکه غندي. د افغانستان اسلامي امارت له هيڅ يو مجرم شخص څخه دفاع نه کوي، هغه که اسامه بن لادن وي او که بل څوک وي، خو د اسلام او اسلامي قوانينو دفاع د ځان او د هر هېواد حق او فريضه بولي. د افغانستان اسلامي امارت په لاندې ډول له امريکايانو سره د اسامه بن لادن پر سر په مغلقه او پيچلې لانجه کې مرسته کوي او يو معقول حل په دغو درو مادو کېويني،

Downloaded from Bawar.net

چې هم د امریکایانو ستونزه حلولی سي او هم د اسلام او مسلمانانو احترام پکې نغښتی دی:

اول: د افغانستان اسلامي امارت چمتووالی لري، چې اسامه بن لادن د افغانستان ستري محکمې ته وسپاري، خو امریکایان دې د ده د تهمت په اړه خپل تورونه او شواهد محکمې ته وړانـدې کړي، محکمه به په ازاده او خلاصه فضاء کې ترسره کیږي، د نړۍ مطبوعاتو ته به هم د محاکمې پر مهال اجازه ورکول سي، چې د محکمې د فیصلې جاج واخلي او ملګري ملتونه هم خپل هیئت د ناظرینو په توګه استولی سي.

همدا لومړی وړاندیز د امریکایانو لخوا بې لـه دې چې کوم معقول دلیل ولري، و نه منل سـو، چې څه وخت وروسته بیا هم د دې پیچلې معضـلې د حل لپاره دغه بله طرحه د امارت لخوا وړاندې سوله.

دویم: که په کومو دلایلو سره چې په اوله ماده کې ذکر سـوه امریکایانو ته د حـل لاره نـه وي او یا ورسره موافقه نه لري، نو د افغانستان اسلامي امارت چمتووالی لري، چې د دریوو او یا زیاتو اسلامي هېوادونو د قاضیانو ځانګړي محکمـه جوړه او دایره سي، اسامه بن لادن به په هغه محکمه کې پر ځان د لګېدلو تورونو په وړاندې ځواب وایي او په شـرعي توګه به محکمه خپله فیصله وکړي، دغه محکمه چې هره فیصله کوي، هغه موږ ته د منلو وړ ده او پوره احترام بـه یې کوو، د محکمې د دایرولو لپاره پـه ځـای تـاکلو کې موږ کومه ستونزه نه لرو، خو یوازینی شـرط به دا وي، چې د اسلامي نړۍ په یوه هېواد کې به دایریږي.

Downloaded from Bawar.net

په دويمه طرحه بانـدې هم د پخوا په څېر امريکايانو غوږ و نه گراوه او په ډېره بېره سره يې رد کړه، تر دې وروسته بيا هم د افغانستان اسلامي امارت د يوه معقول حل په لټه کې و، چې دغه لانجه ور بـاندې ختمه سي، تر څه مودې وروسته بيا هم د امريکايانو د فشـارونو او اعتراضـونو او د ځينو اسـلامي هېوادونو د پر لپسې غوښتنو له کبله لاندې درېيم وړانديز هم مخته سو.

درېيم: که دا دوهمه طرحه هم امريکا نـه مني او قناعت ور باندې نه کوي، نو درېيم وړانديز يا طرحه به دا وي، چې موږ به په خپله سـيمه کې د اسـامه بن لادن څخه ټول د اتصال لوازم واخلو او دی به د افغانستان د اسلامي امارت تر نظارت لاندې وي او د افغانستان خاوره به د هيچا پر ضد نه سي استعمالولی تر دې چې د بيـان ازادی، چې د هر چا طبيعي حق دی، هغـه بـه هم ځينې واخلو تر څو داسې يو څه ته لاره موندل سوې وي، چې د ستونزې قوت يو څه را کم کړای سي.) [طالبان لـه کندهاره تر مزاره/ملا عبدالسلام ضعيف. ص: ۲۸۳ـ۲۸۴]

خو دا ټول حلونـه د امريکـا لخوا بې لـه دې چې کوم معقول دليـل ولري، رد کړای شول. ځکه اصلاً خبره د اسامه بن لادن نه وه؛ بلکې د امريکا ستونزه له خپلواک اسلامي نظام سره وه. او د هغوی ستونزه د اسلام له حاکميت سره وه. هغوی له دغسې يوه اسلامي نظام څخه په وېره کې و.

استاد عبدالهادي مجاهد د يوه ملگري له قوله ويل چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانسـتان د بهرنيو چارو وزير، مولوي وکيل احمد متوکل ويل چې، کله چې طالبانو اعلان وکړ، چې اسـامه بن لادن نور په افغانسـتان کې نشـته او ايسـتلی مو دی؛ نو د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له لوري زنگ راغی، چې

Downloaded from Bawar.net

اسامه بن لادن په افغانستان کې وي او يا نه؛ دې موږ لـــه تاسو سره نور کار دی! او د افغانستان لپاره زمونږ په موقف کې هېڅ بدلون نه دی راغلی.

هو، بدماشې او مغرورې امريکا غوښتل، چې افغانان دې هم د دوی هر ډول غوښـــتنې بې له چون و چرا ومني! او د هغوی هر ډول امر ته دې سر ښـــکته کړي! هغه سر چې بې له احد ربه بل چاته نه دی ښکته شوی.

خو دې مجاهد امير په هسکه غاړه وويل: "دا نو شاهي نظام نه دی چې تاسې راشئ او موږ به درنه لاړ شو. دلته مجاهدين دي، منظم قطعات دي، غرونو ته به وخيژي..."

مرحوم اميرالمؤمنين هماغه وخت ورته ويلي و: "زه اوس و دوی ته وايم، چې دغه ستونزه له موږ سره د خبرو له لارې حل کړئ، کنه نو وروسته به بيا تاسې موږ ته د خبرو کېناستلو لپاره سوالونه کوئ."

کټ مټ همداسې وشول. هماغه په زور او زر مغروره امريکا د خپل تاريخ په تر ټولو اوږده او ستونزمنه جګړه کې ونښته. هماغه له سوله ييز حل تښتېدلې امريکا اوس د هماغه امير لارويانو ته د سوله ييز حل او خبرو ته د کېناسـتلو لپاره عذرونه کوي.

ښايي ځينې وپوښتي، چې د دې کتاب اړتيا څه وه؟!

ښکاره ده چې موږ له هر اړخيز غربي يرغل سره مخ يو. د دې مسـلمان ملت پر ضـــد دښـــمن يوازې د ټـانـګ او طيـارې جګړه نه ده پيل کړې؛ بلکې په فکـري او فرهنګي سنګر کې هم په جګړه بوخت دي.

استعمار ګر چې د کوم ولس د اېل کولو اراده ولري، نو تر ټولو ستره هڅه يې يوه دا هم وي چې هماغه ولس له خپلو مشرانو او اصلي قهرمانانو سره پردی

Downloaded from Bawar.net

او ناآشنا کړي. او په ډول ډول نومونو او تهمتونو يې د بدنامولو او تورنولو هڅه کوي. چې له بده مرغه موږ هم اوس له همداسې يوه حالت سره مخ يو. اوس د دې ملت د رښتيني او خواخوږي مشر، مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د شخصيت، فکر، عقيدې او دريځ دښمنان حاکم دي. نو معلومه ده چې د ده دښمنان به د ده د شخصيت په هکله د کوم ډول ذهنيت د خپرولو هڅه کوي. په دغسې يوه وخت کې د هر متعهد او ژمن مسلمان افغان دنده ده چې عامه ذهنيتونه د استعمارګرو او پرديپالو له ناپاک او زهرجنو تبليغاتو له تاثيره د ژغورلو هڅه وکړي. د مرحوم اميرالمؤمنين ژوند او مبارزه به د امت راتلونکو نسلونو ته، د ازادۍ او حريت لښکريانو ته او د مبارزې او مقاومت سرښندويانو ته لارښود وي او هغوی ته به د برې ډاډ او اطمينان وي.

بناءً ما هم د همدې اړتيا له مخې همدا کوچنۍ هڅه کړې. د يوه عالم وينا ده چې، پر لويو شخصيتونو بايد لوی شخصيتونه ليکل وکړي. نو ما به څرنګه پر خپل کمزوري قلم د دې ستر شخصيت په هکله د څه ليکلو جرئت کړی وای؟!

هغه و چې د اميرالمؤمنين رحمه الله په هکله مې د نړۍ د سترو شخصيتونو څرګندونې، نظرونه، د نورو ليکوالانو ليکنې، مرکې، خاطرې او يادښتونه را غونډ او په کتابي بڼه ترتيب کړل.

کتاب په څلورو څپرکو کې را غونډ شوی:

لومړی څپرکی د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ژوند ليک، د امارت تأسيس او د اميرالمؤمنين لقب، دويم څپرکی د اميرالمؤمنين رحمه الله وفات

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net

او تـاثرات، دریم څپرکی مرکې او خـاطرې، او څلورم څپرکی د امیرالمؤمنین رحمه الله ویناوې او ځینې فرمانونه لري.

په پای کې له سـیاسي شـنانـد او لیکوال، محترم عبدالرحیم ثاقب صـاحب او محترم استاد لطف الله خیرخوا صاحب څخه زښته زیاته مننه کوم چې د کتاب کتلو ته یې د خپل ژوند یو څو شـېبې بېلې کړې او د موضوع اړوند یې لیکل وکړل. همدا شـــان هغو ټولو دوســـتانو ته هم کور ودانی وایـم چې د کتاب په برابرولو او ترتیبولو کې یې راسره مرسته کړې.

**پر ټوله نړۍ د اسلام د بشپړ حاکمیت په هیله**

**آصف ژمن**

**۱۳۹۸/۰۴/۱۶هـ ش**

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**لومړی څپرکی**

## د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ژوند ليک، د امارت تاسيس او د اميرالمؤمنين لقب

### زوکړه او نشأت

مرحوم ملا محمدعمر مجاهد د مولوي غلام نبي زوی، د مولوي محمد رسول لمسی او د مولوي باز محمد کړوسی، په کال ۱۳۳۹ هجري لمريز کې چې له ۱۹۶۰ ميلادي سره سمون خوري د افغانستان د کندهار ولايت د خاکريز ولسوالۍ د چاه همت کلي په يوه متدينه او علمي کورنۍ کې وزيږېد.
د ملا محمد عمر مجاهد والد مرحوم مولوي غلام نبي صاحب هم په همدې خاکريز ولسوالۍ کې دنيا ته راغلی او د همدې سيمې په مختلفو ديني درسونو او دايرو کې خپلې ديني زده کړې ترلاسه کړې، چې بيا په ياده سيمه کې د تدريس او اسلامي دعوت په چارو کې د زيار او مصروفيت له امله د خلکو په منځ کې د يو ښه علمي او ټولنيز شخصيت په توګه وځلېد.

د ملا محمد عمر مجاهد له زوکړې دوه کاله وروسته د هغه والد صاحب د کندهار له خاکريز ولسوالۍ څخه ددې ولايت د ډنډ ولسوالۍ د نودې کلي ته ولاړ او هلته د خپل ژوند تر پايه د سيمې د خلکو د ديني ښوونې او روزنې په چارو بوخت و، نوموړی په ۱۳۴۴هجري لمريز کال کې چې لـه ۱۹۶۵ميلادي سره سمون خوري په همدې سيمې کې وفات او د کندهار ښار د طالبانو په پخوانۍ مشهوره هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ملا محمد عمر مجاهد د خپل پلار له وفات وروســته د پنځه کلنۍ په عمر له خپلې کورنـــۍ سره د کندهار له ډنډ ولسوالۍ څخه د اروزګان ولایت دهراود ولســوالۍ تـه ولیږدیـده او هلته یې د خپلو ترونو هر یو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه تر سرپرستي لاندې د ژوند لومړنۍ مرحله پیل شوه.

## زده کړه او تعلیم

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) په اته کلنۍ کې د دیني علومو د ترلاسه کولو لپاره د اروزګان ولایت د دهراد ولســوالۍ د شـــهرکهنه ســیمې ابتدایي دیني مدرسې ته شامل شو. د دغې مدرسې سرپرستي هم د ملا محمد عمر مجاهد د تره مولوي محمـد جمعـه لخوا ترسره کیـده او ملا محمـد عمر مجاهد هم دیني زده کړې لـه نوموړي څخـه پیل کړې. د ملا محمد عمر مجاهد دواړو ترونو په تیره مولوي محمد انـور د نوموړي په دیني روزنې او پالنې کې خاص رول ترسره کړ.

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د خپل شـــرعي تعلیم لومړنۍ او متوسطه دوره په همدغـــه مدرسه کې په بریالۍ توګه پای ته ورسوله او اتلس ۱۸ کلنۍ ته له رسـیدو سره یې په افغانستان کې د مروجه لوړو شـــرعي زده کړو په تحصیل پیل وکړ، خو د شـرعي لوړو زده کړو د تحصیل مرحله یې په کال ۱۳۵۷هـ ش او ۱۹۷۸م په افغانســتان کې د کمونســتانو د واک ته رسـیدلو له امله نیمګړې پاتې شوه.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## کـورنـۍ

لـه قبیلوي اړخـه د ملا محمـد عمر مجـاهـد تعلق د پښـــتنې قبیلې هوتکو په تومزي قوم پورې دی. هوتـک د پښـــتنې قبیلې یو لوی شـــاخ او هوتکیان د معاصر افغانسـتان په تاریخ کې د نومیالي اسـلامي شخصیت حاجي میرویس خان هوتک په څیر اسلامپال، مدبر، ملي او جهادي اتلان لري.

ستر غازي حاجي میرویس خان هوتک رحمه الله چې افغانـــان یې احتراماً د میـرویس نیکـه په ویاړلي لقب یادوي. په کال ۱۰۸۸ هـ۱۷۱۲م افغانسـتـان له صفوي ظالمانه واکمنۍ ازاد او د افغانانو لپاره یې په کې د یوه خپلواک مقتدر اسلامي حکومت بنسټ کېښود.

د ملا محمد عمر مجاهد کورنۍ له مسلکي اړخه ټول علماء او د دیني علومو مدرسـین دي. هغوی خپل ټول ژوند د الله تعالی د دین خدمت، د شـــــرعي علومو تدریس او د مسلمانانو دیني او فکري روزنې ته وقف کړی، له همدې املـه یې په خپله سـیمه کې خورا زیات مقبولیت درلود او په معنوي لحاظ د ټولنې تر ټولو با وقاره اجتماعي حیثیت لرونکي اشخاص پېژندل شوي دي.

د یوې داسې علمي او روحاني کورنۍ په ماحول کې د ملا محمد عمر مجاهد پیدایښـــت او بیا د خپلو علمي او فکري مربیینو (پالونکو) تر مســتقیمې پالنې لاندې د هغه نشـأت په جهادي او فکري لحاظ نوموړي ته د دې صـلاحیت ور وبانبه چې د افغاني ټولنې د نورو افرادو په منځ کې د یو مخلص، مجاهد، زړه سـواند، با احساسه، اسلامي او ملي شخصیت په توګه راڅرګند او په خپلو جهادي او اصـلاحي هڅو سره خپله ټولنه د فساد، ظلم او بې عدالتۍ او ګران هېواد افغانستان د حتمي تجزیې له شـره وژغوري.

Downloaded from Bawar.net

د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد جهادي کورنۍ، ورونه او ترونه ټول مجاهدین او له ۱۳۵۷ لمریز کال راهیسې تر اوسه پورې یې په تېرو جهادي جریاناتو کې د خپلې کورنۍ څلور تنه شهیدان شوي دي. په افغانستان باندې د امریکایي یرغل په لومړۍ ورځ ۱۳۷۹/۶/۱۵ـ۲۰۰۱/۱۰/۷ د ملا محمد عمر مجاهد تره ملا محمد حنفیا لومړنی شخص و چې د امریکایي یرغلگرو په بې رحمانه هوایي برید کې په شهادت ورسید.

## جهاد او مبارزه

د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د خپل ژوند دریمې لسیزې ته لا نه و ور داخل شوی چې په افغانستان کې کمونستانو د پوځي کودتا له لارې واک ترلاسه کړ. دا هغه وخت و چې نور نو د ملا محمد عمر مجاهد په څېر د هېواد ټولو زده کوونکو ته د خپلو دیني زده کړو استمرار ناشونی ښکارېده؛ ځکه د ملحدو کمونستانو لومړنۍ مقابله د ټول هېواد په کچه له علماوو، طالبانو، محصلینو او مسلمانو منورینو سره وه، هماغه و چې ملا محمد عمر مجاهد هم اړینه وبلله چې خپلې لوړې دیني زده کړې نیمگړې پرېږدي او د خپل شرعي مسؤلیت د ترسره کولو لپاره له مدرسې څخه دجهادي جبهې په لوري مخه کړي.

نوموړي خپل جهادي بهیر د روزگان ولایت د دهراود په ولسوالۍ کې د حرکت انقلاب اسلامي په تنظیم کې پیل کړ. په دغې ولسوالۍ کې له څه وخت تیرولو وروسته نوموړی د روزگان ولایت په کچه د یوه پیژندل شوي زړور جهادي شخصیت په توگه مطرح او د دغه ولایت په بیلابیلو برخو کې

Downloaded from Bawar.net

**د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین/۵**

یې د کمونستانو په وړاندې په متعددو پوځي عملیاتو کې فعال رول ترسره کړ، چې نوموړي د دغه جهادي شهرت او په جهادي عملیاتو کې د موفقانه رول له امله په مجاهدینو کې دومره مقبول او ومنل شو؛ چې کله په هغه وخت کې د دهراود په ولسوالۍ د مختلفو سیمو د مجاهدینو له لوري پراخ تعرضي عملیات ترسره کېدل، نو ملا محمد عمر مجاهد په همدې عملیاتو کې د ټولو مجاهدینو په خوښه د مختلفو جبهاتو د مجاهدینو مشر او تعرضي قومندان وټاکل شو او ښه موفق عملیات یې ترسره کړل چې په همدې عملیاتو کې نوموړی په لومړي ځل زخمي هم شو. نوموړي تر دریو کلونو زیات وخت د خپلې سیمې د مجاهدینو سره د یرغلگرو روسانو او کمونستانو خلاف په ډیرو مخامخ جگړو کې گډون درلود.

د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د جبهې ملگري او مشران وایي چې ملا محمد عمر اخوند په هغه وخت یعنې د جهاد په پیل کې سره له دې چې عمر یې کم و د هر ډول مسؤلیت او کار د ترسره کولو استعداد او صلاحیت درلود او د ډیر ښه صحت او قوت خاوند و.

وروسته په کال ۱۳۶۲هـ ش ۱۹۸۳ میلادي کې له خپلو جهادي ملگرو سره د جهادي فعالیتونو د انسجام په غرض د کندهار ولایت میوند ولسوالۍ ته ولاړ او هلته یې د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم د مشهور جهادي قومندان فیض الله اخوندزاده په جبهه کې د روسي یرغلگرو او د هغوی د کمونستي تالي څټو په خلاف وسله وال جهاد ته دوام ور کړ. په کندهار ولایت کې هم په بې شمیره جهادي عملیاتو کې د نوموړي د موفقانه رول او په پوځي تکتیکونو کې د ښې وړتیا او شهرت له کبله د سیمه ییزو جهادي قومندانانو په کچه د

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


وخت د جهادي تنظيمونو د پام وړ شخص وګرځيد او د مرحوم مولوي محمد نبي محمدي په مشـــرۍ د حرکت انقلاب اسلامي د تنظيم لخوا د مستقلې جهادي جبهې مسؤليت ورته وسپارل شو.
له کال ١٣٦٢هـ ش ـ١٩٨٣ م تر ١٣٧٠ـ١٩٩١ پورې ملا محمد عمر مجاهد د کندهار ولايت د ميوند، ژړۍ، پنجوايي او ډنډ ولسواليو په مربوطاتو کې چې د شوروي قواوو په ضد د جهاد مهم مرکزونـــه ول او نيږدې هره ورځ به يې مجاهدين له دښـمن سره په جګړه بوخت ول همدارنګه د زابل په ولايت کې د شهرصفا او مرکز قلات مربوطو سيمو کې د کـابـــل کندهار په لويه لاره د روسي يرغلګرو په خلاف ډير موفقانه عمليات ترسره کړل چې ډيرو هغو کې نوموړی شـخصاً په مستقيمه توګه سهيم و. د ملا محمد عمر مجاهد تر ټولو خوښـه کړای شـوې وسـلـه د روسي جنګي شـوبلو(ټانګونو) پر ضـد استعمالېدونکې مؤثره وسله « آر پي جي ٧ » توغندی و چې د مجاهدينو په مينځ کې به راکټ بلل کيده او ده يې په ويشتلو کې ځانګړی مهارت درلود. د يادونې وړ ده چې کندهار په ځانګړي ډول د ميوند، ژړۍ او پنجوايې سيمې د کمونيزم خلاف جهاد کې هغه سيمې وې چې د روسانو د ماتې او شکست محوري نقطې بلـل کيدې. په دې سـيمه کې د کندهار- هرات په لويه لاره د کمونسـتانو دومره زيات ټانګونه او نور وسايط تخريب شوي و چې د سرک پر يوه او بله غاړه دښـمن د هغو سـوځول شـويو ټانګونو او پوځي وسـايطو ديوالونه وهلي و څو د مجاهدينو له بريدونو څخه ځانونه پرې وساتي.
مرحوم ملا محمد عمر مجاهد له روسـانو سره د جهادي عملياتو په مخامـــخ نښتو کې څلور ځله ټپي شوی او په وروستي ځل ټپي کيدو کي يې خپله ښۍ

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


سترگه هم له لاسه ور کړې وه. ملا محمد عمر مجاهد د کندهار او همجوارو ولایاتو په سطحه د شوروي یرغلگرو او داخلي کمونستانو په ضد د جهاد یو وتلی او مخکښ قومندان پېژندل کېده، چې په خورا ډېرو جهادي عملیاتو کې یې ټاکونکې ونډه او رول درلود. دلته به د نوموړي د روس ضد جهاد مهال د ملگرو له قوله یو څو خاطرې او یادونې د بېلگې په توگه رانقل کړو:

۱) د کندهار په ولایت کې د دښمن یوه خورا محکمه پوسته وه چې د بدوانو پوسته یې ورته ویله. د دې پوستې سره دښمن په خورا حساس او حاکم ځای کې ټانگ درولی و چې له انداخت کولو یې مجاهدین ډېر په تکلیف و، ډېرو مجاهدینو څو ځله کوښښ ورباندې وکړ چې دا ټانگ وولي او مجاهدین یې له شره خلاص کړي، خو له بیا بیا هڅو سره سره یې کوم مجاهد په ویشتلو بریالی نشو. بالاخره د سیمې مجاهدینو له سنگ حصار نه د مرستې لپاره ملا محمد عمر مجاهد راوغوښت او همدا ټانگ چې د بدوانو د پوستې په ټانگ یې شهرت موندلی و ملا محمد عمر مجاهد د خپل آر پي جي راکټ په توسط په نښه او له منځه یووړ چې دا په هغه وخت کې مجاهدینو ته خورا ستره لاسته را وړنه وه.

۲) له روسانو سره د جهاد په دوران کې د کندهار د محله جات په سیمه کې په یوه مخامخ جگړه کې چې د کندهار یو تن بل وتلی او غښتلی مجاهد شهید ملا عبیدالله اخوند چې وروسته یې د اسلامي امارت د دفاع وزیر او د امریکا تر یرغل وروسته د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د نایب په توگه دنده ترسره کوله، هم ورسره ملگری و. د دښمن دومره ټانگونه او

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



موټر يې وسوځول چې په سبا ورځ له ليري نه کتونکو خلکو چې دا سوځول شوی کتار ليد، نو گمان يې کاوه چې قوه اوس هم ولاړه ده، حال دا چې د قوې زيات موټر سوځول شوي او نور يې بېرته خپلو مرکزو ته په شا شوي و.

۳) د روس ضد جهاد په مهال د کندهار ـ هرات په لويه لاره د ژړۍ ولسوالۍ د سنگ حصار په سيمه کې د روسانو ټانگونه تېرېدل، ملا محمد عمر مجاهد چې ملا برادر اخوند (چې بيا داسلامي امارت نايب شو) هم ورسره و، د روسانو په قوه د بريد لپاره يواځې د راکټ څلور گولۍ (مرمۍ) ورسره وې دوی له همغو څلورو گوليو سره د دښن په کتار جنگ شروع کړ چې په ترڅ کې يې په همدې څلورو مرميو د دښمن څلور ټانگونه وويشتل.

٤) ملا برادر اخوند چې له مرحوم ملا محمد عمر مجاهد سره په جهادي دوره کې نيږدې پاتې شوی، وايي چې ملا صاحب دومره زيات روسي ټانگونه ويشتلي چې د ډيروالي له وجې يې شمير ناشونی و.

په کال ۱۳۷۱هـ ش، ۱۹۹۲ز کې د نجيب د کمونستي واکمنۍ له سقوط او په هېواد کې د تنظيمي جگړو له پيلېدو سره سم ملا محمد عمر مجاهد هم د نورو رښتينو مجاهدينو په څېر وسله له اوږې کوزه او په خپله جهادي سيمه کندهار ولايت، د ميوند ولسوالۍ د سنگ حصار د کيشانو کلي د حاجي ابراهيم د مسجد تر څنگ يې يوه ديني مدرسه جوړه او په همدې مدرسه کې مېشت شو او له ۱۴ ستونزمنو جهادي کلونو وروسته يې د خپلو څو تنو جهادي ملگرو په ملتيا د خپلو نيمگړيو شرعي زده کړو په پوره کولو بيا پيل وکړ. دا هغه مهال و چې د پلازمينې کابل په شمول ټول هېواد تنظيمي بې

Downloaded from Bawar.net

هدفـــه جگړو په سر اخیستی و. د ځینو تنـــظیمي جگړه مارانو د شخـــصي غرضـونو او هوسـونو د ترلاسـه کولو له امله د مقدس جهاد سـپېڅلي ارمانونه نیمگړي او د افغـان مســلمان ولس د یو نیم میلیون شــهیـدانو پـاکې هیلې همداسې تر پښو لاندې وې.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## د فساد په وړاندې پاڅون او د اسلامي امارت تأسيس

د کمونېستي رژيم له سقوط وروسته د دې په ځای چې اسلامي نظام تاسيس شي او په دې توگه د مجاهد ملت د کلونو کلونو ارمان پوره شي، خپل منځي جگړې پيل شوې، واقعي مجاهدين د يوې منظمې دسيسې له مخې ضعيفه او يا هم بيخي له صحنې وايستل شول. ځينو پخوانيو مجاهدينو هغه کمونستان چې بايد محاکمه شوي وای، په ځنگ کې ورسره ونيول او ځينو نورو په منظمه توگه د ولس په لوټلو، ځورولو او د وطن په چور تالان پيل وکړ.

په دې توگه په درست هېواد کې د هرج و مرج يو داسې تور دوران راغی، چې شايد پخوا يې افغانانو نمونه او بېلگه نه وي ليدلې. د افغانانو سر، مال او ناموس هره شېبه له گواښ سره مخامخ و. د هېواد په لارو او سرکونو د خودسره، جاهلو او پست صفته ټوپکيانو ځنځيرونه او پاټکونه خپاره شول، چې هر يوه د خپل مزاج موافق له بې وسه خلکو، نه يواځې پيسې اخيستې، بلکې د هېوادوالو په عزت او ناموس يې هم صرفه نه کوله. د هېواد د ملي شتمنيو، مادي او معنوي پانگو، د جهاد د غنايمو او حتی د هېواد د ځنگلونو او کانونو داسې بې رحمه چور تالان پيل شو، چې پخوا يې کله هم بېلگه نه وه ليدل شوې. مؤمن ولس چې څوارلس کاله يې جهاد کړی و، نه تنها دا چې د جهاد ثمره يې د ضياع له خطر سره مواجه وه، بلکې ورځنی ژوند يې هم له خطر سره مخامخ و.

د هرج و مرج د فتنې له امله ټولنيز فساد، قتل و قتال، چور تالان، ظلمونه، وحشتونه او د مسلمانانو رنځونه هره شيبه په ډېريدو و، چې دې حالت رښتيني

Downloaded from Bawar.net

مجاهدین کوم چې د افغان مؤمن ولس د سوکالۍ، ازادۍ او سرلوړۍ لپاره یې مبارزه کړې وه سخت ځورول.

ارواښاد ملا محمد عمر مجاهد چې دغه مهال له خپلو مجاهدو ملګرو سره د کندهار په میوند ولسوالۍ کې اوسېده، د نورو واقعي مجاهدینو غوندې د دې حالاتو لیدلو ډېر زیات اندېښمن کړی و. نوموړي لیدل چې د کندهار ـ هرات پر لویه لاره ګام په ګام پاټکونه جوړ شوي او ټوله ورځ د هېواد مظلوم مسافر، ښځې او سپین ږیري د بد اخلاقه ټوپکیانو په لاس لوټل کیږي، ځورول کیږي او وژل کیږي. باید ووایـو چې دغه مهال په کندهار کې پاټکونه دومره زیات شـوي و، چې د هېواد تجـــارانو چې له هرات څخه به یې د کندهار د سـپین بولدک ولسـوالۍ د ویش باډر ته مالونه راوړل، د دې په ځای چې په عمومي لاره خپل مالونه انتـقال کړي د ډیرو پاټکونو له امله یې له هرات څخه راوړي تجارتي اموال په میوند کې ښکته کول او د ریګ له لارې یې په دښتو کې په ډیرو تکلیفونو تر ویش پورې رسول تر څو د پاټکوالو له شـره خوندي وي.

همدې بې پایه ناخوالو واقـــعي مجاهدین اړ کړل چې د فسـاد د ورکولو او د مسلمانانو د سر او مال د تحفظ په خاطر خپل وس وکړي. مجاهدینو تر خپل منځ مشـورې او غونډې پیل کړې، ملا محمد عمر مجاهد او ملګرو یې خپله لومړنۍ غونـډه د پنجوایي ولســوالۍ د زنګـاوات په ســیمه کې د ســیمې له مشـهورو او پېژندل شـویو علماء کرامو سره جوړه کړه. د روس ضـد جهاد په مهـال د کندهار د مجاهدینو د عمومي قاضي مولوي ســید محمد صـــاحب (چې په مولوي پاسـني صـاحب یې شـهرت موندلی و) په مشـــــرۍ د علماء کرامو دې غونډې ملا محمد عمر مجاهد ته وویل چې باید د فسـاد پر ضـد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



قیام وکړي او دوی ټول یې ملاتړي دي. له همدې غونډې څخه ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي تحریک اساس کېښود او د ۱۴۱۵ هــ ق کال د محرم الحرم ۱۵ نېټه د فساد او ګډوډۍ پر ضد یې د مبارزې بنسټ کېښود. د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي تحریک د فساد د مخنیوي په خاطر مبارزه پیل کړه، چې د ولس او رښتنیو مجاهدینو له پراخ هرکلي سره مخامخ شوه. لومړۍ یې کندهار ولایت او ورپسې یې د افغانستان زیاتې سیمې له بې بندوباره او فاسدو ټوپکیانو تصفیه کړې. هغه مهال چې د هېواد ډیرې سیمې د طالبانو تر تسلط لاندې راغلې وې، د ۱۴۱۶ هق کال د ذوالقعدې میاشتې په ۱۵ نېټه د افغانستان د علماء کرامو یو لوی ټولې چې شمیر یې تر ۱۵۰۰ زیات و، په کندهار کې یې د یوې غونډې په دایرولو سره د ملا محمد عمر مجاهد امارت تاید او نوموړي ته یې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ. د ۱۳۷۵ هـ ش کال د میزان میاشتې په شپږمه نېټه د افغانستان پلازمینه کابل هم د اسلامي امارت تر تسلط لاندې راغله چې ورپسې د افغانستان د ټولو مرکزي او شمالي سیمو په شمول د هېواد په ۹۵ فیصده خاوره د اسلامي امارت حاکمیت ټینګ شو.

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کې د شریعت په اساساتو ولاړ اسلامي نظام رامنځته کړ، له اوږده څنډه وروسته یې یو ځل بیا نړۍ ته د اسلامي نظام ژوندۍ بېلګه وړاندې کړه، هېواد یې له تجزیې وژغوره او هم یې د بې مسؤلیته کسانو نه د بیت المال اسلحې راټولې کړې او یو بې مثاله امن یې راووست. دا په داسې حال کې چې ټوله نړۍ د ملل متحد په شمول دې کار ته بې وسه او وارخطا وه، خو نړیوال کفري مستکبرینو دا شریعت او امارت ونه شو زغملی، نو ځکه یې په وړاندې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



دښمنانه دریځ خپل کړ او بې ځایه بهانې یې ورته لټولې ترڅو یې په پای کې ورباني په ګډه پوځي برید وکړ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د تحریک پیل د ملا محمد عمر په ژبه

**عبدالحی مطمئن** (د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد پخوانی ویاند)

د ١٣٧٥ل کال د وري په ١٦مه چې د ١٩٩٦ میلادي کال د اپرېل لـه ۴ مې سره یې سـمون خوړ، د افغانسـتان د جیدو علماوو یوه ستره غونډه په کندهار کې پیل شـوه چې په پایله کې یې ملا محمد عمر ته د «امیرالمؤمنین» لقب ورکړ. پـه وروســتۍ ورځ امیرالمؤمنین غونـډې ته وینا وکړه. زه هم د دې غونډې د خدمت کونکو په ډله کې وم او په ټول جریان کې حاضر وم. ملا محمد عمر مجاهد په دې لنډه وینا کې د تحریک د پیل لنډه کیسـه هم په خپله سـاده او عادي لهجه وکړه. دوه ورځې وروسته د بولدک د علماوو یوه وفد ته یې په لږ تغیر سره بیا هم دغه وینا وکړه، ددې دواړو ویناو غورچاڼ په دې ډول و:

( د کندهار ښـار او شاوخوا حالات دې ته ورسېدل، چې د مسلمانانو عزت او ابرو، سر او مـال هیڅ هم خوندي نه و. یوه ورځ پر سـایکل را سـپور وم، د مدرسـې خواته راتلم. پر سړک سړی ولاړ و، چې ورته را ورسېدم، سړی مړ و او په مړینې یې درولی و. دغه وحشـت او دا ډول نورو وحشـتونو مې پر ذهن بد اثر وکړ، چې کله مدرسې ته ولاړم، نور مې د دې جنایاتو مخنیوی پر ځان فرض وګـڼـه. لـه مـدرسـې را ووتم، یو بـل ملګری مې لـه ځـان سره کړ، لـه سـنګیسـار څخه زنګاوات ته راغلو. له سرور نامي کس څخه مو موټرسـایکل وغوښـت، سرور د تلوکان د کلي اوسـېدونکی و. ملګری مې پر موټرسـایکل راسره کېناوه، ملګري ته مې ویل اوس به پر مدرسـو او درسو ګرځو. ماښام ته یوه کلي تـه راغلو، پر لار مې ملګري تـه ویل دغه لارې په یاد لره. یو تغیر به ضرور راځي. سـهار بیا پر موټرسـایکل سـپاره شـوو، یوې مدرسـې ته ورغلو

Downloaded from Bawar.net

څوارلس طالبان پکې وو، دوی ته مو دعوت ورکړ، چې توکل محض له ذهنه مه باسئ، مسلمان بربادیږي، یو څو وحشي فاسقان او قاتلان نور مسلمانان هم بربادوي، غلو او فاسقانو ټوله سیمه نیولې ده، نه د چا عزت خوندي دی، نه سر او مال. پر هره لاره د خلکو ناموسونه بې عفته کیږي، بد خویه او بد خلقه خلک پر خلکو هر رنګ ناروواې کوي، موږ تاسو ته په داسې وخت کې ناسته په کار نه ده. په رڼا ورځ خلک وژل کیږي، مال یې لوټیږي، په عزت یې تجاوز کیږي. که تاسو دا سبقونه د الله د رضا لپاره وایاست، نو د الله د رضا لپاره یې پرېږدئ. د ظلم او ستم په دغه دور کې درس او تدریس نه سي کېدای، په دې ډول یا د زنده باد او مرده باد په نارو د دې کارونو مخه نه نیول کیږي. ما هغوی ته دا هم وویل چې له موږ سره هیڅا د کومک وعده هم نه ده کړې، بلکې د وطن له عامو مسلمانانو به ډوډۍ غواړو. دا هم معلومه نه ده چې خلک به ډوډۍ راکړي که نه. کېدای سي بیا د درس ویلو موقع هم پیدا نه سي او دا هم معلومه نه ده چې موږ به کامیاب سو او که نه.

ما د هغوی په غیرت راوستلو لپاره دا هم ورته وویل، چې دغه فاجران او فاسقان چې په دې سره ګرمۍ کې پر سرو ډبرو ناست وي او په ښکاره د الله نافرماني او دښمني کوي، نو موږ ولې په ښکاره د دین خدمت نه سو کولای. دومره غفلت او بې همتي مه کوئ. بیا مې خبره نوره هم ورته سخته کړه چې که موږ کوم ځای ونیو، بیا به هلته کېنو، دا شکایتونه به نه وي چې زموږ درسونه قضا کیږي، یا پیسې، وسلې او خوراک نشته. له دې خبرو وروسته مې ورته وویل چې تاسې په دې کار کې راسره دریږئ که نه؟

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


يوه هم ونه ويل چې يا كولاى سو او يا تيار يو، ټولو راته وويل چې كه د جمعې په شپه تاسې څه كولاى سواى، موږ درسره همكاري كوو (جمعه درسونه رخصت وي) ما ورته وويل چې له جمعې وروسته به يې څوک كوي؟

خداى شاهد دى ټوله كيسه همداسې وه. كه موږ توكل محض نه وى كړى او ظاهري اسبابو ته مو كتلي واى، نو نورې مدرسې به مو هم همداسې فرض كړې واى او سيده به بېرته (نااميده) خپلې مدرسې ته تللي واى، خو ما له الله سره عهد كړى و او توكل محض مې كړى و. دا ټول د توكل محض بركت و چې تر دې ځايه را ورسېدو.

له دغه ځايه بلې مدرسې ته ولاړو. هغوى ته مو خبره نوره هم سخته كړه، چې دا كار اسانه نه دى، خو هغوى ټولو چې پينځه يا اووه نفره وو خپل نومونه له موږ سره وليكل. دغه او هغه نور طالبان د يوه امت او يوه وطن خلک وو، د يوې سيمې اوسېدونكي و. داسې نه وو چې هغه د يوه امت او دا د بل امت و، يا دا عالمان وو او هغه جاهلان وو. داسې هم نه وو چې دا نارينه وو او هغه ښځې يا هغه سپين ږيري وو او دا ځوانان. په ابتدا كې د الله يو عجيب حكمت و او زه د الله له ډېر سخت امتحان سره مخ وم.

دغه د تحريک شروع وه.

موږ همداسې پر موټرسايكل گرځېدو، ان تر ماښامه مو ٢٥ نفره برابر كړل. صرف د توكل محض والا كسان وو، دوى ټولو نومونه راسره وليكل.

دوى ټولو ته مې وويل چې سهار وختي زما ځاى ته ځانونه را ورسوئ. موږ بېرته خپل ځاى ته راغلو، خو هغوى د شپې يوه بجه ټول راغلي وو. سهار

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



چې زموږ یو مولوي صــاحـب مســجـد تـه ورغی، دوی ټول له مخه لا هلته موجود وو. په دغه شپه کې ددې مولوي صاحب یوه مقتدي فرښتې په خوب کې لیدلې وې چې پاسته لاسونه یې پر بدن ور ایښي و(له دې خبرې سره ملا صاحب په ژړا شو او یو څه وخت خاموش و).

په سبا ورځ مو دوه موټروانان هم برابر کړل او په لس بجې مو حاجي بشیر ته ســړی ولیږه. له هغه مو دوه موټران او یو څه وســله وغوښــتله، هغه موټران او وســله راکړه. موږ کشــکِ نخود (د کندهار هلمند تر مینځ د میوند ولســوالۍ مرکز) ته راغلو او هلته مو نور کسان هم برابر کړل. چې ډېری سو، نو مو وسلې واخیستې او له خپله ځایه په پینځه میله فاصله کې مو خپل کار شروع کړ.)

ملا صاحب د خبرو په اخر کې وویل چې موږ ستره دعوه کړې. دا دعوه ستر امتحانات لري، دا کار توکل محض ته ضرورت لري، په خوله دعوه اسانه ده، خو عملي امتحـان ســخـت دی. هغـه دا هم وویـل چې ای دیني عـالمانو زه ســتاســې همکاري او رهنمایۍ ته مجبوره یم، ځکه زه د وړو کتابونو طالب (شـاگرد) یم، که تاسـو د الله د دین په نفاذ کې زما سـمه رهنمایي ونکړه، نو د اخرت په ورځ به زما لاس او ستاسې گرېوان وي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


# په کندهار کې د هېواد د ديني عالمانو ستره غونډه او ملا محمد عمر ته د اميرالمؤمنين لقب ورکول

**عبدالحی مطمئن** (د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد پخوانی وياند)

د ۱۹۹۶ ميلادي کال پسـرلی مارچ مياشت کې عالي شورا مشـرتابه ته دا نظر ورکړ؛ که د عمومي وضـعيت او جنگ په اړه د ټولو مفتوحو سـيمو او په بهر کې د مهاجرو علماوو يوه غونډه دايره کړو، چې د هغوی مشورې، هدايات او تايد ترلاسـه او راتلونکي کارونه مو نور هم د ديني اصـولو او اوامرو چوکاټ کې تنظيم کړو.

ويـل کيږي چې د دې کار مشـوره اول مولوي جلال الدين حقاني د مولوي احسان الله احسان له لارې شورا ته راليږلې وه، چې د دې جگړې د مشـروعيت او ضرورت په اړه د هېواد له ديني علماوو نه شـــــرعي هدايات او ازاده رايه واخلئ. مولوي احسان الله د شورا له نورو غړو سره دا مشوره شـريکه کړې وه او بيا مشـرتابه ته وړاندې شوې وه.

د غونـــډې لپاره د کندهار ښـار ميخانيکي ښـوونځی غوره شـو، چې پراخې ودانۍ او د يوې سـترې غونډې وړ تالار يې درلود. د ښوونځي په دروازه کې يو موقتي دفتر خلاص شو چې د راتلونکو مېلمـــنو نوم او ولايت به يې ثبتول او بيـا يې د هغوی د اوسـېدو لپاره د مناســب اطاق کيلياني د هغوی مؤظف خادم ته سـپارلې. ددې دفتر مسؤل مولوي حمدالله نعماني و، چې دا وخت د اطلاعاتو او کلتور لوی رياســت اداري مدير و. ورسره د مېلمسـتون مشـــــر مرحوم احمـد علي خـان متقي د غونډې نورې چارې تنظيمولې. موږ ځو تنه نور ملگري هم ورسره همکـاران وو. کوم علماء چې بـه په يو ځای راغلي وو او غوښـتل به يې چې په يو ځای اووسي، هغوی ته سـتر سـتر مجهز اطاقونه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


ورکول کېدل. څوک چې تنهـا او یو دوه یا درې تنه وو، هغوی ته د هغوی د اوسـېدو وړاطاقونه ورکول شـول. په اطاقونو کې ټولې اسـانتیاوې ورته برابرې شوې او د خدمت لپاره یې معلوم کسان مؤظف وو. له دې ودانیو علاوه ځینې مېلمانه د ولایت په مېلمســتون او د میوند هوټل په ودانیو کې هم اوســېدل. د کندهار اوسېدونکي اکثر علماء د شپې بېرته کورونو ته تلل.

غونډه د ۱۳۷۵ لمریز کال د وري د میاشتې په ۱۴ مه نېټه چې د ۱۹۹۶ میلادي کـال د مارچ له ۳۰ ورځې سره یې ســمون خوړ پیل شــوه او په درېیمه ورځ غونډې ته ملا محمد عمر هم راغی. د ماسپښین له لمانځه مخکې ملا محمد عمر مجاهد خپله وینا پیل کړه. د تحریک د پیــــل کولو ټوله کیسه یې په لنډ ډول بیان کړه. د وینا مینځ کې یې وژړل او تقریباً ټول محفل ورسره وژړل.

مولوي احسـان الله احسـان د خپلې وینا په ترځ کې په احسـاسـاتي ډول ناستو علمـــاوو ته په شـخصــــي توګه وړاندیز وکړ چې موږ باید خپل مشــــر ته د امیرالمؤمنین نوم ورکړو، نـاســتو علماوو په یو اواز د دې هرکلی وکړ. مولوي احسان الله له علماوو نه د بیعت غوښتنه وکړه. بیعت شـــروع شو، ملا صاحب حیران ولاړ و، زړه نا زړه شـو، ځکه چې د لقب دا ټول کار ورته تصـادفي و. علماوو له هغه سره په لاس بیعت پیل کړ، د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې او بدن یې په لړزېدو شــو. ماحول یو ډول جذباتي و، یو خوا د ملا صــاحب سـاده او صـادقانه وینا اغېزناکه وه، بل پلو مولوي احسان الله خلک نور هم په جذباتو راوســتل. ما له یو دوو مشـــــرانو ملګرو نه پوښــتنه وکړه چې د لقب اعلانول پـه پروګرام کې وو؟ هغوی وویل چې نه هیڅکله داســې خبره نه وه شــوې او نه ملا محمد عمر دا ډول غوښــتل، خو د مولوي احســان جذباتي چیغې او د علماوو هرکلي ملا صــاحب هم له انکاره راوګرځاوه. هغه علماء

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


چې په شخصي توگه په ښار کې یا له وسله والو طالبانو سره د هغو په اطاقونو یا هم
هوټل یا بل ځای کې اوسېدل، له هغوی پرته یواځې هغه علماء چې د غونډې د منتظمینو له خوا یې نومونه ثبت شوي وو، تعداد یې د څوارلس ـــ پنځلس سوو تنو تر مینځ و.
په غونډه کې د عالي شورا له غړو نه مولوي احسان الله احسان، ملا محمد رباني، ملا بورجان، ملا نورالدین ترابي، مولوي وکیل احمد متوکل او یو څو نورو غړو هم گډون درلود.
د غونډې په پای کې علماوو د برهان الدین رباني واکمني په هېواد کې د نه حاکمیت او پر پاټک سالارانو د نه تسلط له امله غیر مشروع وگڼله. استاد رباني یې واجب العزل اعلان کړ او په زور یې د هغه د گوښه کولو فتوی ورکړه. دغه اعلان او د امیرالمؤمنین لقب په مطبوعاتو کې د مخالفینو غوغا راپورته کړه.
له غونډې وروسته د عالي شورا له خوا علماوو ته هغه فورمې توزیع شوې چې په کې د مختلفو چارو په اړه له علماوو نه هدایت او مشورې غوښتل شوي وې. همدا راز له علماوو نه د عامو مشورو غوښتنه هم شوې وه. څلورمه ورځ موږ فورمې په بوجیو کې راوړې، ځکه ډېرې زیاتې وې او د دې لیکلو هدایاتو او مشورو د بررسۍ لپاره یوه کمېټه هم وټاکل شوه، چې دغه هدایات یو یو ولوستل شي.
ددې غونډې له برخه والو علماوو نه د څو علماوو نومونه چې زما په حافظه کې پاتې دي، د بېلگې په توگه یې راوړم:
**کندهار**: شیخ الحدیث مولوي عبدالعلي دیوبندي، قاضي مولوي سید محمد (مولوي پاسنی)، شیخ التفسیر مولوي عبدالسلام، مولوي عبدالودود، ثاني

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مولوي عبیدالله، مولوي غلام حیدر، شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم، شیخ الحدیث مولوي عبدالغني، مولوي عزیزالله، مولوي سدوزی.

**هلمند**: مولوي محمد خواص، مولوي عبدالرؤف، مولوي عبدالواحد، مولوي محمد، مولوي مطیع الله.

**زابـــل**: مولوي عبدالغفور سنایي، مولوي عنایت الله غبرګوي، مولوي سیف الرحمن اخندزاده، مولوي محمد نعمان او سلګونه نور.

**غزني**: مولوي محمد ابصـــــر، مولوي حیات الله (کاکا)، مولوي عبدالباري، مولوي فیض الله، مولوي عبدالستار، مولوي رضا خان، مولوي عبدالبصـیر (ریس)، مولوي علم ګل، مولوي محمد غیور، مفتي رحمت الله دیوبندي.

**میدان**: یوسف خېلو اخندزاده صاحب، مولوي رفیع الله موذن، مولوي محمد ملوک.

**کـابـل**: شـیخ الحـدیـث مولوي تره خېل، مولوي نور محمـد ثاقب، مولوي احمدالله، مولوي عبدالله جان، مولوي عبدالقدوس.

**پکتیکـا**: مولوي حمیـدالله فایض، مولوي محمد فرید محمود، مولوي محمد یعقوب، مولوي محمد عمر، مولوي راز محمد.

**پکتیـا**: مولوي خلیـل الله فیروزي، مولوي فضـــل الرحمن، مولوي حمـدالله نقشبندي، مولوي اعظم ګل.

**خوست**: مولوي عبیدالله، مولوي سید وسیم، مولوي عبدالرحیم بلالي، مولوي عاقل محمد ځنیخېل.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**لوګر**: مولوي موســـى جـان، مولوي فضـــل احمد، مولوي محمد مير، مولوي محمـد نعيم، مولوي محمـد صـــادق، مولوي فرقـاني، مولوي شـــهاب الدين دلاور.

**ننګرهار**: مولوي عبدالقادر، مولوي محمود شـــاه (قاري محمود شـــاه )، قاري الهام الدين، مولوي عبد الرشيد، مولوي عبدالباقي، مولوي سيد رسول.

**کنړ**: شيخ عبدالقادر اسعد ابادي، مولوي نور جلال.

**لغمان**: مولوي سعيد الرحمن.

**هرات**: مولوي خدايداد، مولوي جليل الله مولوي زاده، حســـن وثيقي (داهل تشيع يو تن عالم)

**فارياب**: مولوي عبدالرحمن.

**بلخ**: مولوي عبدالصمد.

**فراه**: مولوي نجيب الله.

**کندز**: د ګجرو اخندزاده صاحب.

**بغلان**: مولوي محمد مسلم.

**باميان**: مولوي محمد اسلم.

دا هغه نومونه دي چې زما په حافظه کې تر اوسه پاتې وو. په دې غونډه کې د هېواد د ټولو برخو جيدو او نامتو علماوو ګډون کړی وو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د ملا محمد عمر مجاهد قیادي شخصیت

ملا محمد عمر مجاهد د یو قیادي شــخصــیت په توګه د ځانګړي طبیعت او سلیقې څښتن و. نوموړي د نړۍ د نورو چارواکو او لوړ رتبه مشـرانو برعکس له ځان ښکارونې او تظاهر څخه کرکه درلوده، له اړتیا پرته یې خبرې نه کولې، خو د ضرورت پـه وخـت کې یې خبرې بیـا ډېرې پخې، ســنجول شــوې او معقولې وې.

د بیلګې پـه توګـه پـه افغـانســتـان باندې د امریکایي یرغل په پیل کې چې د امریکـایـانو له لوري د اســلامي امارت د له منځه وړلو او په تبلیغاتي لحاظ د مجـاهدینو د مورال کمزوري کولو لپاره امریکایي هڅې ډېرې ګړندۍ روانې وې او ټولې غربي رسـنۍ، راډیویي او ټلویزیوني شـبکې ورته وقف وې، ملا محمد عمر مجاهد د دغو ټولو شـیطاني تبلیغاتي هلو ځلو په وړاندې په خورا مطمینه او ډاډمنه روحیه سره په خپلو عام فهمه او ســاده خبرو کې خپل ملت تـه د اطمنان او ډاډ ورکولو داســې معنا لرونکی پیغام ورکړ: «الله تعالی په هر څـه قـادر دی پـه الله تعـالی باندې د امریکا او د یوه میږي(میږتون) د قدرت هیڅ فرق نشـته، امریکایان او د هغوی ملګري دې دا خبره په غور سره واوري چې اســلامي امـارت داســې نظـام نه دی چې امیر به یې لکه ظاهرشــاه (د افغانستان پخواني پاچا) غوندې روم ته ولاړ شي او عسکر (افراد) به یې تاسو ته تسلیم شي، بلکې دا د جهاد منظمې جبهې دي.

که تاسـو ښـارونه او پایتخت لاندې او اسـلامي امارت ړنګ هم کړی، زمونږ مجاهدین به وطنونه او غــرونه درته ونیسـي بیا به تاسو څه کوئ؟ بیا به لکه د کمونستانو غوندې په هر ځای کې وژل کیږئ!

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



تاسې پوه شئ چې ګډوډي رامنځته کول اسانه ده خو بیرته د ګډوډۍ له منځه وړل او نظام جوړول خورا ګران کار دی.

مرګ حق دی او هر چاته راځي، نو چې د امریکا په ملګرتیا کې د بې ایمانۍ او بې غیرتۍ په حالت کې وي دا به ښه وي او که په اسلام کې له ایمانه سره د غیرت په حالت کې شهادت؟»

ښايي په هغه وخت کې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په دغه عقیدوي وینا د ډیرو ښاغلیو پوره سر نه وي خلاص شوی، خو اوس چې د دغې نا انډوله حیرانوونکې معرکې له پیل نه ١٦ کاله تېرېږي او د امریکایانو په شمول د ناټو تړون او د هغوی ټول ایتلافیان د ملا محمد عمر مجاهد د تش لاسو عقیدوي مجاهدینو په مقابل کې له ښکاره ماتې سره مخامخ شوي، د نوموړي د هماغې تاریخي وینا په حقیقت به یې سر خلاص شوی وي.

دغه راز نوموړي د امریکایي یرغل په پیل کې افغان ولس ته د یوې راډیویي وینا په ترڅ کې یرغلګرو او د هغوی ګوډاګیانو ته په اشارې سره وویل:

« وسلې مرګ کولای شي، خو مرګ ګرځولی نشي » یاده شوې جمله همغه مهال ځینو ته یو بې مفهومه ترکیب ښکارېده، خو دا دی په تیرو ١٦ کلونو کې د یاد مضمون عیني مصداق نړیوالو د سر په سترګو ولید چې یرغلګرو ځواکونو د خپلې پرمختللې ټیکنالوژۍ او وسلو په زور ډېر مرګونه وکړل، خو له ځانه یې مرګ ونشو ګرځولی او له خپلو ټولو پوځي پرمختللو امکاناتو سره سره په سلګونو زره پوځیان د اتلو مجاهدینو په لاس مړه او ژوبل شول او له افغانستان څخه پر شاتګ ته مجبور کړای شول.

دا هغه عیني واقعیت دی چې اوس په پرمختللو وسلو او تجهیزاتو سمبال مغرور یرغلګر ځواکونه هم په افغانستان کې د خپلو زرګونو پوځیانو د مرګ ژوبلې ښکاره اعترافونه کوي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مرحوم ملا محمد عمر مجاهد له ډېرو ویلو لږ عمل غوره باله، د نوموړي ژوند له تکلفي تشـــــریفاتو ډېر صفا او پاک و، ساده ګي او بې تکلفه حالت یې د ژونـد په ټولو اړخونو احتوا کړې وه. ســـاده لباس، ســـاده خوراک، بې تکلفه خبرې، بې تکلفه ناسته ولاړه یې فطري عادت و. تکلف، متکلفین او متکلفانه کړه وړه یې هیڅ نه خوښېدل.

نوموړي قـاطع والی، تـدبر او اخلاص د کـارونو د پرمختـګ لامـل بـالـه او د ملګرو له منځه یې هغه څوک ډېر خوښېده چې مدبر، اخلاصمند او جدي به و. همدارنګه نوموړي له مشـکلاتو، مصاحبتونو او کړاونو سره ښه ځان عادت کړی و، د هر ډول لویې حادثې او مشـکل پېښېدلو په مقابل کې یې وضعیت کـاملاً عـادي و، وېره او وارخطـایي یې په زړه کې نه ورتېرېده. د خوښـــۍ او مصـاحبت، کامیابۍ او ناکامۍ په مهال کې یې پر خپل ځان خورا ښه کنترول درلود او مطمین به و. د علماوو او مشـــــرانو یې ډېر درناوی کاوه. سـنګیني، وقـار، حیـاء، ادب، متقـابـل احترام، خواخوږي، ترحم او اخلاص یې طبیعي خصـــلتونـه و. کلـک عزم او پـه ټولو کارونو کې پر یوه الله توکل او د هغه پر مقدراتو ریښتونی باور یې د ژوند ځانګړي مشخصات و.

همـدا لامل دی چې ملا محمد عمر مجاهد د خپلو لارویانو او مجاهدینو په زړه کې داســـې محبوبیت پیدا کړی و چې، د هغه تعلق نه په ظاهري منصـــب پورې و او نه په مادي امکاناتو پورې. د امریکایي یرغـل پر خلاف د جهاد په کلونو کې د هغه تر مشـــــرۍ لاندې عام مجاهدین ماســوا له دې چې هغه مخامخ ووینې یواځې د هغه شــفاهي او مکتوبي اوامرو ته په داســـې احترام قایل و، چې د تعمیل لپاره یې آن د خپل سر قربانول هم نه دریغول.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د نړیوالو اسلامي قضایاو په اړه یې اهتمام

ملا محمد عمر مجاهد د طالبانو د اسلامي تحریک د مؤسس او د مسلمانانو د یوه مشر په حیث د اسلامي امت د قضایاوو په اړه خاص اهتمام درلود.
د مسلمانانو د لومړی قبلې مسجد اقصی او د فلسطیني مسلمانانو له برحقې داعیې او د نړۍ په لر او بر کې له داسې نورو اسلامي قضایاوو یې همیشه دفاع کوله او له غاصبو صهیونستانو څخه د مسجد اقصی ازادول یې د هر مسلمان شرعي مسؤلیت ګاڼه.
مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي امت په درد دردمند مشر و، او له مسلمانانو ورونو سره اخوت، همدردي، ایثار او همکاري یې یواځې شعاري نه، بلکې عملاً یې هم ثابته کړې وه.

## عقیدوي او فکري انتماء

ملا محمد عمر مجاهد په عقیدوي او فکري لحاظ د مسلمانانو د اهل السنة والجماعة د منهج لاروی او د حنفي مذهب مقلد و.
د خرافاتو او بدعتونو سخت مخالف و، د مسلمانانو تر منځ یې مذهبي، فکري او تنظیمي اختلافات هیڅ نه خوښېدل. خپلو مجاهدینو او ټولو مسلمانانو ته یې په خپلو منځونو کې د اسلامي وحدت او فکري همغږي په ټینګولو توصیه او ټینګار کاوه. د مسلمانانو تر منځ یې عقیدوي وحدت او یووالی د وخت تر ټولو اهم ضرورت باله او د قران او احادیثو په رڼا کې یې د سلف صالحینو او ائمه مجتهدینو په نقش قدم رفتار کول د اسلامي امت د نجات اساسي وسیله ګڼله.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## شخصي ژوند

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد چې د ژوند زیاته برخه یې د دیني علومو په زده کړه او مطالعه، جهاد، دعوت او د اسلام د لارې په خدمت کې تیره کړې. د افغانستان د معاصرو چارواکو په جمله کې شاید تر ټولو نیستمن او د بیت المال له شتمنیو څخه نه استفاده کوونکی شخص وبلل شي؛ ځکه نوموړي نه د تېر جهاد په مهال له خپل جهادي نفوذ څخه په استفادې سره د خپل شخصي ژوند د برابرولو په اړه څه کړي او نه یې په افغانستان باندې د امارت د «۷» کلنې واکمنۍ په مهال کې.

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د وفات تر وخته نه کوم د اوسیدلو عادي کور په ملکیت کې درلود او نه هم د بهرنیو هېوادونو په بانکونو کې نغدي شتمنۍ. په کال ۱۳۷۸ هـ ش ۱۹۹۹م کې چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ له لوري په افغانستان باندې ظالمانه اقتصادي بندیزونه ولګېدل او په بهرنیو بانکونو کې د طالبانو د مشرانو د مالي حسابونو د کنګل کیدلو حکم وشو، مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د افغانستان د اسلامي امارت د امیر په توګه د امارت تر ټولو لوړ رتبه شخص و چې نه یې د افغانستان په داخل کې او نه له افغانستان نه بهر په کوم بانک کې نه په خپل شخصي او نه هم په مستعار نوم مالي حساب درلود.

د امارت د حاکمیت په مهال چې د نوموړي استوګنځی د دښمنانو له لوري تر مرګونو بریدونو لاندې راغی او د فامیل د نږدې افرادو په شهادت سربېره د ګڼو نورو کسانو د شهادت لامل هم وګرځېد، نو د امارت ځینو چارواکو د

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



نوموړي د حفاظت په مقصـد د کندهار ښار په شمال کې د بابا صاحب د غره د کوتل لاندې سيمه کې چې نيږدې خوا و شا يې کومه ولسـي ابادي نه وه، د نوموړي لپاره يو استوګنځی او د اسلامي امارت د مقام دفتر جوړ کړ، چې هغه هم د تصـرف په لحاظ د بيت المال له عمومي ملکيتونو څخه ګڼل کيده نه د نوموړي شخصي ملکيت. په کال ۱۳۷۵ـ هش ۱۹۹۶م کې چې کله د هېواد د يونيم زر علماوو او مخورو له لوري نوموړي ته د اســلامي امارت د امير لقب ورکړل شو، نوموړي د دې په ځای چې د امارت د ورسپارلو له امله د خوښۍ احسـاس وکړي دومره وژړل چې خپل د اوږې لوی څادر يې په اوښکو لوند او د غونـډې پـه پـای کې يې حـاضرو علماوو تـه پـه خپلې تاريخي وينا کې داسې وويل:

« اې علماوو! تاسو د خپل شــرعي علم له مخې د حضـرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د وارثانو حيثيت لری، تاسو چې نن ماته دغه دروند مسؤليت پر اوږو را واچاوه په حقيقت کې د هغه د اســتقامت او انحراف مســؤليت ټول ستاسو پر غاړه دی!

اې زموږ اسـتاذانو درنو علماوو! که خدای مه کړه له موږ څخه د مسلمانانو په دې سـتر امانت کې څه تقصـير او انحراف پېښـيږي د هغه سـمونه او اصـلاح ستاسو شـرعي مسؤليت دی، تاسو به د خپل شـرعي علم په رڼا کې مونږ ته د استقامت او په حقه لاره د تللو حتمي لارښوونه کوئ، که چيرې له مونږ څخه د اســلامي احکامو د تنفيذ په اړه کوتاهي يا انحراف رامنځته کيږي او تاســو هغه وينی او د اصلاح په اړه يې څه نه واياست، د هغې پړه به د الله په نزد ټوله

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


ستاسو په غاړه وي او زه به د سوال او ځواب په ورځ ستاسو گریوان ته لاس در اچوم.»

## طبیعت او شخصي مزاج

ملا محمد عمر مجاهد د خپلې خاموشۍ تر څنگ یو ډول خاص ظرافت او خوش طبعي هم درلوده، نوموړي په هیچا باندې که څه هم په هر لحاظ تر ده کشـر و ځـان لوړ نه گاڼه، له خپلو ملگرو سره یې برخورد ډېر مینه ناک، صـمیمانه، باشـفقته او له متقابل احترامه ډک و، په مجالسـو کې یې زیاتره د جهاد په اړه بیانونه کول.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## له امریکایي یرغل وروسته

له امریکایي یرغل وروسته ستونزمنو امنیتي شــــرایطو او د دښـمن له لوري سخت جدي تعقیب د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په معمولي وظایفو او د اســـلامي امـارت د زعیم په توګه د جهادي چارو په تعقیب او تنظیم کې کوم تغیر نه را ووست.

په دې وخت کې چې نوموړی په افغانستان کې په مخفي شکل اوسیده، خپله کـاري ورځ یې د الله عز وجل په عبادت او د قران کریم په تلاوت پیلوله او د فرصت په مهال یې د قرآن کریم د بېلابېلو تفاسیرو او احادیثو مطالعه کوله. د یرغلګرو پـه خلاف د جهـادي چـارو مراقبـت یې ډیر په جدیت سره کاوه. د جهادي او پوځي امورو د ترتیب او ســمبالښـــت په غرض یې په معینه طریقه جهادي قومندانانو ته اوامر او توجیهات صادرول. د جهادي نشـراتي منابعو او نړیوالو خبري رسـنیو له تعقیب څخه یې د یرغلګرو خلاف جهادي بریاوو او نورو موضـوعاتو معلومات ترلاسـه کول او له همدې لارې یې د هېواد او نړۍ له ورځنیو پېښو ځان خبراوه.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## دویم څپرکی

### د امیرالمؤمنین رحمه الله وفات او تاثرات

له ټول عمر جهاد، دعوت، اصـلاح، فداکاریو او سرښـندنو وروسـته له الهي قضـا او تقدیر سره سم بالاخره دغه فداکاره مجاهد، د اسلامي امارت مؤسس امیرالمؤمنین ملا محمـد عمر مجاهـد لـه دې فـاني نړۍ د ابـدیـت پـه لوري وکوچېد.

هغه امیرالمؤمنین چې د واکمنۍ هره لحظه یې له تاریخي کارنامو ډکه وه.

هغـه امیرالمؤمنین چې د اسـلامي امـارت پر مهـال یې پـه افغـانسـتان کې د شـریعت ځنډېدلي احکام یو ځل بیا نافذ شول.

هغـه امیرالمؤمنین چې د واکمنۍ پر مهـال یې د افغـانسـتـان حکومتي نظـام اسـلامي شـو، اقتصاد اسلامي شو، بهرنۍ سیاست اسلامي شو او د حکومت د ټولو احکامو یواځنۍ مرجع قران کریم، نبوي احادیث او اسلامي فقه وګرځول شوو.

همـدې امیرالمؤمنین د یرغلګرو د اشـغال په مقابل کې پوره ۱۲ کاله په ډیرو ستونزمنو شـرایطو کې د ټولې کفري نړۍ په مقابل کې د یوه جهادي مقاومت حیرانوونکی قیـادت وکړ. داسـې قیـادت چې پوځي تکتیکونو او محاربوي نزاکتونو یې د نړۍ د پوځي اکاډیمیو ماهرین ګوته په غاښ او د امریکا او ناټو تر ټولو مغرورو قومندانانو یې نظامي وړتیا ته د تسلیمۍ سر ټیټ کړ. نوموړي قاید د نړیوال صـلیبي ایتلاف په وړاندې دغه معجزانه قیادت د خپل هېواد له سـپېرو کلیو او ختېنو کورونو څخـه رهبري کړ. هغـه پـه دې ټولې ۱۲ کلنې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



جهادي دورې کې هم د عصـــري الکترونيکي وسايلو له استفادې څخه بې پروا و او هم د معاصرې نړۍ د مصنوعي سپوږمکيو د تخنيک له کارولو څخه مستغني.

هغه به په خپلې ځانګړې طريقې له مجاهدينو سره په تماس کې و، خو دښمن يې نه د هستوګنې ځای معلوم کړای شو او نه يې د مقاومت له لومړۍ کرښې سره د مداوم ارتباط څرک ولګاوه.

ريښـــتيا هم چې ملا محمد عمر مجاهد پـه جهـادي قيادت کې د کليوالي تکتيکونو پـه کارولو سره د غربي نړۍ د کشـــف او څار پرمختللې تکنالوجي وننګولـه، ځکـه هغوی لـه خپـل ټول تخنيکي تفوق سره سره نـه د ده د ځای ځايګي درک ولګاوه او نه يې هم د خپلو پرمختلليو تسليحاتي وسايلو په مټ د هغه له جهادي ګوزارونو څخه ځان خوندي کړای شو.

هوکې! ملا محمد عمر مجاهد د ۲۱ پيړۍ زاهد واکمن و، داســې واکمن چې خپله واکمني يې د الله د کلمې تر لوړوالي زار کړه.

همدې زړور او نوښـتګر قايد بالاخره لــــه الهي قضـا او پريکړې سره سـم د ۱۳۹۲هــــش کال د ثور د مياشـتې په څلورمه نېټه خپله روح د هغې حقيقي مالک ته وسپارله او له فاني نړۍ څخه يې د تل لپاره سترګې پټې کړې.

انا لله وانا اليه راجعون...

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات

**یادونــــه:** د ملا محمد عمر مجاهد پخواني ویاند ښاغلي عبدالحی مطمین په خپـل کتاب (ملا محمد عمر، طالبان او افغانســتان) کې د امریکایي یرغل په پیـل کې د ملا محمـد عمر مجاهد د خفیه ځای د انتخاب او بالاخره د وفات په هکله لیکنه کړې چې دلته یې په یو څه لنډیز سره را اخلو:

له کومــې ورځې چې ملا محمد عمر له کندهار ښاره د ټولو وسله والو طالبانو له وتلو وروسته په خپله یوه سراچه موټر کې تنها له څو ملګرو سره ووت او له هغه ځایه سیده د زابـل سورخوګانو سیمې ته لاړ، هلتـه یې د سیمه ییزو طالب قومندانانو یوه غونډه راوبللـه او د جهاد د بیا پیـل لپاره یې دغـو قومندانانو تـه څه پیسې او مصارف هم ورکړل او وخت یې هم ورته وښوده.

په دې قومندانانو کې اکثـره اوس په دنیا کې نشـته، لکه ملا عبدالـرزاق نافـذ، ملا روزي خان، ملا محمد ګل نیـازی، جهـادیـار او یو شمـېر نـور... لـه هـغه وروسته ملا محمد عمر له خپلې یوې مختصـرې ډلې سره په زابل ولایت کې په خپله د وسله وال جهاد اراده لرلـه او ویل کیږي چې په ځینـو نښتـو کې یې برخه هم واخیسته، خو بالاخره ملګرو ورته وویل چې ستا وجود او بقاء د ټول تحریک لپاره حیاتي موضوع ده. ستـا پوځي عملیات دومره مهـم نه دي، لکه رهبریت. همغه و چې ملا محمد عمر د ملګرو په تاکید او مشوره ځان ګوښه کړ او د یو څو مخلصینو په ملتیا یې په یوه غرنۍ سیمه کې استوګنه غوره کړه. هغه لومړی د خپلو خاصو مخلصانو یو کور انتخاب کړ. بیا یې له څه مودې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



وروسته بل کور انتخاب کړ چې بالاخره یې په همدې کور کې یوه وړه ساده خونه د ده د استوګنې لپاره برابره کړه. په دې خونه کې یې د اوداسه ځای او یو ساده تشناب هم ورته جوړ کړل. ملا محمد عمر مجاهد تر وروستۍ سلګۍ په همدې کور کې مېشت و.

د دوه زره دریيم میلادي کال په لومړیو کې ملا محمد عمر یو کېسټ خپلو مجاهدینو او مشرانو ته راواستوله. ما د مشر دوهم کېسټ په ۲۰۰۷ میلادي کال کې واورېده. وروستی ځل مې د مشر دریيمه کېسټه د ۲۰۰۹ میلادي کال په وروستیو کې اورېدلې وه چې اواز یې ډېر زهیر او له غړه یې ناروغي ښکارېدله. په ډېر مشکل یې اواز راووت. یو شی چې په دې کېسټ کې ډېر واضح و، هغه د ملا محمد عمر په اواز کې د تنفسي یا سینې د ناروغۍ څرګندې نښې وې، دغه ټولې کېسټې اوس هم د مشر له ځینو نږدې ملګرو سره خوندي دي.

د ملا محمد عمر لپاره د قاصد طریقه دا وه چې هغه به لومړی یوې بلې ولسوالۍ ته تللو، بیا به یې هلته د ملا محمد عمر له لوري له ورغلي قاصد سره خبره شریکه کړه، بیا به یې له همدې لارې د ملا محمد عمر پیغام یا کېسټ ترلاسه کوله. دا کار به کله په دوه میاشتې کله له دې هم کم وخت کې ترسره کېده، خو ډېر وخت به له دې زیات ځنډ راته. کله به چې کومه ډېره نوې حادثه رامینځته شوه، نو بیا به قاصد ډېره هڅه کوله چې د یوې هفتې او لسو ورځو ترمینځ پیغام تبادله کړای شي. د ۱۳۹۲هجري کال د وري د میاشتې وروستیو ورځو کې د ملا محمد عمر ناروغي سخته شوې وه، کوربه لومړی هغه ته یو معتمد سیمه ییز ډاکټر راوستی و، خو ډاکټر د ناروغۍ مترقي حالت

Downloaded from Bawar.net

تـه بې وســه و، او کوربـه تـه یې ویلي وو، چې دا ناروغ باریکو ټېســټونو او تفصیلي علاج ته اړتیا لري. قاصد په دې ورځو کې نه و ورغلی، کوربه اړ شو چې له دې حالته کورنۍ او مشـرتابه خبر کړي. کوربه سفر کوي او لومړۍ یې کورنۍ خبروي. د ملا محمد عمر زوی مولوي محمد یعقوب او نسـبتي ورور مولوي عبدالمنان ته یې خبر ورکړ. کله چې هغوی د تللـو تابیه ونیوله، مازیگر ناوخته روان شول. پر لار یې شپه شوه، پر سبا یې خبر راغی چې ملا صاحب وفات شــو. ملا محمد عمر مجاهد د ۱۳۹۲ هجري کال د ثور د میاشــتې په ځلورمه نېټه چې د ۲۰۱۳ میلادي کال د اپرېل له ۲۴مې سره یې سـمون خوړ، د چهارشــنبې ورځ پر مازیگر مهال سـا ورکړه. د ملا محمد عمر مورنی ورور ملا عبـدالمنـان او زوی یې ملا محمد یعقوب څو ورځې وروســته ورغلل او خاورو ته یې وسـپاره. دوی دواړه وایي چې د ملا محمد عمر وجود سـالم و، خو د سختې ناروغۍ اثار وربانديې ښکارېدل.

د ملا محمد عمر زوی او ورور وایي چې کال وړانـدې لا د ملا محمد عمر له ناروغۍ خبر وو، خو دومره جدي یې نه گڼله او کوربه وایي ملا محمد عمر له څو کالو راهیســې د سـینې ناروغي لرله. د سـیمه ییزو ډاکټرانو لخوا ترلاسـه کېـدونکي درملو کـار نـه ورکـاوه او پـه خپلـه ملا محمـد عمر هم د تـداوۍ کوښـښ نه کاوه، بلکې عادي یې گڼله او په وروستي کال چې تکلیف زیات شــو، موږ تـه یې د تـداوي پـه نیت بل ځای ته د انتقال اجازه نه راکوله، چې بالاخره یې درد ټول وجود ته سرایت وکړ، چې دا د پرمختللي ټي بي ناروغـۍ علامه وه، خو په بیمارۍ کې یې تر مرگه شکایت نه کاوه.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات د اعلان په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورى او د مرحوم د کورنۍ اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمدلله،نحمده،ونستعينه،ونستغفره،ونتوب إليه،ونعوذبالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا،من يهده الله؛ فلا مضل له،ومن يضلل؛ فلا هادي له. ونشهد أن لا اِله اِلا الله وحده لا شريک له،ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيرا.

أما بعد. فقد قال الله تبارک و تعالى:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللّهِ كِتَابًا مُؤَجَّلًا وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الْآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ١٤٥وَكَأَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قَتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ١٤٦وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَ إِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَ ثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ١٤٧ آل عمران.

ژباړه: او هيڅ يو کس لره دا واک نشته چې مړ شي مگر د الله تعالى په حکم سره په ليکل شوې ټاکلې نېټه به مري، او څوک چې د دنيا اجر غواړي نو له همدې يې برخه ورکوو او څوک چې د اخرت اجر او ثواب غواړي نو له هماغه يعني اخرته يې ورکوو، او زر به شاکرينو ته ښه بدله ورکړو.

او ډېر داسې نبيان دي چې په خوا کې يې ډېر خدای پالوونکي جنگېدلي دي، خو د الله په لاره کې د ور رسېدلو مصاحبتونو له امله نه سست شول، نه کمزوري شول او نه يې سرټيټي وکړه او الله همداسې صابرين خوښوي.

او ددوی له دې پرته بله خبره نه وه چې ويل به يې:

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



اې زموږ ربه! ګناهونه مو راوبښــه او په خپلو چارو کې زموږ تیری راوبښــه او پښې مو ټینګې کړه او پر کافرانو نصرت او بریا راکړه.

مرګ حق دی موږ پر دې ایمان لرو چې لـه الله تعالی پرته هر موجود د مرګ سره مخ کیږي. حتی د الله تعـالی تر ټولو محبوب مخلوق، د دوو جهـانونو سردار حضـرت رسول اکرم محمد صلی الله علیه وسلم هم د مرګ څکه کړې او له دنیا څخه یې رحلت کړی دی.

همدې حقیقت ته په پام سره د افغانستان د اسلامي امارت مشـــرتابه او د ملا محمد عمر مجاهد کورنۍ اعلانوي چې د اســلامي امارت مؤســس او زعیم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د ورپېښــې شوې ناروغـــۍ له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او له دې فاني جهان څخه یې رحلت وکړ.

انالله وانا الیه راجعون.

رحمه الله تعالی رحمة واسعة

ملا محمـد عمر مجـاهد رحمة الله علیه د اســلامي امت یو ویاړلی او مخلص رهبر و چې په ډېرو سختو شـــرایطو کې یې د اسلامي حاکمیت لوېدلی بیرغ راپورته کړ، د اســلامي امارت تر نامه لاندې یې یو بشــپړ منظم او د اســلامي سیاست پر اصولو برابر شـــرعي نظام تأسیس کړ، الله تعالی د ده په توسط نه یوازې د افغانسـتان په سـطحه مومنانو ته د اسلامي نظام نعمت ور ولید، بلکې درست جهان ته یې د واقعي اسلامي حاکمیت نمونه وړاندې کړه.

دا څو کرښــې شاید د نوموړي د ویاړمنو کارنامو د احتوا تاب ونلري، نو ځکه اصــلي خبرې ته ځو او هغه دا چې عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله نور له دې دنیا رحلت کړی، په دې شـــریطو کې زموږ دنده دا ده چې له نوموړي راپاتې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



امانت اسـلامي امارت هماغسـې وپالو لکه ده مرحوم چې پاللی و، هماغسـې اسـلامي شـــــريعت ته التزام وکړو، هماغسـې مخلص او په الله تعالی متوکل واوسو، هماغسې قربانۍ ته حاضر او د حق په لاره کې مؤمن، متعهد، متوکل، صــابر، ثـابـت او لـه الله تعـالی څخـه ویرېـدونکي واوســو، تر څو الله تعالی همـداســې ددې ســتر بـار د پورته کولو او تر منزله رســولو توفيق راکړي او همداسې مو د دنيا او اخرت په سرلوړۍ او بريا ونازوي.

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد چې د امريکا په مشـرۍ د نړيوال کفري يرغل له ټول فشار او تعقيب سره سره په هېواد کې اوسېده او په تيرو څوارلسو کلونو کې حتـــی د يوې ورځې لپاره هم له افغانسـتان څخه بهر پاکستان يا کوم بل هېواد ته نه دی تللی او له خپل ميشت ځای څخه يې د اسلامي امارت چارې رهبري کولې، چې د نوموړي په دې ستر استقامت او له هېواده په نه وتلو کره شـواهد او دلايل موجود دي. څه موده وړاندې د ورپېښـې شـوي ناروغۍ له امله چې د ناجوړي په وروسـتيو دوه اونيو کې سـختي زياته شـوه او په حق ورسېد.

عاليقدر اميرالمؤمنين رحمه الله که جسـماً يو شـخص و مگر په معنوي لحاظ نوموړی يو خوځښـــت، يوه نظريـه او د يوه مقدس ارمان حامل و. که څوک غواړي د هغه روح خوشـاله کړي او له هغه سره د وفا ثبوت وړاندې کړي، نو بـايـد د نوموړي له ميراث اســلامي امارت سره وفا وکړي، د اســلامي نظام د اعادې لپاره په دې شـــرايطو کې په حيث د مسلمان دا زموږ د فرد فرد وظيفه ده چې د اســلامي امارت د قوت، وحدت، پراختيا او بريا لپاره ټولې هڅې په کار واچوي. دې گډ کور بنيادونه لا پاخه کړو، څکه زموږ د مسلمان ولس او

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مجاهد قشر عزت او سرلوړي یوازې د همدغه صف په قوت سره تضمینېدلی شي.

مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله اسلامي امارت د یوه ستر خوځښت په حیث په داسې ډول ودان کړی او روان کړی چې تر شاه یې جوړ او محکم بنیادونه، مخلص او باتدبیره ملگري او منظم تشکیلات پرې ایښي دي. لهذا مجاهدین او ټول مسلمانان دې مطمین اوسي چې دا کاروان به د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د الله تعالی په نصرت او د مسلمانانو په ملاتړ د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهدرحمه الله له ارمانونو سره سم منزل مقصود ته رسوي.

ان شاءالله تعالی و ما ذالک علی الله بعزیز

د اسلامي امارت د مشرتابه، رهبري شوری او د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله د کورنۍ له پریکړې سره سم به سر له نن یعني د ۱۴۳۶هـ ق کال د شوال له ۱۴ څخه تر دریو ورځو پورې په ټولو سیمو کې د علماء کرامو، د مساجدو د امامانو، قومي او جهادي شخصیتونو، د اسلامي امارت د مسؤلینو، مجاهدینو او عام ولس لخوا د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد روح ته د دعاء په خاطر د قران کریم د ختمونو، فاتحو او دعاگانو مراسم ترسره کیږي او له الله تعالی څخه به مرحوم امیرالمؤمنین ته د مغفرت او اسلامي امارت ته د استحکام او بریالیتوب دعاگانې کیږي.

په پای کې باید یادونه وکړو چې د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد مورنی ورور ملا عبدالمنان اخند او د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مشـــر زوی مولوي محمد یعقوب له ټولو مسلمانانو څخه خصوصي غوښتنه کوي چې، د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په مشـــرۍ د اسـلامي امارت په واکمنۍ کې که د دوی کوم ډول حقوق تلف شوي وي، نو ټول دې ورته عفو وکړي او پـه دعـاګـانو کې دې تل یاد ســاتي. موږ په دې ســتر غم کې ټول مسلمان امت او په خاص ډول د افغانستان مجاهد ولس له ځان سره شــریک بولو او ټولو ته له الله تعالی څخه د تسلیت او صبر جمیل غوښتونکي یو.

والسلام

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری

او د عالیقدر مرحوم ملا محمد عمر مجاهد کورنۍ

۱۴۳٦هـق کال د شوال المکرم ۱۴ مه

۱۳۹۴ هـش کال د اسد ۸ مه

۲۰۱۵ میلادي کال د جولای ۳۰ مه

Downloaded from Bawar.net

## د ملا محمد عمر مجاهد د وروستیو کلونو د اوسیدا د ځای انځورونه نشر شول

**نن ټکی اسیا** (دوشنبه، ۲۰کب، ۱۳۹۷ل)

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د هغه اطاق انځورونه له رسنیو سره شریک کړل چې د دغې ډلې بنسټگر مشر ملا محمد عمر مجاهد پکې د خپل ژوند وروستي شاوخوا اوه نیم کاله تېر کړي وه. نن ټکی اسیا ته کره سرچینو ویلي چې د ملا محمد عمر مجاهد دغه مېشت ځای د زابل ولایت په سیوري ولسوالۍ کې موقعیت لري، چېرې چې نوموړي د ژوند وروستي ۱۳ کاله تېر کړي و.

طالب ویاند له خپرو شویو انځورونو سره رسنیو ته په لیږلي پیغام کې ویلي: هغه اطاق چې مرحوم امیرالمؤمنین په کې اوسېده. ملا صاحب له دې کوچني اطاق څخه اسلامي امارت رهبري کړ او د وفات تر وخته همدلته و. دلته به ملا صاحب لمر ته کېناست، همدلته یو کوچنی چمن او د گلانو بوټي و. په دې اړه نور معلومات به په یوه کتاب کې په کره او مستند ډول خپره شي.

انځورونه دوه دي، د اطاق بهر او دننه دواړه اړخونه ښودل شوي او پر سر یې په کوچني خط لیکل شوي چې په دغه اطاق کې ملا محمد عمر مجاهد د خپل ژوند وروستي اووه کاله او پنځه میاشتې تېرې کړي.


د یادونې وړ ده چې طالبانو د کال ۲۰۱۵ جولای میاشتې په ۳۰مه نېټه (پنجشنبه، زمري ۸مه ۱۳۹۴ل) اعلان وکړ چې د دوی مشر نور په نړۍ کې

Downloaded from Bawar.net

نشته، خو وروسته يې څرګنده کړه چې هغه تر اعلان شوي نېټې دوه کاله وړاندې (د ۱۳۹۲هـ-ش کال د ثور د مياشتې په څلورمه نېټه) لا وفات شوی و.

بايد وويل شي چې يوې هالنډۍ ژورنالېستې تر پنځه کلنې څېړنې وروسته د ملا محمد عمر مجاهد پر ژوند يو کتاب ليکلی چې پکې ويل شوي د طالبانو مشر ملا محمد عمر مجاهد افغانستان ته د امريکايانو له راتګ وروسته د ژوند تر پايه په خپل هېواد کې دننه پاتې شوی.

## انځورونه





Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## امیرالمؤمنین د یو څو نامتو څېرو له انده

د اســلامي نړۍ مفکرینو، پوهانو، ســترو علمي او ســیاسي مخکښــو څېرو او ژورنـالســتـانو د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د شــخصــیت، فکر او مبـارزې اړونـد پـه بېلا بېلو وختونو کې خپلې څرګندونې کړي چې ځینې یې دلته لولو:

**شیخ اسامه بن لادن**

ټولې نړۍ ولیـده چې مجـاهـد امیر ملا محمـد عمر د نړیوال جنګي تړون پـه مقابل کې ثابت ودرېد. او هغوی ته یې هېڅ سر ټیټ نکړ، نه د شـریعت څخه تېر شو او نه یې عرب مجاهدین دښمن ته وسپارل؛ ځکه هغه یې دیني ورونه و، اګر که د ده امارت او چوکۍ پکې لاړه.

دا د لوړو خلکو پـه دریځونو دلالت کوي. ډېر لوی توپیر دی د یو مســلمان پادشـاه او د هغه منافقینو پادشـاهانو تر منځ چې د اسلام په ضد یې د امریکا سره په نړیواله جګړه کې مرســته وکړه، لومړي د دین لپاره خپل پادشــاهي او سلطنت قربان کړ، او نورو د خپل سلطنت او چوکۍ لپاره دین قربان کړ.

د دوی ترمنځ توپیر د ایمان او کفر توپیر دی، نو د مؤمنـانو مېړنیو د دریځونو او د منافقانو په سړو شمارو د دریځونو ترمنځ ډېر توپیر دی.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


**شیخ جلال الدین حقاني**

د صحیح عقیدې او مظبوط فکر په اساس باید ووایم چې د ملا محمد عمر مجاهد رحلت په اسلامي نړۍ، اسلامي جهادي خوځښتونو او د افغانستان اسلامي امارت کې خلاء رامنځته کړه. او ټول اسلامي امت د ده د مخلصانه خدمتونو ممنون دی.

**شیخ دوکتور ایمن الظواهري**

اې افغان مسلمان او غیور ولسه! تاسو ته په کار ده چې په خپلو طالبانو او په امیرالمؤمنین ملا محمد عمر باندې فخر وکړئ چې طاغوتیانو او لویو مجرمانو ته یې وویل: نه، هېڅکله به مسلمان کافر ته ونه سپارو، بیا د صلیبیانو او د هغو لاسپوڅو سره یې جهاد جاري وساته، او دا دی د الله په قدرت سره د فتحې زېري د اسمان په کنارو کې ښکاره شوي.

**انجینر گلبدین حکمتیار**

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د افغانستان په تېرو ۳۵ کلونو کې یو ښه ځیرک، زړور، هېوادپال مشر و. نه یوازې امریکا ته تسلیم نشو؛ بلکې د جهاد لاره یې غوره کړه.

**د اسلامي نړۍ ستر محدث، فقیه علامه شیخ سلیمان العلوان**

د تاریخي کتابونو ډېرې پاڼې مې واړولې؛ مگر له ملا محمد عمر مجاهد پرته بل داسې حاکم مې پکې پیدا نه کړ، چې پاچاهي یې د دین له سره زار کړې وي. الله جل جلاله دې پرې ورحمېږي او جنت دې ځای شي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**شیخ ابو یحیی اللیبي**

د مجاهدینو مشـرانو ته وایم چې د ټولو په سر کې زړور امام امیرالمؤمنین ملا محمد عمر دی. هغه چې د دې زمانې کس نـــه بریښي، هغه چې په امت کې یې د ولاء او براء معنی را تازه کړه. ورته وایـم: مونږ لا پخپل تعهد ولاړ یو او په خپله لار روان یو، خوشــحاله اوســه د الله مرســته راتلونکې ده. او خوشــحاله اوسه چې الله رب العزت به په نږدې راتلوونکې کې په ځمکه لـــه هغه نیک، قوي او پراخه تمکین درکړي، چې له تا سره وو. او پوه شــه کوم څه چې تا له لاســـه ورکړل؛ هغه هیڅ هم نه دي، او کومه مینه چې الله رب العزت د مؤمنانو په زړونو کې تاته واچوله او د شپې او ورځې چې کومې دعاګانې درته کوي، له هغه ډېر غوره دي چې تا له لاسه ورکړل.

**مولانا عاصم عمر**

د علماو د سر تــاج، د عربو او عجمو د زړه درزا، امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ـ رحمه الله رحمة واسعة ـ هم له مونږ نه رحصت شو، مګر هغه دین لا پــاتې دی د کوم لپاره چې ده دا لاره غوره کړې وه، د کوم لپاره یې چې خپل کور او ټول قوم قربان کړ. هغه شـــریعت اوس هم پاتې دی. او دا به تر قیامته پورې پاتې وي. او د دې د حفاظت لپاره به د امیرالمؤمنین ځان ځاروونـــکي په هر سـنګر کې د داخلي او خارجي دواړو دښمنانو سره قتال کوي، تر څو د ځمکې پر مخ د کفر برلاسي ختمـه شي او ټول نظـام یواځې د الله تعـالی نافذ شي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**شیخ ابو فراس السوري**

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله داسې یو سړی و چې غرېدا یې کمه کوله او کار ډېر. غرونو هم نشــوی بدلولی. د مثال په ډول د ســعودي د اســتخباراتو رئیس ترکي الفیصـل ورته راغی او د شـیخ اسامه د ورسپارلو غوښتنه یې ترې وکړه. ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ځواب ورکړ چې: د اسـلام نه وړاندې هم که څوک مونږ ته د مېلمه په صـفت راتلل، نو چاته به مو نه سپارل، که څه هم ټوله قبیله به یې له وجې تباه کېدله، نو څنګه کېدای شي چې په اسلام کې داســې یو څوک تاســو ته حواله کړو چې مســلمان هم دی او مجاهد هم او زمونږ او ده ترمینځ د جهاد عهد دی، دا ناممکنه ده.

ترکي پـه اخطـاریه انداز ورته وویل چې: ګوره په دې کار سره به ته د عربو او نړیوالو دښــمني را وپاروې. ده ځواب ورکړ: څه چې غواړې ویې کړئ، موږ یې پروا نه لرو.

نو د یو څه په حقانیت به چې قایل شو، بیا یې چا مخه نشوی نیولی.

**شیخ ابو قتاده الفلسطیني**

آیا رښــتیا هم ملا عمر ومړ؟! الله دې په تا رحم وکړي، خپل رب ته دې عذر وړاندې کړ، مونږ ته دې وښوده چې څرنګه د دین لپاره پادشاهي قربانیږي. ملا عمر د دې دور یو راز و، په زهد او تقوی کې یوه نمونه وه.

**ابو عزام الأنصاري**

لوی سـړی و، په ډېر لوی وجود کې امیر (سـاربان) یې پیاده شـو (وفات شـو) خو قافله مخ پر وړاندې روانه ده.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**ابو حمزه الدرعاوي**

دا شـــرعي مسئاله ده چې څوک له دښمن سره د مقابلې په سنگر کې د رباط په حال کې وفات شي، هغه شهید دی.

خدای تعالی دې د شـــهید ملا عمر مجاهد شـــهادت قبول او فردوس جنت ځای کړي.

**دوکتور شامل**

اې د نړۍ ژبپوهانو ادیبانو!

راشئ! د نړۍ د ټولو ژبو قاموسونه له سره ولیکئ، له هغو ټولو څخه د رجولیت (نـارینـه توب) لغـت وبـاســئ او پر ځای یې یواځې د ملا عمر نوم ور ځای کړئ!...

**د اسلامي نړۍ ستر محدث، استاد علامه ابو محمد المقدسي**

خـدای دې پر امام ملا محمد عمر باندې رحم وکړي، د ده امثال په اوســنۍ زمـانې کې ډېر کم لیـدل کیږي. د الله جـل جلاله نظام یې پر ځمکه نافذ کړ، مهاجرینو ته یې پناه ورکړه، د نصیحت گرو نصیحت یې ومانه او له کفارو سره تر هغو وجنگېده تر څو یقین (مرگ) ورته راغی.

**مشهور ژورنالېست عرفان صدیقي**

هغه چې کله د خپلې واکمنۍ د وروسـتي ښـار کندهار له سـقوط وروسـته د افغانسـتان د مغرورو غرونو پر خوا روان و؛ نو په تندي یې له الله تعالی پرته بل چا ته د سجدې خاپ نه ښکارېده.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


**شيخ عبدالله المحسني**

اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته!

الله دې تاته ښـه صـبر درکړي، یقیناً سـتا یو غښتلی اتل له دنیا څخه وکوچېد، هغه له دې دنیا سـفر وکړ او مونږ ته یې لوی درد او کړاو پرېښود، خو موږ لره دا کـافي ده چې د الله تعـالی دین د مېړنیو په تلو سره نه ودرېږي او موږ ته دا کافي ده چې الله موږ ته په دې آیت سره روزنه راکړې:

(وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُولُ أَفَإِينْ مَّاتَ)

ملا عمر لاړ، خو موږ ته دا کافي ده چې موږ پوهېږو لــه ده څخه وروسته یې ورونه شته چې دا مزل پوره کړي او د هغه په لار ولاړ شي.

او موږ طالبانو ته وایو چې تاســې زموږ د سرونو تاج یاســت، موږ څومره دا آرزو درلوده چې سـتاسـې په منځ کې و. ای د الله بنده ګانو ثابت پاتې شـئ، بېشکه تاسې د ثبات او استقامت لویه درجه دتاریخ په پاڼو ولیکله.

ثابت پاتې شئ، د توحید د عقیدې مېړنیو.

**شیخ هاني السباعي**

دا ملا عمر دی، دا د مظلومانو مرسـتندوی دی، د اسـلام او مسـلمانانو د پولو سـاتوونکی دی. دا هغه سړی دی چې د نورو لپاره نمونه ده. او زه دا باور لرم چې عربان او مسلمانان به د ده نوم زمزمه کوي، او دا به تاریخ ته تغیر ورکوي، او وروسته به نمونـې او مثالونه بدلېږي، بیا به ویل کیږي چې د ملا عمر څخه زړور څوک نشــته. د ملا عمر څخه وفادار څوک نشــته او د ملا عمر څخه رښتونی بل څوک نشته.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**د مصر د الازهر نړیوال پوهنتون استاد محمود الثاني**

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اوسنی نړۍ کې یو بې مثاله خپلواک، پر خواهشاتو حاکم او د اسلامي نړۍ یو دردمن واکمن و. هغه سترگې ډېرې مبارکې دي چې دا منوره څېره یې پرې لیدلي ده. الله جل جلاله دې پرې رحم وکړي.

**دوکتور حاکم المطیري الکویټي**

د ملا محمد عمر مجاهد په وفات سره اسلامي امت یو ستر مجاهد زعیم له لاسه ورکړ، داسې زعیم چې د یرغلگرې صلیبي ټلوالې په خلاف یې تاریخي مقابله پیل کړه.

اې د اسلامي امت زعیمه! ته په رښتیا د اسلامي امت لپاره داسې امام وې چې د اسلامي امت موجود او راتلونکي نسلونه، د هغوی ټول جهادي او فکري نهضتونه او فقهي مدارس به په تا پسې اقتداء کوي.

اې لویه استاده! ایا ته په رښتیا له موږه وکوچېدې؟!

**د کویټ ستر مفکر دوکتور عبدالله النفیسي**

ما شخصاً له ملا عمر سره لیدلي دي. زه د هغه په لیدو مشرف شوی یم، ما له هغه سره لیدلي دي او ورسره ناست یم. رښتیا هم چې د دې زمانې کس نه دی. د غربیانو وفدونه به یې نه قبلول، ورته ویل به یې ځئ کابل ته ځئ، زه په قندهار کې یم. (انما المشرکون نجس) بېشکه چې مشرکین نجس دي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**نامتو ژورنالېست رحيم الله يوسفزى**

له ډېرو مغرورو شاهانو سره د دوى په عاليشانه قصـــرونو کې غږېدلى يم او هيڅ وېره مې نه ده حـــس کړې، اما کله چې په کندهار کې د ملا محمد عمر مجاهد سره د ده په عاجزانه دربار کې مخ شوم؛ د ده د رعب او هيبت له لاسه مې د خبرو جرئت له لاسه ورکړ، ترڅو دوى پخپله وپوښتلم.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## که ملا محمد عمر مجاهد نه وای را پاڅېدلی

**قاري سعید**

ـ د زرداد په پاټک به اوس هم انساني سپیان غپېدل.
ـ شفیع دېوانه به اوس هم کابلیان په دېوالونو مېخ کول.
ـ قمبر لنگ به اوس هم له کابلیو ښځو تیونه غوځول.
ـ اسد مار خور به اوس هم د شاه شهید په کوڅو کې د جنسي داړه ماری لپاره گرځېده.
ـ قومندان صالح به اوس هم د پاشمول په پاټک هراتي هلکان کوزول.
- تجارتي باربري موټــر به اوس هم د عام سرک په ځای د کندهار د رېگ په دښتو تر وېښه رسېدل.
ـ گیلم جمو به اوس هم د شمال په خلکو سپړې خرڅولې.
- که ملا محمد عمر مجاهد نه وای، تراوســه به د کابل او نورو ښــارونو ولاړ دېوالونه څه؛ بلکې شاوخوا غرونه به هم د جگړو له زوره نړېدلي وای.
- تراوســه به د جنگلک او سروبي بند د ملي زېربناوو په شــان د کابل او نورو ســیمو ټول تاسیسات پرزه په پرزه او خښته په خښته ټوټه شوي، لیلام شوي او د لاهور او کارخانو په کباړ یا پلورل شوي وای.
ـ اوس به کوڅه په کوڅه او کلي په کلي د جگړې له زوره دلته انسانان نه وای پاتې؛ بلکې د جگړه مارو، پوډریانو او ټوپکیانو یو ځنگلي نسل به د افغانستان د مالکیت دعوه دار وای.
- اوس به افغانســتان نه وای؛ بلکې د هزارســتان، ســیافســتان، دوســتمســتان، زردادستان او مسعودستان په نوم به گڼ مختلف پاټکستانونه اباد وای.
- کـه د ملا محـمـد عمر مجـاهـد پاڅون نه وای؛ اوس به موږ د څوارلس کلن جهاد، هجرت، جهادي ثمره، اسلامي نظام او داسې نورو خبرو په ځای په دې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


غم کې وای چې څرنګه د خپلو شـهیدانو قبرونه راوسـپړو تر څو د پاکستان د هډوکو له سوداګرو وربانديې د چرسو لپاره پیسې پیدا کړو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## هغه اتل غازي رحلت وکړ

**عقیل الشام**

هو رحلت یې وکړ؛ خو وروسته له هغې چې نړۍ ته یې د ثبات، قربانۍ او سرښندنې معنی ور زده کړه.

دا هغه اتل غازي دی؛ چې د الله تعالی د دین د بریا لپاره یې خپله چوکۍ، واک، پادشاهي او سلطنت تر شا وغورځول.

خو په داسې یوه زمانه کې اوسېده؛ چې پکې د اتلانو او ننګیالیو په قدر څوک نه پوهېدل.

د اوچتې ونې او یوې سترګې سره ـ چې بله یې په جهاد کې شهیده شوې وه ـ یو با وقاره هستي ښکارېده. کله به یې چې درسره خبرې وکړې، نو په خپله تواضع سره به یې مطمین کړې.

تکبر، غرور، د پادشاهانو نخرې او د ظالمانو خویونه یې نه و زده. چې کله به دې د خپلو وزیرانو او والیانو سره ولید، نو نه به دې پېژانده.

تل به یې سترګې او نظر له حیاء څخه د ځمکې پر لور و.

تر هغه به نه غږېده، څو به پوښتنه ترې ونشوه.

عملي کار او جدیت یې خوښاوه. او کله به یې چې خندل نو تبسم به یې کاوه.

عربي رسنیو هېر کړی و، ځکه صرف یو پوړیز کور یې درلود. او د عربي خلیج تر ټولو فقیر سړی هم له ده نه مالداره و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



تکلف یې نه و زده. وفــدونه به ورته ملاقات ته راتلل، نو الوتکې ته به ورتلو. څادر به یې په اوږه و، وفد ته به یې وغوړاوه. یو ساعت به یې ورسره خبــرې وکړې.

بیا به جګ شو له خپل څادر څخه به یې ګردونه وڅنډل او روان به شو!

داســې تواضــع او ســاده ګي، چې لویي او تکبر یې زده نه و. داســې ادب او احترام، چې تکلف پکې نه و. داسې حیاء، چې تر اوجه رسېدلې وه.

ثابت قدمي، چې مداهنت یې نه پېژانده. عزم، چې سستي یې نه منله.

خپـل ولس ورسره مینـه لرلـه، سره لـه دې چې د ده یې حتی انځور هم نـه و لیدلی. د رسـنیو له لارې ظهور او انځورونه یې نه خوښـول. ستاینې او مدحې یې بدې ګڼلې.

ټولې نړۍ ورته تهدیدونه ورکول. خو دی د یوه کلک غره په څېر ولاړ و.

نړیوالو اقتصــادي کلابند کړ، بندیزونه یې پرې ولږول؛ خو ده د بنده پر ځای خپل خالق ته لاس ونیو، ترڅو د اسمان خزانې ورته پرانیزي.

د تاریخ کتابونه باید خپلې صـفحې د دې سترې هستۍ په داستانونو او قیصو ښکلې کړي.

"سـموءل بن عایا" در یاد کړئ، هغه یهودي چې ورته وویل شو، زوی به دې ووژنو که د "امرؤ القیس الکندي" نیزې او غشــــــي را ونه سـپارې، خو ده دا پېشنهاد رد کړ او په خپل عهد یې وفا او وکړه ثابت پاتې شو.

تاریخ د ده دې دریځ ته په درناوي سر ټیټ کړ او عربي شاعرانو پکې شعرونه او بیتونه ولیکل.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مگر ملا محمد عمر د قربـــانۍ او وفا داسـې تاریخ پرېښود، چې راتلوونکي نسلونه به ترې زده کړه کوي. ده ته يې گوتځنډنه وکړه چې که دا یو تن را ونه سپارې نو پادشـاهي به دې ولاړه شي، ستا او ستا د ولس وینې به تویې کړی شي، خو ده بـاک ونکړ، دا يې ونه ویل چې نوموړی کس ناآشـــنا دی زما له قوم څخه نه دی. شړل شوی، نه وطن لري او نه خپل او خپلوان.

یواځې دی، هېڅ ځمکه يې نه مني! خپل قوم ترې بېزاره دی!

خو بیا يې هم رایه بدله نشـوه. خپل اصـول يې تر پښـو لاندې نکړل، د عربو حاکمانو او مشـرانو له غوښتنو او زاریو يې مخ واړاوه.

ټول منځگړي يې رد کړل. او ټول سفیران او پیغام راوړونکي يې وشړل، هغوی چې اراده يې لرله ترڅو له خپل عزم نه يې په شا کړي.

دنیا ته يې شـا کړه! خپله پادشـاهي يې تر پښـو لاندې کړه! او د دښـمن ټولې هڅې يې شنډې کړې.

څادر يې په اوږه کړ او تصمیم يې ونیو، ترڅو د ټولې نړۍ مقابله وکړي!

د ده غیرت دا اجـازه ورنکړه چې خپـل عهـد مـات کړي. او خپـل امـان چې ورکړی يې دی تر پښو لاندې کړي. او هغه څوک چې ده ته يې پناه راوړې د بلا خولې ته ورکړي.

پخپل دین او عهد ثابت پاتې شـو. له خپل رب نه يې مرســته وغوښــته. او د ټولې نړۍ په مقابل کې ودرېد. او په لوړ غږ يې خپله مشهوره خبره وکړه:

"بوش راته د ماتې او ناکامۍ وعـده راکړې...او الله تعالی راته د کامیابۍ وعده راکړې، نو گورو چې کومه وعده رښتونې ده".

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



سوګند یې یاد کړ چې د خپل مسلمان ورور ساتنه به کوي. ځکه همدا ورته دین ښوونه کړې وه.

ټوله نړۍ یې ونګوله. او خپل ټول ملک یې د یو تن لپاره قرباني کړ. صرف یو تن لپاره!!

کله یې چې حکومت ړنګ شو، غوسه نشو، ځان یې ملامت نکړ، خپل وزیران یې ونه ښکنځل او نه یې هغه سړی وواژه.

بلکې خپله وسله یې را پورته کړه، خپل ملګري یې را سنبال کړل او خپل شړل شوي ملګري ته ورغی...

مسکی شو او ورته یې وویل، مونږ ټول شړل شوي یو! په اوږه یې لاس ور کېښود. او ور تر غاړې ووت، ویې ویل، خپل ملک او پادشاهي مې له لاسه ورکړل، خو خپل دین او ایمان مې وساته.

بیا یې ورته وکتل او ویې ویل: "نه غواړم چې الله تعالی رانه پوښتنه وکړي چې مسلمان دې کافر ته ولې وسپاره."

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د ثور ۴مه؛ د دریم عمر د رحلت ورځ

**قاري حبیب**

هغه د یوه غریب ملا امام په کور کې وزیږېد، پلار یې ور باندې د محمد عمر نوم کېښود. د خپل مور او پلار لومړنی اولاد و. لا یې خاپوړې کولې چې پلار یې له اصلي سیمې (خاکرېز) څخه لرې، د کندهار ښار ته څېرمه (نوده) کلي کې امامت ونیو. کوچنی عمر د مولوي غلام نبي صاحب په غریبانه، خو د ایمان په نورانیت زیبا خاندان کې را ستر شو. د مؤمنې او صالحې مور په غېږ کې تربیه شو. او لومړنی امتحان ور باندې هغه وخت راغی، چې لا شپږ کلنی ته نه و رسېدلی. د نودې د کلي ملا امام مولوي غلام نبي صاحب وفات شو او کوچنی زوی یې (محمد عمر) د یتیمتوب له یوه دنیا غمونو او امتحاناتو سره د الله تعالی اسرې ته پرېښود. الله تعالی چې همېشه په بندګانو کې خپل د قدرت عجایب ښکاره کوي. همدا د نودې د کلي د ملا پنځه کلن یتیم زوی یې د یوه لوی کار لپاره غوره کړ. دا لوی کار چې د انسان د خلقت له مقاصدو ګڼل کیږي، د الله تعالی په ځمکه اسلامي خلافت یا د شرعي نظام جوړول دي. پر ځمکه د اسلامي حاکمیت را منځته کول، هغه فریضه وه چې له ډېرو کلونو را هیسې انسانانو هېره کړې وه.

د مسلمانانو له ذهنه دا خبره وتلې وه چې دوی اصلاً د همدې ستر کار لپاره پیدا شوي دي، د وروستیو پېړیو د سترو امتحاناتو له امله مسلمانان د خلافت، امیرالمؤمنین، شریعت، امربالمعروف و نهی عن المنکر، اسلامي اخوت او داسې نور مفاهمو سره یو مخ ناشناخته شوي وو.

الله تعالی مقدره کړې وه چې د اسلامي واکمنۍ د عملي تطبیق کارنامه به د نودې د کلي د مسافر ملا امام د هغه یتیم زوی په لاس ترسره کوي چې د خپل پلار له مړینې وروسته له خپلې مور سره په بېګانه سیمه کې بې سر پرسته

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


پاتې و. یتیم محمد عمر له کندهار څخه د خپلو ترونو د اوسېدو سیمې روزګان ته لاړ. همالته را ستر شو، د کلي، مدرسې او مسجد ماحول یې شخصیت صیقل او په سوچه اسلامي ـ افغاني رنګ ښایسته کړ. د خپل مؤمن، مجاهد او غیرتي ولس په غېږ کې واوسېد، د هغوی هر غم او ښادي یې په ځان او روح سره حس کړه، د ولس په ژبه وغږېد، د ولس په رنځ رنځور شو، د ولس په درد ودردېد. د خپل مؤمن ولس په منځ کې ماشومتوب او ځوانی تېرولو په کې سوچه عادات تقویه کړل. د غیرت، حیاء، ایمانداری، صداقت او ایثار په شان سوچه عادات یې د روح او جسم په رګ رګ کې نهادینه شول.

همدا لامل و، کله چې په ولس بده ورځ راغله او کمونېزم یرغل راووړ، ځوان ملا محمد عمر لومړی تن و چې د قربانۍ ډګر ته په هسکه غاړه ور وړاندې شو.

لومړی یې په دهراوود کې له شورویانو او کمونستانو سره تاریخ جوړوونکې ډغرې ووهلې او بیا چې کندهار ته راغی نو د کندهار ــ هرات لارې ترمنځ د سنګ حصار او پاشمول سیمه یې د روسي ټانګونو په هدیره بدله کړه. هغه د خپل دین او امت د دفاع لپاره څلور ځله خپله وینه تویه کړه، خپله ښی سترګه یې د روسي بم له پرخچې سره والوته، خو دې زخمونو، سختیو او آزمونونو په عمري عزم کوم اغېز ونه درلوده. هغه د کمونېست نظام د راپرځېدو تر ورځې په پوره متانت د سنګ حصار په سنګر کې ولاړ و او د جهادي مبارزې توغ یې رپاند ساته.

کله چې کمونېزم را وپرځېد، نو ملا محمد عمر خپل د جهاد مرکز په مدرسه بدل کړ. هغه د اسلامي نظام د جوړولو کار هغو رهبرانو، پروفیسرانو او

Downloaded from Bawar.net

انجینرانو ته پرېښود چې هر یوه دوه لسیزې په اسلامي نظام، خلافت او شریعت باندې ژبه ټکولې وه.
هر یوه ځان د اسلامي نظام تیوریسن او متخصص باله، هر یوه د اسلامي نظام او خلافت د جوړولو په موضوع گڼې لیکنې او رسالې لیکلې وې او کلونه کلونه یې خلکو ته د سرتاسري اسلامي نظام د قیام او فلسطین د ازادۍ وعدې ورکړې وې، خو درې کلنې تجربې ثابته کړه چې قول او عمل دوه بېلابېل شیان دي. ډېر ځله به یو څوک په تیوریک لحاظ په یوه موضوع پوهیږي، مگر الله تعالی به د عملي تطبیق استعداد او صلاحیت نه وي ورکړی. زموږ جهادي پروفیسوران هم همداسې پوچ وختل.
هغوی لا د کمونېزم له جهاده نه وو اوزگار شوي چې تر خپل منځ یې یوه بل ته د جهاد! اعلان وکړ. هغوی په خپل درې کلن کردار سره نه یوازې د افغان جهاد وقار په اوبو لاهو کړ، بلکې لسگونه زره بې گناه کابلیان یې هم ووژل، فساد او پاټکماري یې هم ترویج کړه، د غلا، غصب، ظلم، قتل اود بیت المال د لوټمارۍ کلتور یې هم عام کړ او په نړیواله کچه یې اسلامي فکر او جهاد ته سخته صدمه او بدنامي واړوله.
ملا محمد عمر مجاهد چې د پروفیسرانو کمزورې وربانډې وغمېده، مجبور شو چې خپل مسؤلیت په خپله اداء کړي. هغه په لومړی ورځ تک تنها ووت، درس په درس او حجره په حجره وگرځېد، د فساد په وړاندې قیام ته یې خلک را وبلل او په ډېره لنډه موده کې یې د الله تعالی په نصرت یو داسې ځپاند اسلامي حرکت په غورځنگ را ووست چې د فساد او پاټکمارۍ ځنځیرونه یې د خسو په شان په مخه واخیستل.
هوکې، ملا محمد عمر مجاهد اسلامي نظام جوړ کړ، علماء کرامو هغه ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړ. هغه د اسلام هغه ټول قوانین عملي کړل چې په توان

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


يې پوره وه. د ټولنې د اصــلاح، د قوانينو او قضـــاء د اســلامي کولو، د امربـاالمعروف و نهي عن المنکر د ديني وجيبې ترسره کول، د حـدودو او قصـاص نفاذ او د اسلامي تعليمي نظام د پياده کولو په شمول يې ټول په توان پوره شـرعي اقدامات ترسره کړل.

په نړيواله کچه يې د اسـلامي امت په هره غميزه غمجن شو او د نړۍ په هېڅ کونج کې يې له مسـلمان څخه خپله همکاري او خواخوږي ونه سپموله. هغه د ســيمـه ييزو هېوادونو او نړيوالو کـافرانو د پوځي، اقتصـــادي، ســياسي او تبليغاتي جنگ او فشـارونو په وړاندې لکه غر داسې دنگ او مطمين ودرېد. د نړۍ طاغوتيانو هڅه پيل کړه چې د اســلام د دې ريښـــتيني او غيرتي زوی اورمېږ ټيټ کړي.

مگر د دريم عمر په زړه کې له هغه پيغمبر عليه السلام سره د وفا تعهد پروت و، چې لومړني عمر رضي الله عنـه هم وربـانـدې ايمان را وړی و. د هغـه پـه رگونو کې د بدريينو او صديقينو ايمان او جذبــه څغلېده، د هغه په زړه کې د الله تعالی وېره وه، هغه الهي خوف چې د ده په زړه کې يې بلې وېرې ته ځای نه ورکاوه.

له شــــرقه تر غربه د نړۍ سترو طواغيتو په گډه د ملا محمد عمر مجاهد او د هغه لخوا تأسـيس شـوي اســلامي نظام په وړاندې جنگ اعلان کړ، کفار له سترو پوځونو او جنگي سازوسامان سره راغلل. ملا محمد عمر مجاهد د دې پـه ځای چې د اســلامي امت کمزوري ښــکاره کړي او د کفر په وړاندې د اسلام بيرغ ټيټ کړي، د اسلامي تاريخ بې سارې قرباني يې ورکړه، د پاچاهۍ د تخت په ځای يې د غرونو او رغونو لاره ونيوه، د هېواد له غرنيو ســنگرونو يې د صليبي طاغوت په وړاندې جهاد ته دوام ورکړ.

Downloaded from Bawar.net

په لومړي ځل یې د اسلام سرسخته دښمنان امریکایان په ځان پورې حیران او د تاریخ تر ټولو اوږد جنګ په سټړیا واړول. ملا محمد عمر مجاهد د ژوند تر وروستۍ سلګۍ د جهاد او اسلامي نظام ارمانونو ته متعهد پاتې شو.

هغه چې څه ویلي و، هماغســې یې وکړل. هغه چې له اســلام سره د وفا کومه وعده کړې وه، په هغه وعده تر پایه ودرېد.

هغـه لکه څنګه چې د هېواد د کلیو په ســوچه او فطري ماحول کې را ســتر شوی و، بېرته هماغو خړو کلیو، ختېنو کورونو او دېرینو سنګرونو ته وګرځېد. د خپل مجاهد او بې کوره ولس په شان یې د جهاد انقلابي دوره له بې کورنۍ، ستومانۍ او سـختیو سره همغاړې تېره کړه. هغه د هېڅ معاصر رهبر یا لیډر په شان د امتیازي او هوسا ژوند هوس ونه کړ، بلکې له کفري بالا د سستۍ د منلو په ځای یې په سپېرو خاورو کې غریبانه ژوند غوره وباله.

تر دې چې بالاخره د مبارزې له همدې کلیوال سنګر څخه په جګو سترګو او سپین مخ د خپل رب حضور ته ورغی.

هوکې، درنو لوستوونکو! امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د ۱۳۹۲ هــش کال د ثور د میاشتې په څلورمه نېټه له دنیا سترګې پټې کړې. راځئ د مغفرت په دعاګانو یې یاد را تازه کړو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د ثور۴مه؛ امت بل عمر له لاسه ورکړ

سعید منصور

اسلامي تاریخ په هر دور کې د بشـــــریت د نېکې لارښوونې لپاره د نایابو رهبرانو په درلودلو سره دا ستر افتخار له ځان سره لري. دې سلسله کې بیا عمر نامې سلسله تر نورو مشهوره ده. هغه مهال چې لا هم پر دنیا د جهل تاریکۍ خوره وه؛ نجونې ژوندۍ خښېدلې، غلا او بد ماشي ویاړ و، قومي جګړو بیخي تونده حرکت درلود، د بشـــریت اړیکه له خدای سره دومره سسته وه چې د تناسلي الو عبادت کېده. داسې مهال اسلامي تمدن د بشریت د ښېګڼې لپاره د حضرت عمر غوندې عادل پاچا میدان ته راویوست. هغه عمر، چې د شپې یې خوب نه درلود، ښـار او اطراف کې ګرځېد، داسې نه چې کوم یتیم له لوږې وژاړي او ده دې خپل مسؤلیت نه وي اداء کړی. هغه عمر، چې دښمنان یې پر غیرت ګواهي ورکوي.

ور پسې عمري سلسله کې بیا دویم عمر، عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله دی. هغه عمر بن عبدالعزیز چې، له الله تعالی څخه وېره، خاکساري، عدالت او تقوی یې ځانګړې صـفتونه و. هغه عمر چې د واکدارۍ پر مهال یې ذکات اخیستوونکي په سخته موندل کېدل. صفیان ثوري رحمه الله وایي چې راشده خلفاء پنځه دي؛ ابوبکر، عمر، عثمان، علي او عمر بن عبدالعزیز.

دا عمر د مسلمانانو د لوړتیا پر مهال د مسلمانانو رهنما و، خو هغه عمر چې د مسلمانانو د ځوړتیا پر مهال یې د مسلمانانو رهبري پر غاړه وه؛ هغه افغانی ملا محمد عمر مجاهد دی. هغه ملا عمر چې له خړې حجرې را پورته شو، خړو

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


وطنو کې یې تربیت وشو. هغه ملا چې کهف سورت یې پر واقعي معنا عملي کړ. هغه ملا چې معنــویت ته یې په درنه سترګه وکتل او مادیاتو یې غیرت ته تاوان ونه رساوه. هغه ملا چې د دښمن مادي زور ته تسلیم نشو. لومړی یې خپل هېواد له پاټکیانو وژغوره، پاټکیان یې له پاټکو پســې واخیســتل. کرار- کرار یې د اســلامي نظام هڅې پیل کړې، په لنډ وخت کې یې په هېواد کې اسلامي نظام نافذ او د الله تعالی قانون پلی کړ.

هغه ملا عمر چې د ده تر واک لاندې سیمو کې د نړۍ هر مظلوم مسلمان د مېشتېدو ارمان درلود. هغه ملا عمر چې په یوویشتم قرن کې یې د خیرالقرون غوندې دولت بنسټ کېښود. هغه ملا عمر چې بېل شوی دین او سیاست یې بېرته سره یو ځای کړل. هغه ملا عمر چې ملا ته یې په دفتر او سیاست کې د کار کولو جرئت ورکړ.

هغه عمر چې نه یې لکه د نورې نړۍ د شاهانو غوندې زرهې ګاډی درلود او نـه یې تشــــــــریفـاتي دربـار درلود چې غریبان دې ترې محروم وي. بلکې مېلمستون یې د خوارانو او غریبانو د اوسېدو ځای و.

هغه ملا عمر، چې د ده په رهبریت کې عمومي عدالت پلی و. رشـوت دومره کم و چې اصلاً نه حسابېدی. امنیت یې مثالي و. د کوکنارو د کښت کچه یې په یوې اعلامیې صفر ته راټیټه کړه.

خو دا اسلامي نظام د اسلام ابدي دښمنانو (غربیانو) ونه زغملی شو. بې شمېره توطیې او د تخریـب برنـامې یې ورته جوړولې. غربیان په توطیو جوړولو کې دومره مخته لاړل؛ چې آن خپل وضــعي قوانین یې هم تر پښــو لاندې کړل.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


غربيانو پر ګران افغانستان باندې تر حملې وروسته شته اسلامي نظام ړنګ او پر ځای يې خپل روزل شوي غلامان د واک پر ګدۍ کېنول. دوی پر دې هم بسنه ونه کړه؛ زموږ پر اسلامي کلتور يې حملې پيل کړې، علماء او د سر کسان يې را شهيدان کړل.

ديني شعاير يې توهين کړل او غوښتل يې چې زموږ اسلامي ټولنه چې د اخلاقو خزانه ده، پر خپل وحشي تمدن روان کړي او داسې نسل وروزي چې په ختېه افغانی، خو کلتور، فرهنګ، اخلاق او ثقافت يې د غرب وي. داسې پيچلي وخت کې چې د غرب ټيکنالوجيکي تبليغاتو نړۍ پر سر اخيستې وه او هېڅ چا يې پر وړاندې د درېدو توان او جرئت نه درلود؛ دريم عمر دا دروند بار پر اوږو واخيست. ده افغانان د غرب پر وړاندې مقابلې ته را وبلل. افغانانو ته يې په خپل عمل او ګفتار ثابته کړه چې معنويت به همېش پر ماديت غالب وي. مانا دا چې د ايمان زور ته اټوم هم د ټينګې نه دی.

هغه عمر، چې د غرب مادي فشار او صليبي اشر يې اراده سسته نه کړه. افغانانو هم د ده لاره تعقيب کړه او د نړۍ د عصر دجال (امريکا) ته يې ماتې ورکړه. افغانانو په يوويشتم قرن کې يو ځل بيا اسلامي تاريخ ته زرين باب ور زيات کړ.

خو تقدير خپله فيصله کوي؛ عمر دې ته پاتې نشو چې د خپل مظلوم ملت په لاسونو ماتې خوړلې امريکا پر خپلو سترګو ويني. دی تر دې وړاندې د ابدي ژوندون پر لور وکوچېد او تر شا يې داسې پوځ پرېښود چې هر يو يې د دين په دفاع کې له هېڅ يوې قربانۍ هم نه پر شا کيږي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د نجات الهي لورينه د هغه په شخصيت کې

صلاح الدين صارم

پـه دنيـا کې ډېر لوی لوی خلک تېر شــوي او هر يوه يې په خپل وخت کې دغه لويوالي ته ځانګړي اسـباب او علتونه خپل کړي. مونږ چې په يوويشتمه پېړۍ کې اوسېږو او د دې پېړۍ ننګونو ته ګورو، فکر کوو چې بل هيڅ وخت به دغه ډول حالات او شـرايط نه وي رامنځته شوي او نه به د ملتونو په سطحه دومره لويې غميزې او تراژيـدۍ چـا ليـدلې وي او دا به تر ډېره حده په ځای هم وي، ولې چې نړۍ اوس هغـه نړۍ نـه ده چې د خلکو پـه ذهن کې يې موهوم لويوالي شــتون درلود او لـه حقيقته يې تر ډېره ځايه نه خبرېدل. اوس چې د يو کلي حيثيت لري نو د نړۍ په سـطحه پېښـو کې زمونږ د هېواد قضيه يوه داسـې پېښه وه او ده چې د نړۍ په هر کونج کې تر کلونو کلونو د ورځې خبر او سر خط وي، همدا هغه څه دي چې پورته حقيقت رښتيا کوي.

افغانسـتان، شـايد چې د نولسمې پېړۍ تر وروستيو به هم ډېرو خلکو نه پېژاند او نه به د دې ضرورت ليدل کېده چې د تعليمي نصاب په جغرافيه کې دې د دې هېواد نوم را وړل شي؛ خو اوس يې چې د نړۍ پـه ســطحه د نوم له ذکر سره کوم حيثيت دی، په همدومره حيثيت او ارزښت د دې هېواد پېښې د نړۍ د بـل هر هېواد پـه پرتله مهمې او ارزښــتناکې دي او په دې هېواد کې د دغه نړيوالو ننګونو په وړاندې د ولاړو شـخصـيتونو شخصيت او رهبري ته تر دې په څو برابره لوی مقام او خورا ارزښـت ورکوي، په تېره بيا چې د افغانستان له وضعيت سره د نړۍ وضعيت څه چې، د نړۍ نقشه هم تغير شوه.

Downloaded from Bawar.net

همدا چې زمونږ د هېواد د څلورو لسیزو انقلابونو او جریاناتو د نړۍ وضعیت بدل کړ، ښيي چې د دې هېواد له اراضي نیولې بیا تر ولس، شـــرایطو، آب و هوا او موقعیـت پورې هر څـه ډېر مهم دي او هر یو یې د دې وړ دی چې تر ځانګړې څېړنې لاندې ونیول شي. نو له هغه څېرو او شـخصـیتونو به یې څه وایي چې پـه دغـه خاوره کې یې د دغه ولس او ملت رهبري کړې او پر ځان یې را ټول کړي؟!!!

مونږ ته زمونږ په هېواد کې ټول مشـران، رهبران، حاکمان او قایدین ښه معلوم دي. کـه یو وخـت پـه یو چـا غولېدلي یو او نه مو دی پېژندلی، خو بیا وخت پخپلـه راتـه پېژنـدلی. که یوه زمانه یې مونږ په ملاتړ کې منډې او نارې وهلې دي؛ وروسـتي عقل بیا داسـې ترې بې زاره کړي یو چې د نوم له ذکر سره یې کرکـه او نفرت تر ډېره زمونږ لـه ذهنـه نـه لرې کیږي. دغـه غبرګون او عکس العمـل د هغو کړنو مولود دی چې زمونږ پـه هېواد کې د بېلا بېلو فکرونو او نظریو خـاونـدانو پر موږ د تســلط او حـاکمیت پر وخت له مونږ سره تر سره کړي.

د "ښــه نه ورک کیږي او بد نه پاتې کیږي" پر مقتضــا به په خپل څلور لســیز انقلاب کې یوه مقایسه او پرتله وکړو، چا وژغورلو او چا د وخت نادودو ته ور ټېل وهلو:

په هېواد کې د سـیاسي ټیکاو د له منځه تلو او د عمومي وضعیت د بدلون، یا د هېواد د ناخوالو د پیل نېټه د ۱۳۵۷ هــش کال د ثور کودتا ښودل کیږي، له هماغې ورځې تر ننـه چې نږدې څلوېښـــت کـالـه کیږي مونږ ډېرې ناخوالې ولیدلې او دا دی نن هم لا جګړه روانه ده. په دې ټوله څلوېښـــت کلنه اوږده

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



موده کې د ښو د ښه او د بدو د بد تمیز ونه کړای شو، ښایي د انتقاد گوته راته ونیول شي او عقلاً هم تر سوال لاندې را شو.

په خپله د ژور ســوچ او تاریخي مطالعې په نتیجه کې د رهبري په مقام کې د اشــخاصــو پــه پرتله د ټولو له منځه عالي قدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر "مجاهد" ته په ټول احترام، د هغه عظمت، حقانیت، اخلاص او رښــتینولۍ ته قـائـل یم او له نورو ټولو تېرېږم. د هېواد مینه، له ولس سره خواخوږي، وفا او اخلاص یواځې پــه ده کې وینم. د تېرې څلویښـــت کلنې غمیزې تر ټولو خواخوږی او مخلص رهبر یې بولم.

د مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله د شـخصـیت په اړه یو څو هغه ځانگړنې ذکر کوم، چې فکر کوم د ده په شخصیت کې تر نورو ډېرو مهمې دي، خو زمونږ ډېرو پام نه دی:

**د ولس د نجات انگېزه**

د نویمو کلونو د ظلم، جهل، تاریکیو، بربریت او وحشته هر څوک کړېدل او هر هېوادوال دې حالت ته په کتو ځورېده، خو د ولس د نجات داسـې انگېزه او فـکر به له چا سره نه و چې عملي اقدام وکړي او په دې لار کې د سر په بیه سـوچ او سـودا وکړي. دغه د نجات سـوچ او عملي اقدام د هېواد له منځه یو تن مجاهد شـخصـیت چې له روسانو او کمونستانو سره د جهاد او له هغه په را وروسـته دوره کې له فسـاد او خیانته پاک شخصیت و، همدا (ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله) و، چې له شته ظلمونو او وحشتونو د افغان مسلمان ولس د نجات او د تېر پاک جهاد د ثمرې د اعادې په نیت یې د (۱۴۱۵هــق) کال د محرم د میاشــتې په (۱۵) او (۱۹۹۴) میلادي کال کې یې عملي قدم پورته کړ

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



او د خپلو یو شـــمېر همداســـې دردمنو ملگرو په ملتیا یې د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ له "سنگ سار" څخه وسله واله مبارزه پیل کړه.

**د نظام صلاحیت**

په یوه داسې هېواد کې چې د تاریخ ډېره برخه یې له جنگ جگړو ډکه وي او خلک یې سر شوخه او سرشاره خلک وي، په یوه نظام را ټولول څه اسان کار نه دی، په تېره بیا چې د نویمو کلونو په څېر ناخوالـو سره یکې لاس و گرېوان وي، هېواد دې په ملوک الطوایفي بدل شوی وي، فساد پکې اوج ته رسېدلی وي، په سیمه سیمه کې دې واکدار یو جلا پاچا او واکمن وي، په داسې هېواد او داسې شـــرایطو کې لومړی د نظام رامنځته کولو او بیا د نظام پر مخ بېولو صلاحیت په هر چا کې نه شي پیدا کېدلی.

امیرالمؤمنین ملا محمـد عمر مجـاهـد رحمـه الله په افغان ولس د الله تعالی له لوري د نجات او رحمت همداسې لورینه او شخصیت و چې په هماغه ناوړه شــــرایطو کې یې هېواد شـموله نظام را منځته کړ. او په ډېر ښه شان یې دغه نظام رهبري هم کړ او نه یواځې دا چې د نویمو کلونو تنظیمي جنگونه، فساد، بې دیني، ملوک الطوایفي او بېلا بېلې نـاخوالــــې یې ختمې کړې؛ بلکې د هېواد ارضي تمامیت یې خوندي او د هېواد د شتمنیو د چور او تالان مخه یې ونیوله.

د مرحوم امیرالمؤمنین د دغې لورینې او رحمت احساس هغه چاته ښه کېدلی شي، چې د هغه وخت ظلمونه او ناخوالې یې په خپلو سترگو لیدلې وي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**قوي فراست**

فراست هغه قوه ده چې الله تعالی یې د خپلو اولیاوو (دوستانو) په زړونو کې اچوي او په برکت یې د خلکو حال ځان ته معلوملی شي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ...[رواه الترمذی]

د مسلمان له فراسته ځان ساتئ، ځکه هغه د الله تعالی د نور په مرسته لیده کاته کوي.

د نظام د چارو په ترسره کولو او د دومره لوی هېواد او ستر ولس په قیادت کې له مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله سره د الله تعالی له ځانګړو مرستو څخه یوه هم هغه فراست و چې نوموړی پرې د الله تعالی له لوري ځانګړی شوی و.

له هر مسلمان سره څه نا څه فراست وي، خو مرحوم امیرالمؤمنین له خورا قوي فراست څخه برخمن و.

د بېلګې په ډول به یې یو څو ذکر کړو(چې له ثقه او کره ملګرو څخه اورېدل شوي وي.)

د امارت د حاکمیت په وخت کې اسلامي امارت هڅه کوله چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان څوکۍ ترلاسه کړي. په دې هڅو کې و چې یو وخت د سعودي استخباراتو ملا عبدالجلیل اخند ته ویلي وو چې که د دغې څوکۍ لپاره حامد کرزی انتخاب کړئ، قوي سړی ده شاید دغه څوکۍ درته وګټي. کله چې دا خبره له مرحوم ملا صاحب سره شریکه شوه، په ډېر لنډ ډول یې ورته وویل: "هغه خو د دوی خپل سړی ده مونږ ته به څه وکړي، سبا به یې له ځانه داسې اعلان را پسې کړی وي؛ چې بیا به نه جبیره کیږي."

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



دغه راز په نظامي برخه کې يې په کابـــل کې د د فاع وزارت مسؤلينو ته ويلي وو چې زما شخصـي رايه دا ده چې د کابل له لوري د شمال فتحه پرېږدئ، د شـــمال لوېـديځ ولايتونو فراه او بـادغيس لـه خوا پرې راشـــئ، خو د نظـامي مسؤلينو ټينګار دا و چې نه، د کابل له خوا دې وشي، اکمالات اسانه دي او... وخت بياهمداسې ثابته کړه.

د مرحوم د فراست په اړه مفتي محمد تقي عثماني صاحب هم يادونه کړې. کله چې د علماوو په يوه هيئت کې کندهار ته تللی و او هلته يې ورسره ليدلي و، نوموړی وايي مرحوم ملا صاحب د خورا قوي فراست څښتن و.

آن تر دې چې د امريکايانو په وړاندې د بيا متحد کېدلو، د قوي صف د راتلو او بلاخره په افغانســـتان کې د امريکايانو ماته او د هغوی له لوري د مذاکراتو غوښتنې او تور لېست د له منځه تلو وړاندوينه يې هم کړې وه.

**مـــلا**

مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله که هر څومره وســـتايل شي، او د هغه هر څومره خصـوصـيتونه ياد شي؛ تر ټولو مهم صـفت او مزاج چې هغه پرې يادېږي، هغه د "ملاتوب" هغه صـفت دی چې په ټولو صفتونو او خصوصيتونو يې فوقيت پيدا کوي. په افغاني ټولنه کې ملا هغه څوک دی، چې ولس پـه هر وخـت او هر رنګـه حـالاتو کې د هغـه مني او بس. بل که د هرې طبقې سـړی وي؛ په ټولنه او اجماع کې به مجبوراً په ملا پســې وي او له ملا سره مخـالفـت يې لـه ولس سره پـه مخالفت تماميږي. نو هيڅکله نه شي کېـدای چې افغاني ټولنه او ملا سره جلا کړل شي. علامه اقبال لاهوري رحمه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



الله دغه امتزاج په ښـه ډول درک کړی او د شیطانانو په یوه خیالي سلا مشوره کې د هغوی په ژبه وایي:

افغانیوں کی غیرت دینی کاھےعلاج

ملا کو اس کے کوہ و دامن سے نکال دو

د افغانانو د دیني غیرت علاج دا دی چې له سمې او غر څخه یې ملا وویستل شي. یو خو له لویه سره زمونږ په هېواد کې د تاریخ په اوږدو کې د ملایانو په قربانیو او خواریو خاورې اړول شـوې او د هغوی ډېرو سـترو سترو کارونو ته په کمه سترګه کتل شوي دي. بل زمونږ یو شمېر لوستې طبقه په دې فکر دي چې ملا د زعامت اهل نه دی او نه مني چې د هېواد په اسـتقلال او خپلواکۍ کې هر وخت ستره ونډه او رهبري د ملا ده.

خو د نویمو کلونو د نـاخوالو خاتمې ته د هرې طبقې لوســتي خلک او روڼ اندي بې وسه شول، یواځې همدا ملا و چې د خپلو همفکره او دردمنو ملګرو په ملتیا او قربانیو یې دغو ناخوالو ته د پای ټکی کېښود او له منځه تلونکی او ټوټه شوی هېواد یې بېرته واحد افغانستان کړ.

په رښـتیا چې زمونږ خوږېدلي او دردېدلي مظلوم ولس ته د ده شـخصـیت د نجـات الهي لورینـه وه، چې زمونږ ولس پرې لـه بې مثاله ناخوالو، کړاوونو او نادودو نجات وموند او هېواد مو له تجزیې او له منځه تلو پرې وژغورل شو.

فرحمه الله وجعل الجنة مثواه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## با وقاره امیر

**لطف الله خیرخوا**

دوه زره لسم کال و، "جنگ" ورځپاڼه کې مې د جماعت اسلامي د یوه مشر کالم لوست. کالم کې یې د امارت پر مهال کندهار ته د خپل سفر رویداد لیکلی و. د ده له قوله، چې موږ سفر ته ډېر تیاری نیولی و. زیرک او تجربه کار وفد مو برابر کړی و، دوه درې ورځې مو د ملا صاحب لیدو ته انتظار وکړ. کله چې د ملاقات شېبې را ورسېدې، زموږ د پخو او خولورو ستړو ارواوې والوتې. وایي موږ د نړۍ د رهبرانو د تکلفاتو فکر کړی و، مګر ډېره ساده ودانۍ کې او ډېر ساده لباس کې یو معزز، مرعِب او چوپ انسان سره مخ شوو. وایي زموږ وفد سخت متاثره و، نو زموږ پخو نطاقانو او خبر لوڅو هم خپلې خبرې منظمې ونه کړای شوې. وایي موږ د نړۍ حسابونه ارزولي و، په سیاستونو وغږېدو، ستراتېژۍ مو ورمخ ته کړې، د خبرو جریان کې ترخه هم راتله او خواږه هم، مګر د دې موقر انسان تندی نه په خوږه له خپل حالته بدل شو، نه په ترخه ګونځې شو. وایي کله مو چې خبرې پای ته ورسېدې، ډېر لنډ ځواب یې راکړ: ستاسو خبرې پر ځای دي، خو موږ دغسې فکر نه کوو. زموږ لار بېله ده. د لیکوال تبصره دا وه، چې څوک دین ته کار کوي، هغه باید د ملا صاحب په څېر همغه ډول فکر وکړي، چې دین ته پرې کار کیږي، نه دا چې زموږ د تنظیمونو په څېر د دین په نوم، د دین مخه ونیول شي. استاد مزمل موږ څو ملګرو ته یو مجلس کې وویل، چې زه په مجلسونو او ملاقاتونو کې نه ډارېږم، خو ملا صاحب ته چې ورتلم، پښو مې زور نه اخیست، او هغه څه مې چې ویل غوښتل سم مې ونه شو ویلی.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



دغه رعب د هغه وقار برکت و، چې ملا صـــاحب د یوه غښـــتلي امیر په توګه درلود. د مســـلمانانو د امیر په توګه د هیڅ دربار ته ونه درېد. هغه خلک چې په ډېره ناځوانۍ ملا صاحب پردیو ته منسوبوي، نه دي پوهېدلي، چې همدغه جنرالان د درانـه ملا صـــاحـب پـه مخ کې لکـه د ملازمـانو وتـل ننوتل. زه نه پوهېږم چې کیســه به تر کومه ســمه وي، خو د عوامي نېشـنل ګوند مشـــــر اسـفندیار په یوه وېډیو کې د "نصیرالله بابر" له قوله وایي: یـــوه ورځ مې ملا صـــاحـب تـه د ډېورنډ کرښـــې خبره یاده کړه. وایي په یوه پټکه یې له کوره راوویستم!

**د امت د وقار مجدد**

د اسلامي امت تر منځ د ورورولۍ پولې د "سایکس بیکو" تړون نړولې وې او دي. داسې مهال، چې دې پولو واقعي بڼه نیولې او هر مسلمان و نامسلمان یې لکـه عقیـده داســـې مراعـاتوي. د دغو وضـــعي قوانینو نړول څـه، چې وقتي مخـالفـت یې پـه نړۍ کې د یوه ســـتر جرم برابر دی، خو هغـه څوک، چې "حدودالله" پېژني هغه پوهیږي، چې د کومو حدودو پایمال جرم دی او همده ته جوتیږي، چې د وضعي حدودو نړول څومره اسان دي. په نړۍ کې د جهاد د ســتر رهبر اسـامه بن لادن پر ضـد، چې نړۍ متحرکه شـوه او د خپل امت د دفـاع په تور یې نړۍ ته مجرم معرفي کړ، هېڅ جنرال دا نه شـــوه کولای، چې اســتکباري طاقتونو ته آن څه عذر وکړي، خو همدا د وقار څښــتن او د وفاء څلی د حدودالله د ســاتنې په پار په هســکه غاړه ودرېد او د نړۍ د بې ســاري تبلیغ او پروپاګند تر منځه یرغه یرغه ووت. هیــچا ونه کړای شو، چې د ده په

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



خاوره دې د هغه يمني الاصـله مسلمان ويښته سپک کړي. ټولې نړۍ وليدل، چې هغه د جهادي عظمت منار چېرته هسک شو او چېرته ونړېد!

زه خو هغو خلکو ته حيرانېږم، چې څنگه دغه د امت په مفهوم پوهېدلي امير ته د محدوديتونو نسبت کوي.

پولې نړول يا فزيکي دي يا معنوي، چې د نړۍ هر محروم انسان ستا په خاوره د مصـؤنيت او تاييداحســاس وکړي. هغه امت، چې خپله معنا يې يوازې تر کتابونو او درسونو منحصــره وه، همداسې يوه عزام انسان ته اړ و، چې دا معنا لـه کتـابونو واقع تـه را وباسي، عملاً وليدل شي او دا ښــکاره شي چې دا معنا قابل ديد او تطبيق ده. هغه معنا، چې سـايکس بيکو د مسـلمانانو لا شـعور ته غور ځولې وه او ځينې خلک چې د همدې نقشې په پلې کېدو پر امت مسلط شوي وو، هېڅ نه پوهېدل، چې دغه د وقار غر څرنگه په دا زلزله رېزه فضا کې هم سوکاله دی.

**په سياست کې د اسلامي رموزو احياء**

د خلافـت په نړېدو هغه نورمونه نړدې ورک ول، چې په اســلامي پيرونو کې کارېدل. لکه خلافت، امارت، اميرالمؤمنين، شــــــريعت، اهل الحل و العقد، بيعت، سمع و اطاعت، شـرعي حدود، ولاء و براء، جهاد...

دغـه د وقـار او ننـگ ځلي يو ځـل بيـا واکمنې حلقې ته پورته اصــطلاحات ننويسـتل. له ٧٦ کلونو وروسته جهاد د يوې خاورې د واکمنانو بنسټيز کار و، بلکې داســې کار، چې تر سـقوطه نورو کارونو ته ترې وزگار هم نه شــول او سـقوط هم داســې چې بېرتـه يې پـه هســک ور برابر کړل. کلـه چې دی ودرېـد..کلـه چې ده غاړه نېغه کړه..کله چې ده په مســتکبرينو ورمېږونه مات

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



کړل..خلک پوه شول، چې هر مهال ځان ګټل کیږي. خپل حق ترلاسه کیږي او هر مهال، چې اراده وي، ټینګار او تعهد وي هره ورکه پیدا کېدای شي او هره سخته اسانېدای شي.

هغو خلکو چې د خلافت د اعادې لپاره یې تحریکونه تاسیس شوي و، دا مهال په طاغوتي کړیو کې ویلي کېدل. هغو تنازلاتو ته اړ شوي و، چې هېڅ مسلمان ته یې الله جل جلاله او رسول اجازه نه ورکوي، هغه انسان خو لا پر ځای پرېږده چې د خلافت د احیاء لپاره د یوه متعهد انسان په توګه میدان ته راوتلی وي.

دغه طبقه په طاغوتیانو کې ورننوتل او تازه تازه یې د ماتې ترخه تر ستوني ول، چې دغه د امت د قضایاوو انسان د نړۍ حسابونه بدل کړل. خلکو ته یې وښووله چې "پرېوتي" انسانان لار پرېږدي. پرېوتي مبارزین د خپلې مبارزې لپاره پردي شرایط او ظروف مني. ور ویې ښووله، چې موږ د خپلې مبارزې لپاره خپل شرایط ټاکو، موږ خپل شرایط په خلکو منو او هغه څه کوو، چې موږ پرې ایمان لرو.

**د ایمان او ثبات غر**

د امریکایانو د یرغل پر مهال ملا صاحب یوه خبره کړې. باور مو وشه، چې یو عالم زور په کې دی، یو اطمنان په کې دی، یو سکون دی په کې. وایي ملا صاحب ته چا وویل، چې امریکایان وایي موږ اسمان نه نیم انچ شی ګورو. نښه رانه نه خطا کیږي. وایي ملا صاحب وویل: دا د دوی وعدې دي، مګر زموږ رب هم وعدې کړي، ګورو چې د چا وعده حقه ده. دوی دې خپل کار وکړي، موږ به خپل کار کوو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



د امریکایانو د غورځو پرځو په اړه ترې یو بله مشهوره خبره هم روایت ده. د امارت اخرنیو شپو کې یې مجاهدینو ته وینا کوله چې: امریکایان تکنالوژي لري، وژل به کولی شي، خو مرگ نشي دفع کولی.
یوه وینا چې ما خپله اورېدلې او امریکایانو ته یې پر افغانستان د برید پر مهال په ډېره اطمناني لهجه کړې وه. ورته وایي دا نو شاهي نظام نه دی، چې تاسې راشی، موږ به درنه لاړ شو. دلته مجاهدین دي، منظم قطعات دي، غرونو ته به درنه وخېژي، هسې به ځان هم خراب کړی او موږ هم.
یو مشر، چې په مادي لحاظ دومره کمزوری وي، څه ډول دومره اطمنان لرلی شي، بې له دې چې خپلې عقیدې دومره ایمان او ثبات ور بښلی وي. یو مولوي صاحب د شیخ حسن جان په حواله ویل، چې هغه به د ملا صاحب په اړه ویل: د شرح عقاید اوخیالي حافظ هم دومره کلکه عقیده نلري، لکه ملا صاحب.
رښتیا هم، چې د عقیدې ډېر شاگردان او استادان یې ایمان او ثبات کې شاته پرېښودل، دغو شاگردانو او استادانو به کېدای شي په لسگونو کرتې په عقایدو کې د خلافت و امارت و ولاء و براء درسونه ویلي او تدریس کړي وي، مگر دغسې به یې چا عملي کولو ته ملا نه وي تړلي، څه چې تصور به یې هم نه وي کړی.
رحمه الله رحمة واسعة، وأدخله فسیح جناته، و رزقه الفردوس الأعلی.
آمین

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## امیرالمؤمنین د عظمتونو وارث

**محمد رسول بهار**

د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اړه ډېرې او په زړه پورې خبرې کېدای شي. هغه د داسې تاریخي پړاو یو قهرمان وخوت چې، خلک سا وتي ګام د یوې پنا په لټه زغاستي و. هغه د اسلامي امت او په ځانګړي ډول افغانستان د تاریخ نه بندېدونکی، نه بدلېدونکی او ویړنده باب شو. لیکنې شروع دي، داسې ناویلي شیان رابرسېره کیږي چې حیران به دې کړي. هر لیکوال کوښښ کوي داسې څه ولیکي چې نورو نه وي لیکلي. که لیکلي یې هم وي کوښښ کوي چې اسلوب ور بدل کړي. دا مهال زما ذهن ته د امیرالمؤمنین په اړه دوه خبرې حاضرې دي او ماته د هغه له صفاتو دا دوه هغه ډېر مهم ښکاري.

**د جهاد د ثمرې ساتونکی**

په دې کې د هیڅا هم اختلاف نشته چې افغانانو ته، بلکې ټولو مسلمانانو ته د افغانانو په اړه د جهاد د نتایجو ګټل مهم دي. موږ ولیدل کله چې د روسانو له ماتې وروسته ځینې رهبران خپلو کې سره ونښتل، د نړۍ لوی لوی علماء، دعات او خېرخواهان د دوی د روغې جوړې لپاره لاس په کار شول. ځینې علماء او مخور شخصیتونه په دې سوله کې سپک کړای شول، مګر هغوی هېڅ باک ونه ګاڼه او خپل کار یې مخکې یووړ. د دوی دا کار همدا معنا لري چې مسلمانانو ته زموږ د یووالي او جهاد خبره تر هر څه مهمه ده. له بده مرغه چې زموږ سرکښانو د جهاد اهداف په نظر کې ونه ساتل او په هغه لار لاړل چې دښمن انتخاب کړې وه. د روسانو د وتلو پر مهال یو عجیب اتحاد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



رامنځته شو. نړۍ که څومره هم سره مخالفه شي، بیا هم دومره په کې د روغې ځای پاتې وي چې د مسلمانانو پر ضد په کې یو ځای لاس په کار شي.
موږ ته معلومه ده او نړۍ کې هم مشهوره ده چې امریکا د روسانو پر ضد د افغانانو څنګ ته ودرېده او له هېڅ مرستې او ملاتړ یې دریغ ونه کړ. کله چې خبره اسلامي نظام ته راغله او مجاهدین خپلو کې په نظام غږېدل، د کفر دښمني خپلو کې په یو ناڅاپي اتحاد بدله شوه. دا دواړه جهته په دې سره سلا شول چې افغانستان کې به د اسلامي نظام د قیام مخه نیسي. کله چې روسان مات شول، غربي مفکرینو وویل: مهالنۍ دښمن مات او ازلي دښمن سوبمن شو. د روس او امریکا مخالفت وخت پورې تړلی دی او اسلام سره د دوی مخالفت ازلي او تر پایه دی. اسلامي نظام نه روسان او امریکا یو ډول ځان ساتي، ځکه خو یې اوږه په اوږه د اسلامي نظام مخالفت ته را ودانګل. د دې دواړو لویو جهتونو خواري وه چې افغانستان کې جهادي ډلې په داسې جګړې کې ښکېل شوې، چې د جهاد عظمت یې د خلکو سترګو کې ووږ کړ. جهاد ته کمونستانو او نشنلستانو د فساد خطاب وکړ. عام ذهنیت هم له دوی متاثر شو. اسلامي حلقه د یوه ناکامې ډلې په نوم وپېژندل شوه. د خلکو ذهنیت دا و چې نړۍ کې ټولې فلسفې او ګروهې ماتې شوې، وار د اسلام دی او نړۍ به ژغوري. کله چې تنظیمونه خپلو کې ښکېل شول، هغه د اسلامي نظام وار یې داسې تېر کړ، چې خلکو په هر نظام شکر وویست. کله چې د جهاد د عظمت وارث توره پورته کړه او میدان ته را ووت، د هیلو غوټۍ ګل شوې، ارمانونو غځونې وکړې، هغه روحونو ارزښت پیدا کړ چې د اسلام د حاکمیت په هدف له نړۍ کوچېدلي و، هغو سرونو قیمت وګاټه چې د

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



شــــــریعت د نفاذ په کوښـښ ورغړېدل، د هغو هڅونو قدرداني وشـوه چې د محمدي رڼا د خپرېدو په خاطر ويلې شوي و.

اسـلامي نظام يې حاکم کړ، نړۍ ته يې وښـودله چې موږ د دې نظام لپاره سر ورکړی و او نړۍ ته يې وښودله چې موږ څه غواړو، هغه کوو، زموږ مخه دې څوک نه نيسي، ځکه چې څوک يې نشي نيولای.

هو، اميرالمؤمنين د جهاد د عظمت وارث و...

**د افغاني تاريخ تسلسل**

د داخلي جګړو لـه کبله افغانان داســې پړاو ته رســېدلي ول چې په تاريخي لحاظ ترې د يوې سوبې طمع هم نه شوه کېدای. دښمن داسې فکر وکړ چې دا خلـک ګونـدې پراګنـده شــول. دا ګومـان ډېر بېځـايه هم نه و، ځکه چې افغانانو هغه وخت تاريخ ته څه ورکړي چې کله يې لاسـونه سره ورکړي وي. اتفـاق او اتحـاد چې نـه وي، بيـا خو تاريخ د زرداد خېلو کيســې ليکي..هغه داستانونه خوندي کوي چې د کمزوري زړه څښتن يې لوستلای هم نشـي. تر ټولو ستر ګواښ چې ټولې نړۍ پرې تبصره کوله او دښمنه نړۍ ورته لا سترګې پر لار وه، هغـه د افغانســـتان د تجزيې خبره وه. څه خلک خو لا دننه په کور دې ته هم خوشــاله ول چې په واړه مســاحت کې خو د ده په څېر ســړی هم وزير کېدای شي، مګر داسـې سړي توره په لاس ميدان ته را ودانګل چې هر شــوم هدف يې پوچ کړ، هره بده حيله يې په شــا وتمبوله او هر بد نظر يې له بېخه وکاږه. سړي د ابدالي جغرافيې داسـې ساتنه وکړه، چې تجزيه ماران يې تر کولاب واسـتنبول و ماسکو ورسول. د افغانستان د نيمولو هره دسيسه يې له منځـه يووړه او قومي تړون يې د عقيـدې پـه داســې تـار سره وتـاړه چې نـه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


شلېدونکی او سپښېدونکی دی. که دا خبره تر پرونه پټه وه، نو دا نن وګورئ چې شمال کې مجاهدين د اسلامي امارت په اطاعت کې په کومه رشته سره تړلي؟ تر پرونه چې د تجزيې په دليل د اشغال د دوام خبرې کېدلې، ځنګه به يې تکراروي چې د اسلامي امارت مجاهدين په لر و بر کې سره په يوه مزي او موحد اطاعت تړلي دي.

هو، اميرالمؤمنين د افغاني تاريخ د عظمت وارث و. نه يې نړېدو ته پرېښود او نه يې خرابېدو ته، چې ځينو بې ارزښته خلکو د دې مسلمان ملت د اسلامي ورورولۍ احساس ځپل پيل کړي و.

اميرالمؤمنين په کور دننه هم دا احساس ژوندی وساته او ټولې نړۍ ته يې هم د دې عالي احساس مثال وړاندې کړ.

هو، اميرالمؤمنين د افغاني تاريخ د عظمت وارث و...

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## عمر؛ د راشدينو شپږم و

**مصطفی حامد ابوالولید** (د مصر نامتو لیکوال او تاریخ پوه)

په اوســنيو مســلمانانو نه بدلېدونکی دليل: ټول ژوند يې په بېوزلۍ او تنهايۍ کې تېر کړ، په داســې حال کې چې دی امير و او بيا يې له دې نړۍ ســترگې پټې کړې، مونږ يې پرېښــودو او دی لا هم يوازې او نــاشـــنـا و. دی لـه ټولو مخکې و او هيڅوک تر ده ور ونه رسېدل. ځان يې تر خپلو مخکينيو اسلافو پورې ورساوه او راتلونکو ملگرو ته يې لا هم ډېرې سترې پاتې دي.

دی د هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم په څېر و چې ده ورسره مينه درلوده. ده هم خپل ژوند په يتيمۍ، فقر او مسکينۍ کې تېر کړ. دی د هغه امت مشـر او زعيم و، چې ټول عمر يې دربدرۍ او يتيمۍ کې تېر شوی دی.

د قوي زمري په څېر زړور او د سهار ښکلې خوشبويه هوا په څېر نرم و. اوس ټول هغه خلک اندېښمن دي چې د دې لارې پيل او پای ور معلومېږي.

مونږ يې په داسـې حال کې پرېښـودو چې ځان يې خپلو اسـلافو او نيکانو ته ورسـاوه. خپل امت يې د بريا او فتحې په درشـل کې پرېښـود او دی ترې په سلگيو د خپل رب جل جلاله په لور ولاړ. له دې نړۍ يوازې او غمجن ولاړ، څنگه چې راغلی وو.

افغانان د ټول امت وروستی ارمان او هيله ده، يا به ټول امت ژغوري او يا دې مسلمانان په بله سياره کې ځانته ځای وگوري.

دوی به څوک ملامتوي که دوی دا کار وکړي؟

ايا له دې امته يوازې، اندېښمن او بېچاره نه ولاړ؟

«عمر»... عمر د راشدينو شپږم و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## ملا صاحب استاذ کل او لوی عالم و

**مولوي محمد نعيم**

الله جل جلاله فرمايي (... إِنَّمَا يَخْشـى اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ) (۲۸)

ابن کثير رحمه الله د دې ايت په تفسير کې وايي: (و عن ابن مسعود رضي الله عنه، أنه قال: ليس العلم عن كثرة الحديث، ولكن العلم عن كثرة الخشية)

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی، چې ده وويل: علم په ډېرو خبرو او احاديثو نه دی، بلکې علم له الله جل جلاله څخه په ډېره وېره کې دی.

عن الإمام مالك رحمه الله يقول: (ليس العلم بكثرة الرواية، إنما العلم نور يضعه الله فی القلوب.)

ژباړه: له امام مالک رحمه الله څخه روايت دی، وايي: علم په ډېرو روايتونو نه دی، بلکې علم يو نور دی چې الله جل جلاله يې په زړونو کې اچوي.

ورته روايت له امام ذهبي رحمه الله څخه هم شوی.

احمد بن صالح المصـــري وايي: معنی يې دا ده چې له الله جل جلاله نه وېره په ډېرو رواياتو نه ترلاسه کيږي.

ابن حبان رحمه الله په روضـــة العقلاء کې روايت کړی چې: قال ابن مســـعود "ليس العلم بكثرة الرواية، إنما العلم الخشية"

ابن مسعود رضي الله تعالی عنه فرمايلي: علم په ډېرو رواياتو نه دی بلکې علم يوازې له الله جل جلاله څخه ډار دی.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


امـام ابو محمـد علي بن خلف البربهـاري الحنبلي رحمـه الله وایي: (و اعلم رحمـك الله، أن العلم ليس بكثر الروايـة والكتب، و إنما العلم من اتبع العلم و السـنن، و إن كـان قليـل العلم و الكتـب، و من خـالف الكتاب و السـنة فهو صاحب بدعة و إن كان كثيرة العلم والكتب)

ژباړه: په دې پوه شـه! الله دې درباندې ورحمیږي، چې علم په ډېرو روایتونو او کتابونو نه دی، بلکې عالم هغه څوک دی چې د علم او سنتو پیروي وکړي، کـه څه هم چې پوهـه او کتـابونـه یې لږ وي. او چا چې د کتـاب او سـنت مخالفت وکړ، هغه بدعتي دی، که څه هم چې ډېر علم او کتابونه ولري.

امـام ابن رجـب الحنبلي رحمـه الله تعـالی وایي: فليس العلم بكثرة الرواية ولا بكثرة المقـابل، ولكنه نور يقذف في القلب، يفهم به العبدالحق، و يميز به بينه و بين الباطل، ويعبرعن ذلک بعبارات و جيزة محصـلة للمقاصـد، و قد كان النبي صلى الله عليه وسلم أوتي جوامع الكلم...

ژبـاړه: نو علم پـه ډېرو روایـاتو او ډېرو خبرو نه دی، بلکې یو نور دی چې په زړه کې اچول کیږي او بنده په هغه سره حق پېژني، په هغه سره د حق او باطل تر منځ توپیر کوي، او پـه لنـډو او مطلوبو عبـاراتو لـه هغـه څخـه تعبیر کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جوامع الکلم ورکړل شوی وو.

امام الوسي رحمه الله په روح المعاني کې د دې آیت شـــریف په تفسیر کې داسـې وایي: ( والمراد بالعلماء العالمون بالله عزوجل و بما يليق به من صفا ته الجليلة و أفعاله الحميدة و سـائر شـؤونه الجميلة لا العارفون بالنحو والصرف مثلاً فمدار الخشـية و ذلک العلم لا هذه المعرفة فكل من كان أعلم به تعالی كان أخشى )

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


ژباړه: له علماوو نه مراد هغه څوک دي چې الله جل جلاله وپېژني، مناسب او وړ لوړ صفتونه، ستایل شوي کارونه او نور ټول ښایسته چارې وپېژني، نه هغه څوک چې نحو او صرف پېژني. لـه الله جـل جلالـه څخـه د وېرې معیار هغه علم دی، نه دغه معلومـــات. نو هر څوک چې الله جل جلاله ښه پېژني، هغه ډېر ترې وېرېږي.

امام شـــوکاني په خپل تفســـیر (فتح القدیر) کې د ځینو تابعینو اقوال را نقل کړي: (قال مجاهد: إنماالعالم من خشي الله عزوجل. قال الربیع بن أنیس: من لم یخش الله، فلیس بعالم.)

ژباړه: امام مجاهد او امام شـــعبي وایي: پرته له شـــکه عالم هغه دی چې له الله جـل جلالـه څخـه ووېرېږي. امام الربیع بن انس وایي: څوک چې له الله جل جلاله څخه ونه وېرېږي هغه هېڅکله عالم نه دی.

امـام بقاعي په خپل تفســـیر نظام الدرر کې د آیت کریمه د دې برخې په اړه وایي: (فینتفي العلم عمن لا یخشی الله)

ژبـاړه: نو لـه هغـه چـا څخـه علم منتفي کیږي چې لـه الله جل جلاله څخه نه وېرېږي.

پورتنیو او نورو ورتـه معلومـاتو تـه په کتو سره په ډاگه کیږي چې د علمیت او عـالمیت لپاره معیار ظاهري معلومات نه، بلکې قلبي معرفت دی. کېدای شي یو څوک ډېر معلومات ونه لري، ډېر کتابونه یې نه وي لوســـتي، خو زړه یې د الله جل جلاله په معرفت او وحدانیت ژوندی وي، زړه یې د الله جل جلاله له وېرې ډک وي. همـدا لامل دی چې هر وخت ځیني په اصـــطلاح لوی لوی عالمان په باطل صف کې ولاړ وي، داسې کارونه کوي چې له یو عادي انسان

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



سره نه ښايي. د هغوی مغزونه له معلوماتو ډک وي، خو زړونه يې له حقيقت نه خالي وي. ډېر ځله يو عادي سړی ګناه ته له ور لنډېدو وېرېږي، خو يو بل چې ډېر معلومات به لري، ډېر کتابونه به يې لوستي وي، نېغ او سرې سترګې پرې ور روان وي.

ملا صاحب مرحوم ته که د لومړي معيار (ظاهري معلومات) له مخې وګورو، په رښتيا هم چې ډېر کتابونه يې نه وو لوستي، ډېر معلومات يې نه درلودل، خو که حقيقي معيار (قلبي معرفت) ته وکتل شي، ټول به په يوه خوله شو چې ملا صاحب ډېر لوی عالم و. لکه څنګه چې مشـــر ملا صاحب ورته ويل کېدل، دغسې په معنی او مفهوم کې مشر هم و.

ملا صاحب هېڅکله د دنيا ساټ او باټ ته سر ټيټ نه کړ. د نفسي خواهشاتو پر سر يې داسې پښه ايښې وه، چې شور يې نشو ترې خوړلی. نه يې د غوړې مړۍ پروا لرله، نه د مليونونو مليونونو روپو، او نه هم د شهرت او نوم. په داسې حال کې چې د ډېرو پراخو او زياتو معلوماتو خاوندان نه دي ورته ټينګ شوي!

ملا صاحب مرحوم د الله جل جلاله په واک او ځواک داسې ټينګ بـــاور درلود چې، ټولې نړۍ تـه يې د هغـه په وړاندې د يو ميږي حيثيت نه ورکاوه، خو ډېر داسې کسان شته چې دلۍ دلۍ کتابونه يې په مغزو کې دي، مګر کله چې حالات لږ غير عادي تر نظر ورشي، سـمدسـتي يې اربې وتښـتي او د تسليمۍ غبرګ لاسونه پورته کړي.

کله هم چې ملا صاحب د يو کار اراده کړې، په پوره قاطعيت او قوت سره يې تر سره کړی، داسې چې چاته يې د چون او چرا فرصت نه دی پرېښی.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


او که چا څه اندېښنې ور سره شـریکې کړي دي هم، د ده په عزم او اراده یې کوم اغېز نه دی کړی.

ملا صاحب په خپله لویه او ژوره خاموشۍ کې لوی داعي او استاذ کل و.

ډېر خلک کتابونه لیکي، په کلونو کلونو تدریسـونه کوي، تقریرونه او بیانونه کوي، له دې ټولو یې هدف دا وي چې خلک د الله لوري ته را وبولي، خلکو تـه حق او حقیقـت بیـان کړي، د خلکو پـه فکر، عقیده او نظر کې مثبت تغیر راولي. دا ټول وکړي ایله یو څو سوه، یا زره، یا لکه کسان تغیر کړي.

خو ملا صاحب مرحوم نه کتابونه لیکل، نه یې تقریرونه، وعظونه او نصیحتونه کول، او نه یې تدریسونه کـــول، ظاهراً پټه خوله، خاموش ملنګ و! کوم څه چې نورو په کلونو کلونو وعظونو، تدریســونو او کتابونو کول ده په ډېر لږ او کم وخت کې په خاموشه ملنګۍ وکړل!

د ملا صـــاحـب له رازونو او پندونو ډکې ســـمندري خاموشـــۍ د ټولې نړۍ انسـانانو ته علمي تدریس کاوه. ملا صـاحب مرحوم په حقیقت کې د ازادۍ، خپلواکۍ، بروسـې او توکل، شفقت او مهربانۍ، اخلاص او رښتینولۍ، مېړانې او غیرت عملي اســـتـاذ و. نوموړی پـه نړیوالـه کچـه یوازینۍ کس و چې د کتابونو په پاڼو کې نغښـــتې ارزښـــتناکه معناوې او مفاهیم یې عملي ډګر ته را وایســتل. ملا صــاحب د یوې ژبې، یا قبیلې او قوم، یا یو هېواد او دوه هېوادو استاذ نه، بلکې د ټولې نړۍ استاذ شو. ځکه خو د نړۍ په ګوټ ګوټ، اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو کې داسې خلکو بیعتـونه ور سره کول چې بیخي یې لیدلی نه و، یوازې یې د ده خیالي او افسـانه ډوله واقعي کیسـې اورېدلي وې. که عرب و، که عجم، که مسلمانان وو او که کفار، که خپل وو که پردي، ټول

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



د ده په نرتوب او ځوانمردۍ مین و، ځکه ټولو ته یې وښودل چې سړی باید د ظلم، مســتکبر او متجبر په وړاندې څه ډول د حق آواز پورته کړي! ټولو ته یې د خپلواکۍ او استقلال درس ورکړ.

یوازې اوســني نســل ته نه؛ بلکې د راتلوونکو نســلونو لپاره به هم همداســې خاموش استاذ پاتې کیږي. او دا به تاریخ خامخا ثابتوي.

ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ، وَاللَّهُ ذُوا الْفَضْلِ الْعَظِيمِ. (سورت الجمعة. آیت:۴)

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## ستر محسن او ملي ناجي

**قاري حبيب**

د روســانو پــه وړانــدې د جهـاد كلونـه و، زمونږ كورنۍ هم د ميليونونو نورو افغانانو غوندې په هجرت اړ شوې وه. زه د هجـــرت په ديار كې وزيږېدم، د هجرت د ديار د سـوزنده صـحراوو، تكنده غرمو، بادونو، سـيلابونو او سـاري امراضــو له مصــايبو سره همغاړي ژوند كې رالوى شــوم، د كيمپ په ســپېرو خاورو كې مې خاپوړې وكړې او د كيږديو په سيوري كې مې د ژوند لومړني كلونه تېر كړل.

چې لږ را لوى شـوم او خپل سـتړي ژوند ته په فكر كې شوم له خپلې خوږې مور او د كورنۍ له مشـــــرانو مې د خپل ژوند د كړاوونو په اړه پوښـتنې پيل كړې. هغوى راته ويل چې موږ مهاجر يو، زموږ اصـلي هېواد افغانسـتان دى، افغانســتان روســانو او د هغوى مزدورانو اشــغال كړى او موږ د خپل ځان او ايمان د ســاتنې پـه خـاطر د هجرت لاره نيولې او دې كړاوونو تـه مو اوږه وركړې.

دغه وخت په افغانســتان كې د كمونېزم په خلاف جهاد روان دى. د كيمپ د جومات په پنځه وخته لمونځونو كې به مجاهدينو ته د بريا دعاگانې كېدلې. د هر لوى او واړه، نارينه او ښځينه په زړه كې همدا يوه هيله وه، د مجاهدينو بريا او د هېواد ازادي.

د ډېرو مهـاجرو مېرمنو د خپل سر ټيكري نذر ايښـــي و، چې كه خداى پاك افغانسـتان ازاد او مجاهدين كامياب كړل، نو خپل د سر پوړونۍ به خيراتوم. د سر پوړونى د افغانانو په ټولنـــه كې ډېره ستره معنا لري، د سر د پوړوني په پلو

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


سره خلک د مړي له پور اخیستلو تېرېږي او هره ننواتې یې قبلوي، خو زموږ د ولس د تور سرو په زړه کې د هېواد د ازادۍ مینه دومره ډېره وه چې په دې لاره کې یې د سر د پوړوني خیرات ته هم تن اېښود.

یوه ورځ ډزې شوې، خوشالۍ شوې، او د هجرت کیمپ د خوښیو غوغا په سر واخیست، وایي مجاهدین کابل ته ننوتل، هېواد ازاد او ارام شو، کمونستي نظام چپه شو. ددې خبر په راتلو د کیمپ د ډېرو سپین روږو سترګې د خوښی له اوښکو ډکې شوې، تور سرو د خدای شکرونه اداء کړل، تاوده پاستي یې خیرات کړل، خپل محبوب وطن افغانستان ته د ستنېدو هیلې وغوړېدلې، او څو اوونۍ وروسته موږ لومړني مهاجر وو چې بېرته خپل اصلي ټاټوبي ته ستانه شوو.

خو چې کلي ته ورسېدو را معلومه شوه چې کمونستي واکمني چپه شوې؛ مګر هېواد ازاد او ارام شوی نه دی، د خلکو د ستر ارمان شرعي نظام څرک نه لګیږي، بلکې حکومتي واک د اهل کار او متدینو اشخاصو په ځای د فاسدو او فاسقو لنډغرانو، داړه مارانو، پاټکیانو او غلو تر منځ تقسیم شوی دی.

هېواد ته په ستنېدو را معلومه شوه چې هېواد له یوه بحران څخه یوه بل خطرناک او خونړي بحران ته لوېدلی دی. که پخوا یوازې د افغانانو سر او مال په خطر کې و، اوس د کورنیو جګړو او خپلسریو له امله د هېواد پنځه زره کلن سیاسي وجود تر خطر لاندې او د تجزیې له ګواښ سره مخ و. په کابل او ولایاتو کې تنظیمي جګړې پیل شوې. هره شپه به مو چې راډیو اورېده، د وژنو، جنسي تېریو، لوټماریو، داړه ماریو او ملي شتمنیو د چور

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



تالان خبرونه مو اورېدل. زموږ په سيمه کې که څه هم نسبتاً ارامي وه خو بيا هم د غلو او داړه مارانو کمی نه و. په لويو لارو پاټکونه جوړ شوي وو، په کليو کې اوباشان او فاسق اشخاص له وسلو سره ګرځېدل، هر مشر فاسق له ځانه قوماندان جوړ کړی و او څو تنه بې جلبه او چرسي وسله وال يې په ځان پسې ليکه کړي و.

ښه مې په ياد دي چې زموږ د سيمې داړه مارانو يوه ورځ په رڼا ورځ زموږ په کلي کې دوه تنه د بنجارې سوداګر لوټ کړل. د شپې مهال به يوازې همدا لنډغران په کوڅو کې ګرځېدل. هيڅوک له ماښام نه وروسته بهر نه شوای تللی. د هېواد حکومتي سيستم، د نوي نسل تعليم او تربيه، خدمات او د انساني ژوند ټولې برخې له سقوط سره مخامخ وې. افغان ټولنه په يوه داسې بحران کې ډوبه وه چې نه يوازې بالفعله يې سر، مال، عزت، ناموس او ابرو ور لوټله، بلکې راتلونکی نسل يې هم د مطلقې ګمراهۍ، خودسرۍ او فسق او فساد په خوا رهبري کوو.

افغانان، هغوی چې نړۍ يې د کمونېزم له بلا خلاصه کړې وه د خپلمنځي جګړو او هرج و مرج په اور کې کبابېدل. هر چا د دې بوږنوونکي حالت يوازې ننداره کوله، هيڅ د اميد ځرک نه برېښېده. يوازې د جګړې اورونه وه چې هر خوا پراخېدل او يوازې د فسق، فساد، ظلم او تعدی ډولونه و چې نوې نوې بڼې يې ننداري ته وړاندې کېدې.

په همدغسې يوه سخت او تورتم حالت کې په کندهار کې يوه مېړني طالب خپل کتاب کېښود، د ظلم، فساد، ګډوډۍ او داړه مارۍ پر خلاف يې د مبارزې توغ پورته کړ. د وخت د ظالمو فرعون صفته داړه مارانو دښمني يې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



په غاړه واخیسته او د هغوی د ورکولو حلف یې واخیست. په لومړي گوزار یې د کندهار او میوند تر منځ له لویې لارې د ظالمو ټوپکیانو ځنځیرونه ټول کړل. ظالم، بې رحمه، فاسد او د ملت په اوږو، سپاره لنډه غر یې د خپلو شنیعو اعمالو په سزا ورسول.

او له هغوی څخه یې په تصفیه شوي ځمکه د الهي نظام وړانگې خپرې کړې.
په څو ورځو کې د شر او فساد په خلاف د دې پاڅون اوازه د هېواد تر کونج کونج ورسېده. په مظلوم او مقهور ولس کې د نوي ژوند ساه وغوړېده، ولس د نجات څرک ولید او د هېواد ټولو مظلومو سپین روبو او تور سرو د دغه مبارز او مجاهد طالب په حق کې د دعاگانو لپې اسمان ته کړې.

ښه مې په یاد دي چې څو اوونۍ وروسته ددغه مجاهد طالب ملا محمد عمر مجاهد لښکر زموږ تر سیمې هم را ورسېد. روژه وه، د ژمي موسم و، موږ ماشومان و خو زموږ له سیمې لږ لرې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ طالبانو د فساد په ځالگیو د درنو وسلو بریدونه پیل کړي و. د توپ او راکټ هر کړنگ یې د ولس په رگو کې د ژوند وینه او مینه تاندوله، هر چا دعا کوله چې یا الله زر تر زره دا سپین لښکر زموږ تر سیمې راورسوې چې د دې ظالمو، فاجرو، چرسي او لوطي پاټکیانو له سلطې څخه مو خلاص کړي.

څه وخت وروسته د درست افغانستان غوندې زموږ سیمه هم د اسلامي امارت په شرعي وړانگو منوره شوه. د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې طالبانو چې زموږ په سیمه کې لومړی کار وکړ، هغه دا و چې زموږ د سیمې سرکشه غل یې له خپلو دریو ملگرو سره گرفتار او د ولسوالۍ په چوک کې یې د غلا په جرم ښی لاس او چپه پښه ترې غوڅ کړل.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


د همدې شـرعي حد اجراء په ټوله سیمه کې د غلا او داړه مارۍ دود ته دپای ټکی کېښود. بیا تر هغو پورې چا په ټوله سیمه کې د غلا، غله او لوټمارۍ نوم په خوله وانخیست، تر څو په امریکایي بریدونو کې د طالبانو واکمني له منځه لاړه.

د ملا محمد عمر مجاهد د واکمنۍ په راتګ سره د هېواد وضـعیت له منفي حالت د مثبت خواته داسې په بل مخ واوښت چې چا یې تصور هم نه کاوو.

د جهالـت په ځای د علم، مدارســو او معارف وړانګې خپرې شــوې. د بې نظمۍ، ګـډوډۍ اوهرج و مرج په ځای د الهي قانون او حکومت دارۍ کلتور را ژوندی شو. د بې امنۍ په ځای داسې امنیت راغی، چې افغانستان په نړیواله سـطحه د امنیت بېلګه او مثال وګرځېد. د ظلم او تجاوز په ځای د انصـاف او حق حقدار ته د رسـېدلو اصول رواج شول. افغانستان د تجزیې له خطر څخه وژغورل شو، د ملوک الطوایفي او کوڅه واکۍ سیستم له منځه لاړ. ټول هېواد او ولس تر یوه حاکمیت، یوه نظام او یوه شعار لاندې راغونډ شول.

د افغانستان نوی نسل د جهالت، خپلسرۍ، نشه یي توب، او نورو ډېرو خطراتو څخه وژغورل شـو او د الهي قانون تر سیوري د سالمې تربیې په چوکاټ کې د سعادتمند ژوند په خوا رهبري شو.

بې له شکه چې دغه اوښتون په افغانانو د الله تعالی ځانګړی فضل او مرحمت و، مګر هغـه څوک چې الله تعالی ددغه نوراني انقلاب لپاره وســیله کړ، هغه امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد و. هغه ســتر انســان چې الله تعالی یې د همت او اقدام په برکت یو سـتر ملت ته له مطلق سـقوط او پاشـل کېدو څخه نجات ورکړ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



هوکې ملا محمد عمر مجاهد زموږ د نجات استازی شــو، زموږ زخمونه یې ټکور کړل، زموږ د مجاهد ولس د جهاد او هجرت ســتي ارمانونه یې ترسره کړل، زموږ د کونډو، یتیمانو، بې کورو، او در بدره افغانانو په سترګو کې یې د ارمان اوښکې، هغه چې د یوه شرعي او پت ساتونکي نظام په ارمان یې تویې کړې، وچې کړې. زموږ د مظلوم ولس له سر څخه یې د وحشـي داړه مارانو د ظلم او جبر جغ پورتـه کړ، ســتړي ولس تـه یې ارام ورکړ او ظـالمـان یې پـه شـرعي مجازات ورسول.

د افغان ولس دغه سـتر محسـن او ملي ناجي د خپلې وظیفې له سرته رسـولو وروسـته دری کاله وړاندې د ۱۳۹۲ هـــــش کال د ثور په درېیمه نېټه چې د ۲۰۱۳ م کال د اپرېل له ۲۳ سره سمون خوري خپل روح الله تعالی ته وسپاره، د الله تعالی دیدار ته لاړ او خپل ولس یې په الله تعالی وسپاره.

زه د یو داســې چـا پـه حیث چې مرحوم ملا محمـد عمر مجـاهد مې د یوه شخص په حیث په ژوند تر ټولو ډېر مثبت اغېز درلودلی، د ده د خدماتو مننه کوم، مرحوم ملا صاحب ته له الله تعالی څخه کامل اجرونه او جنت الفردوس غواړم.

اې الله تعالی!

زموږ مرحوم امیر په خپلو انعاماتو ونازوه، هغه موږ د اسـلامي شــــــریعت او تربیې پـه وړانګو نـازولي یو. خـدایـه پـاکـه هغـه ته اعلي علیین مقام کې ارام ورکړه، څکه هغه زموږ مظلوم ولس ته د جبر او ظلم له پنجو څخه ارام ورکړی دی او د اسلامي حاکمیت په رڼا یې نازولی دی.

امین یا رب العلمین.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## عمر مجاهد ـ لمر مجاهد

**نعمان لطیف**

د تاریخ پاڼو کې داسې وګړي ډېر کم پیدا کیږي چې د ګفتار او کردار تر منځ تضـاد نـــه لري، د زړه خبرې په خوله راولي او په عمل کې یې پلې کوي. په عصـــــر حاضر کې ملا محمد عمر مجاهد د داســې ځلانده وګړو له جملې څخه یو تن و.(رحمه الله)

ملا محمد عمر مجاهد په لږه موده کې د صادقانه ګفتار او کردار له برکتـــه په نړۍ کې لکـه لمر وځلېـد او د عثماني خلافـت تر نړېـدو را وروســـته لومړنۍ مسلمان قاید و چې، د شـــرق او غرب محکومو مسلمانانو منحیث قاید ومانه او تر بیرغ لانـدې یې جوپـه جوپـه را ټول شـــول. عمر مجاهد چې د دین او وطن لپاره په کوم نیت پورته شوی و، تر پایه صادق پکې پاتې شو.

له یوه پلوه که ملا عمر مجاهد یو پردی جنرال د وطن ور خرڅونې په غوښتنه، د تمامو پښتني روایاتو پر خلاف له خپل دستر خوانه پاڅاوه، له بله پلوه یې د دیني ارزښـتونو د سـاتنې په پار د یوه مسلمان په ننګ ټوله پاچاهي ځار کړه. دغه مرد میدان نه په وطن سودا بازي وکړه، نه یې د نورو غوندې د دین په نوم سوداګري وکړه.

ملا عمر مجاهد بـــه چې ویل: موږ تاریخ لیکونکي نه، تاریخ جوړونکي یو؛ په عمل کې یې ثابتـــه کړه او افغانانو ته یې یو ویاړمن او پر وقاره تاریخ جوړ کړ. د تـاریخ پـه پاڼو کې د عمر مجاهد په نوم ځپرکۍ به د تاریخ د پاڼو هغه ځپرکۍ وي چې لوستونکي به یې لوستلو ته لېواله وي. دوی به د عمر مجاهد په ژوندانـه کې دا راز لټوي چې هغه کوم ځواک و چې یو نوم ورکی عمر یې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


له مدرسې پورته کړ، او لکه د لمر یې په نړۍ وځلاوه او لکه د غر یې د زمانې د هر سرکښ او طاغوت مخې ته ودراوه.
بلې! داسې یو ځواک و او شته دی چې عمر مجاهد یې مبارزې ته وهڅاوه، او دا هغه ځواک دی چې عمر مجاهد ته یې ویښ او اسلامي احساس ور کړی و.
په عمر مجاهد د همدغه احساس له کبله د حالاتو ناکردیو خوب خندا حرامه کړه او په تش لاس، اما په پوره اخلاص یې د ناوړه حالاتو سره مقابلې ته ملا وتړله.
عمر مجاهد د تاریخ هغه ځېره وه چې په لمن هېڅ داغ نه لري؛ عمر مجاهد د ګران هېواد پاشلی او ټوټه ټوټه وجود سره را ټول کړ او د لاجوردو او زمردو غله او د افغانانو په وینه مخمور پاټکیان یې یو پر بل پسې له صحنې ورک او تیت پرک کړه. ملا عمر مجاهد د سرکښو طغاتو خلاف هغه مهال ټوپک ته لاس کړ چې افغانان زیاتي له ژوندونه تنګ شوي ول، عامه او ملي شتمنۍ چور وې، ملي تاسیسات کنډر کنډر او د ټوپکسالارانو په پوستو بدل ول. هر ولایت د زور واکانو تر منځ وېشل شوی و او د هر واټ او سرک پر سر له افغانانو په زور او ګواښ نغدي مالونه احیستل کېدل.
عمر مجاهد داسې مهال د افغان ژغورنې توغ پورته کړ چې د جهاد ثمرات په اوبو لاهو ول، قربانیانې ضایع وې، د یتیمانو، کونډو او ویرجنو افغانانو په حقوقو غاصبو ټوپکمارو ګېډې اچولي وې.
د هېواد له هر ګوټ مو د مظلومو هېوادوالو کریغې پورته کېدلې، په مړو مو رقصونه کېدل او پتمنو خویندو مو د عزت ساتلو په موخه له لوړو ودانیو ځانونه غورځول، او په ټوله کې هر مشر د هېواد د وېشلو لپاره په پردیو دسترخوانو شخوندونه وهل. امیرالمؤمنین ملا عمر مجاهد رحمه الله په تورو

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



تاريکيو کې د ډوبو هېوادوالو په وچو شــونډو هغه مهال موســکاوې خپرې کړې چې د هېواد هر ذي روح سختې مايوسۍ نيولی و.

نه د چا مال خوندي و، نه د چا هال، نه سر سلامت و او نه د وطن غر. د هېواد په هره دره د ډار فضــاء حاکمه وه او د غيورو افغانانو په سرنوشــت مســخرې کېدلې.

عمر مجاهد افغانانو ته د رڼا يو څرک، او په تاريکيو کې ډوبو او سر ســانده افغانانو ته د روښـانـــه سـباوون يو زيری و. عمر مجاهد په معاصره دوره کې لومړنی واکمن و چې نــه يې کوم مجلل قصـر درلود، نه خارجي تجارتونه. نه ترې دنگې ودانۍ چـاتـه ميراث کې پاتې شــوې او نه جريبونه مځکې او بې حسابه ډالرونه.

عمر مجاهد په خپل سياسي بصيرت درک کړې وه چې د صليبي خونخوارو په خلاف د جهادي توغ د پورته کولو په ضد به يې د هېواد ځينې علماء کرايه کيږي او بيـا بـه د ســپېڅلي جهـاد پـه بطلان کې د يرغلگرو لپـاره اســلامي احکـامـات تحريفوي. هغـه رحمـه الله ځکـه د مقـاومت په پيل کې په علماء کرامو غږ وکړ چې که د ډار له وجهې د مجاهدينو مرســته نشــی کولای، لطفاً اسلامي احکامات د يرغلگرو په گټه مه تحريفوی.

له بده مرغه هم هغه وشــول د څه په اړه چې ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله انديښـنه درلودله؛ يو شـمېر علماوو د صليب څنگ ونيوه او د سپېڅلي غزا په اړه يې شکوک وزيږول.

نتيجه دا شوه چې روانه مقدسه جگړه تر کلونو وغځيږي. ځينې ناخبره افغانان يې په دربـاري فتواوو تېر وتل، د دوی د ناروا موخو او گټو د تکميل لپاره يې د خپلو مسـيحاو خلاف ټوپکونه پورته کړه او د مدرسې او کليسې جگړې ته يې د افغـانـانو د خپلمنځي جگړې بڼـه ورکړه. عمر مجاهد لکه د لمر په څېر

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ځلاند او بې ریا مجاهد و، او لکه د غر په څېر له وقار او حوصلې ډک مجاهد و.

هغه څه چې په زړه یې درلودل، په خوله به یې ویل او په عمل کې یې پلي هم کړل. ملا عمر مجاهد که څه هم د شرق او غرب د محکومو مسلمانو ولسونو امیر و، خو غریب امیر و، په غربت کې لوی شــوی و، غریبانه ژوند یې درلود او په داسې غریب خانه کې یې سپېځلی روح خپل آقا او مولا ته وسپاره چې نـه یې د علاج لپاره د ملت په مال، تر امریکا او جرمني منډې ووهلې او نه یې کوم نامي ډاکتر ته مراجعه وکړه.

عمره! تر هغو چې د نړۍ ظـالمان مظلومانو ته د ارام موقع ور نکړي، محکوم ولسونه به دې د پل په تعقیب په ظالمانو خوبونه همداسې حرام وساتي.

عمره!

دا تـه وې چې محکوم تـه دې د ظـالم حـاکم پـه وړانـدې د غرِ پورتـه کولو جرئت ورکړ او ورته ثابته دې کړه چې تش لاس دښــمن نه دی، بلکې اصــل دښمن بې همتي او مایوسي ده.

رحمک الله یا قائد الأمة الاسلامیه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



# د یوویشتمې پېړۍ اتل

طارق بدر

تخنیکر ستوډیو ته د ننوتلو اشاره راته وکړه. په مخامخ لویه هنداره کې مې لونګۍ سمه کړه. ږیره مې بیا ږمنځ کړه. د غاړې کالر مې بیا سم کړ، څادر مې په اوږه کړ، واسکټ مې ژر بدل کړ. خړ واسکټ خوند نه کاوه، تور له سپینو سره ښه ښکارېده. ستوډیو ته ننوتم، مېز ته نېغ ودرېدم، لاس کې مې تشې ورقې په مخته ایښي مېز کېښودې، په مخامخ لوی سکرین کې مې سترګې وګنډلې. له موضوع خبر وم، ځکه خو مې نن خپلې خپرونې ته را بېره وه، نیږدې دوه میاشتې مې یې خبرتیاوې خپرولې. فېسبوک، ټوېټر، راډیو او تلویزیون کې لا له وړاندې اعلانونه خپاره شوي و، خلکو به پرلپسې زنګونه راته وهل: «بدر صاحب! د یوویشتمې پېړۍ اتل خپرونې ته په تمه یو، اعلانونه یې خوند کوي.» ما به یوازې مننې او کور ودانۍ ورته ویل.

«د یوویشتمې پېړۍ اتل» خپرونه له ملي رادیو تلویزیون زما په کوربه توب نوې شروع کېدله او په اعلانونو کې مې یې ټینګار کړی و، چې دې خپرونه کې به د «عصر عمر» له خپلو خلکو سره په ژوندۍ بڼه خبرې کوي، د بریا رازونه به وایي، د سختیو کیسې به کوي او د یوویشتمې پېړۍ اتل د لقب په اړه به یې احساسات پوښتو...

تخنیکر اشاره راته وکړه چې ځان اماده کړه، دوه دقیقې وروسته خپرونه شروع کیږي. ده په ماوس کلیک وکړ او په مخامخ تلویزیون کې چې له لوی سکرین سره څنګ ته ایښی و، سپین بیرغ ورو ورو په رپېدو شو، نرمه ترانه ورسره لوړېده.

سر پورته کوه د خپلواکۍ بیرغه وراپه
ځار مو کړې له تا تنکۍ ځوانۍ بیرغه وراپه

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


وروسته په سکرین زما د خپرونې ځانګړی زیګنال پیل شو، عمري سرښندونکي له بمونو ډک موټرونه د کفارو په پنډغالو ورننباسي، لوخړې پورته شي، د تکبیر کریږه وشي، ورسره جوخت، د لمبو او لوخړو په منځ کې د امیرالمؤمنین تیت انځور ښکاره شي چې په څادر کې نغښتی د طالبانو په بدرګه د کابل ښار کې روان وي، ترانه لوړه شي.
یې د عصر خلیل، یې د عصر عمر
مونږه لر یو که بر، یو ستا پوځ ستا لښکر
د ترانې په منځ کې زما غږ د امیرالمؤمنین له تیت انځور سره را لوړ شي. «د یوویشتمې پېړۍ اتل، په دې خپرونه کې د یوویشتم قرن، بې نمونې مشران درپېژنو، د باروتي ځوانانو وروستي غږونه اورو، د دوی د کورنیو احساسات ګورو او خپل موجود نسل ته د ناټو شرموونکې ماتې مخې ته ږدو!
د یوویشتمې پېړۍ اتل»
د ترانې له ټیټېدو سره د کمرو ګروپونه ولګېدل، د لونګۍ شمله مې له شا را مخکې کړه، په مخامخ لوی سکرین مې لیکلی متن پیل کړ:
د ملي تلویزیون درنو لیدونکو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
نحمده و نصلی علی رسوله الکریم!
د یوویشتمې پېړۍ اتل خپرونه مو د یوویشتم قرن اوسپنیز انسان، د زړونو فاتح او د دې عصر عمر ته ځانګړې ده. ګرانو لیدونکو، په دې خپرونه کې په ژوندۍ بڼه د عالیقدر امیرالمؤمنین تر کوره ځو، له دوی سره خبرې کوو، د ناټو پر وړاندې د مبارزې سترې ترې پوښتو، د زغم، ترحم او مشرۍ د بریا رازونه ترې پوښتو. د دې ستر انسان پر اطاعت ویاړو، ستاسې انتظار پای ته رسوو او دوه دقیقې وروسته به موږ د عالیقدر امیرالمؤمنین له کوره په ژوندۍ بڼه ستاسې په چوپړ کې یو!

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



د ســکایپ غږ مې را وینښ کړم، موډیم مې کمپیوټر کې بند و، ســکایپ مې انلاین پاتې و، د ملګري زنګ مې و، د دروند انســان، د بې جوړې مجاهد، د ستر رهبر عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات سوی پیغام یې راسره شـریک کړ، زما خوب نیمګړی پاتې شو.

رب الـعـلـمـیـن دې د عـالیقـدر امیرالمؤمنین د یوویشــتمې پېړۍ بـاروتي سربښـندونکي همداسـې سره متحد لري او د ستر رهبر ټولې قرباني دې قبولې شي.

آمین

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## هغه افغان؛ چې تاریخ یې بدل کړ

**جواد ځارګر**

سرک ته څېرمه یوه ختېنه مدرسه وه، داسې مدرسه چې دېوالونه یې د اور لوګیو تک تور اړولي ول؛ په دې مدرسه کې یو څو ببرسري او پښې یبله طالبان، د دنیا او مافیها نه ناخبره لګیا ول «قال الله او قال الرسول» یې وایه.

مېړنیو افغانانو یوه نیمه لسیزه له سرو روسانو سره ډغرې ووهلې، داسې ډغرې چې د نړۍ جغرافیه یې پر بله واړوله، مګر یو څو بې وجدانه او شرمېدلیو وګړو د خپلو شخصي ګټو او هوسونو د اشباع لپاره، د افغان ملت پر تاریخي مېړانه خاورې انبار کړې، د همدې تاریخ ساز او ویاړلي ملت شتمنۍ یې چور تالان کړې، افغاني تراث یې په بهرنیو موزیمونو وپلورلې او چې هر څه یې لوټ کړل، د ملت د نوامیسو په لوټلو پسې یې پایڅې بډ وهلې.

د مدرسې تر څنګ لویه لاره ده او د لارې پر سر مدرسې ته نږدې د همدغو لنډه غرو یو پاټک جوړ دی، کوم چې د افغان غیور او قهرمان ولس د مېړانې سوداګر دي.

پر همدې پاټک د یوې افغانۍ خور توهین روان دی، ناتاره کریغو د مدرسې د طالبانو توجه ور واړوله، کریغې ورو ورو زیاتیږي او لیږه شېبه وروسته، د بېوسه خورکۍ چیغې د شپې په تورو تیارو کې ورکیږي.

په سبا د مدرسې طالبان پر ټوله کیسه پوهیږي او عهد کوي چې سر له ننه به د افغان ولس د هوساینې او بقا لپاره ګام پورته کوي.

د ختېنې مدرسې طالبان د داسې چا په قیادت کې خوځښت پیلوي چې نه د دنیا له عصریت سره اشنا دی، نه یې له شیطانت سره، نه توپ لري نه توفنګ، تنها د توکل محض غږ پورته کوي او د همدې توکل پر مټ په نړۍ ځلیږي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



افغان ولس هم یو انتخاب کوي؛ داســې انتخاب چې گرده نړۍ ورته گوته پر غاښ کېږدي.

په یو داسې بېچاره انسان پسې اقتداء کوي چې نه کوم عصري او ماډرن کور لري، نه کوم دوه جریبه مجهز او پرسکونه سالون، او نه په نړیوالو بانکونو کې ډالري اکاونټونه.

د افغانانو دغه انتخاب مبارک انتخاب و، داسې مبارک انتخاب چې د افغانانو په حماسي تاریخ کې یې د شهامت یو بل باب ور اضافه کړ.

په لیږه موده کې یې پاشلی او وېشلی هېواد بیا ځلې سره راغونډ کړ، وحشتونه، نفرتونه او تربگنۍ یې له منځه یووړې او افغانانو ته یې د ارام او پرسکونه ژوند زمینه برابره کړه.

دا مبارک انتخاب څوک و؟

د اوسني پېر اتل او تاریخ ساز شخصیت ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله و.

چا چې د افغان ملت تاریخ ته تغیر ورکړ، چا چې محکوم اســلامي امت ته د مېړانې جرئت ورکړ، چا چې د بدر او احد د غازیانو یاد تازه کړه، چا چې نړۍ ته وښوده چې اسلامي اخوت یعني څه؟

چا چې د نړۍ تمام کفري ځواک ته د سر په کاسـه کې اوبه ورکړې او کفري پرگنې یې په رواني ناروغۍ اخته کړې.

هو، بې لـــه شـکه چې اتل و، بې له شکه چې په محض توکل پاخېدلی و، د هېواد له یوه کونجه را پورته شو او پر تمامه نړۍ وځلېد.

غریـب امیرالمؤمنین و، غریب رهبر و، غریب قاید و، او له شـــل کلن مقاوت وروسته هم په خړه جونگړه کې په ډېر غربت سره وفات شو.

رحمه الله رحمة واسعه.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د هغه چا په یاد چې اوس نشته

**اسدالله زرین**

هغه څوک چې افغاني پت او اسلامي اصالتونه يې غوراوي و، هغه څوک چې د دې لوی ولس په تندې يې د ذلت او بې ننګۍ داغ نه شوای منلی، هغه څوک چې د فقيری ژوند يې د خير او پرمختــګ پيغام و، هغه څوک چې پرمختګ ته هم په اوصولو کې ور خوځېده، هغه څوک چې واک او ځواک يې تر ځان و عيـال نـه جارول، هغه څوک چې د ولس ښــېرازي يې هيله وه، هغه څوک چې ډېر امين و، هغـه څوک چې د پـه ځـان راټولولو مکمـل ديوان و، هغـه څوک چې په ولس او د ولس په رنګ کې واوسېد، هغه څوک چې د اسلامي او افغاني شـهامت بېلګه شو، د هيڅ داړه ور او ځناور پروا يې ونه کړه، ځمکه او اســمان غورا او غړمبـا نيولی و، مرګ را اورېـد، خو ده د ټيکـاو او مېړانې مظاهره کولـــه او خپل مسـلمان ورور شـهيد اسـامه يې مهالي فرعون ته ونه ســپاره. په دغه حالت کې ګرمو ســنګرو ته ورغی، د جهاد بولۍ يې په خپل واک کې واخيســتله. نو بيا د تاريخ هيڅ چاره نه وه، چې پســې ګرځېدلای نه وای. هغه څوک چې د خپل وخت مشــــر و، هغه څوک چې د خپل حســن تـدبير پـه پـايلـه کې يې د جهاد ګرم مورچل هغســې ګرم، ټينګ او يو موټی وساتلای شوای. او دغسې يې په واک، ځواک، مکمل اطاعت او يو موټي بڼه کې خپل ځای ناستي مشــــرتابه ته له مکمل افغانستان سره امانت ورپرېښود. اوس د دوی ذمه واري ده چې د هېواد د تاريخ په دې حسـاسـو، ستونزمنو او برخليک ټاکونکي پړاو کې ســتر امانت ته څرنګه ورګوري. او د دې کړېدلي ولس ورکړو ســترګو او ســتومـانه هيلو ته څه پيغام لري، شــړېدلي ټپونه يې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ځرنګه ور پټي کوي، د ناهیلیو او اندېښنو پېټي يې ځرنګه له اوږو ایسته کوي، د بې وسې، بې کسې او یو له بله د بــــدو ایسېدو پردی او د غلیم لورېدلی احســاس ځرنګـه د ورورګلوي، مینې او خپلوي پـه غېږو کې سر ويی او پـه تېښـته يې اړباسي. دا ټول هله کېدلای شي چې د هېواد هره لوټه افغانستان او هر وګړی افغان او د تل پاته سنګر ساتونکی او د ګران افغانستان معمار وبلل شي. بدغونی غلیم او اغېز يې د ګران هېواد له پولادي پولو ډېر لرې وغورځول شي. زمونږ د پیاوړي ولس ځانګړنه ده چې مشــر او مشـرتوب مني، خو چې مشـر پردی پالی او غلام ګی نشي. او هغه څوک چې اوس نشته او موږ يې په یـاد کې پاتې یو، هغه مرحوم ملا محمد عمر مجاهد ده چې د مرګ داعي ته يې لبیک ووایه، روح يې ترې واخیسته او په افغان ولس او امت يې حق پاتې شـو چې په دعاوو سره يې روح ښاد او تسلي کړي، او له نېژدې خپلوانو سره يې یو ځای د دې لوی ملي او اسلامي ویر په کمبله کیني.

اناالله وانا الیه راجعون.

Downloaded from Bawar.net

*د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین/۱۰۵*

## ملا محمد عمر مجاهد ته!

**سهار خارگر**

اې د تاریخونو ویاړه!

اې د ننگونو او اتلولیو دنگ مناره!

اې د شجاعت او مېړانې هسک څلیه!

اې د غیرتونو او کارنامو اسمانڅکیه!

اې د وخت بت شکنه ابراهیمه!

اې د خوږو زړو ټکوره!

اې د مظلومانو د اوښکو پاکوونکیه!

اې د استقامتونو لوړه پامیره!

اې د اسلامي امت د برم سرتاجه!

اې د پاشلي امت د وحدت سالاره!

اې د مړاوي امت د بیا ژوند روحه!

اې د اسلامي امت د پگړۍ گله!

ته وې چې اسلامي پاشلی امت دې راټول کړ.

ته وې چې د اسلامي امت برم دې بیا ژوندی کړ.

ته وې چې د اسلامي امت مړاوې هیلې دې را ژوندی کړې.

ته وې چې د اسلامي امت د یتیمانو اوښکې دې پاکې کړې.

ته وې چې د اسلامي امت د کونډو د سر پړونی شوې.

ته وې چې د اسلامي امت د مظلومانو آه دې واورېده.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ته وې چې د اسلامي امت لوېدلی عزت دې یو ځل بیا ور په برخه کړ.

تـه وې چې د نړۍ پر مخ دې یو ځل بیا له نبوي انقلابـــــه واخله تر عثماني انقلابـه پورې ګرد انقلابونـه را ژوندي او د هغوی یو ریښتینی ترجمان شوې.

ته وې چې ایوبي دې بیا خلکو ته ور یاد کړ.

ته وې چې زنګي دې بیا پر خلکو وپېژانده.

ته وې چې د اســلامي امت هر ســالار چې تاریخ په خپله حافظه کې ســاتلي ول، امین او رښتینی خلف شوې.

ته وې چې د احمدشــاه، محمود، میرویس او د افغاني اتلانو رښــتینی بچی او امین وارث دې ځـان جوړ او د دوی هېر کړی تـاریخ دې نړیوالو تـه پـه پوره مېړانه او جرئت یو ځل بیا ور یاد کړ.

اسلامي امت ستا پوروړی دی.

اسلامي امت ته به داسې تاجونه رب جل جلالـه ورکړي خو وخت به ونیسي.

اسلامي امت به تا هیڅکله هېر نکړي.

ته زموږ په زړونو کې یې.

ته زموږ په فکرونو کې یې.

ته زموږ سره یې.

ته به زموږ سره وې.

تا نه هېروو.

ته به هیڅکله هم هېر نشې.

تا خپل ځان د تاریخ په سپېڅلي پاڼـه کې، په زرینو کرښو ثبت کړی دی.

Downloaded from Bawar.net

**د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین/۱۰۷**

خو اې الله! موږ دې په فراق خفه یو.

موږ دې هجران وځپلو.

زموږ زړونه ستا د بېلتانه د لښکر ښکار شول.

خو ګرانه او سپېڅلیه امیره!

زموږ قافلې به ستا د قدم پل وهونکي وي.

ستا تګلاره به د دوی تګلاره وي.

ستا روزلي زموږ لپاره بس دي.

موږ پر تا وياړو.

ته زموږ سالار وې.

تا موږ ته هغه څه پرېښودل چې تاریخونه به یې په سرو زرو ولیکي.

ته مه خفه کېږه!

ستا ډلې ډلې کاروانونه اوس هم ستا دي.

اوس هم ستا پر پله روان دي.

پای!!!

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## دریم څپرکی

## مرکې او خاطرې

### له امریکا غږ سره د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد مرکه

**ژباړن: مولوي فضل الرحمن حقاني**

**یادونه**: د ملامحمد عمر مجاهد یوه مرکه د وایس آف امریکا (امریکا غږ) راډیو سره په کال ۲۰۰۱ کې ثبت او ریکارډ شوې وه، چې لا تر هغه مهاله امریکا په افغانستان یرغل نه و کړی، خو اراده او اعلان یې کړی وه. د امریکا دفاع وزارت په دې مرکې بندیز ولګاوه او د نشرولو مخه یې ونیوله، خو بیا یې وروسته تقریباً په ۲۰۱۲م کال کې د نشر اجازه ورکړه. وایس آف امریکا دا مرکه اوس په لیکنې بڼه خپره کړې چې په لاندې ډول ده:

**امریکا غږ**: ایا تاسو خبر یاست چې امریکا د تروریزم پر خلاف د جنګ اعلان کړی؟

**ملا عمر**: زه فی الحال په دوه اعلانونو کې غور او فکر کوم، یو هغه اعلان چې الله جل جلاله کړی او بل هغه چې جارج بُش کړی. د الله جل جلاله اعلان هغه وعده ده چې الله جل جلاله له مسلمانانو سره کړې ده چې ځمکه ډېره وسیعه او پراخه ده، که چېرته ته د الله جل جلاله په لاره کې ووځې نو که هر چېرته یې، الله جل جلاله به دې حفاظت کوي. او دویم د جارج بُش اعلان دا دی چې تاسې که هر چېرته پټ شی، نو موږ به مو پیدا کوو او وژنو به مو او په دنیا کې داسې ځای نشته چې تاسې پکې پټ شی او مونږ مو پیدا نه کړو. نو د چا اعلان رښتونی ښکاري؟

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


**امریکا غږ**: ایا تاسو په خپل ځان، په طالبانو او د افغانستان په عام ولس نــه ډارېږئ؟

**ملا عمر**: الله سبحانه وتعالی د ایمان والاوو او مسلمانانو مدد کوي. ترڅو چې کفار په خپل کفر پاتې وي، الله به ور څخه راضي نه شي او اطمنان به ور نکړي. د دنیا په اعتبار سره امریکا ډېره طاقتوره ده، لِکن امریکا که د دې دوه چنده نوره هم طاقتوره شي بیا هم مونږ ته ماتې نه شي را کولی. ځکه چې زمونږ په الله جل جلاله باندې ایمان دی او الله جل جلاله له مونږ سره دی، نو مونږ ته هېڅوک هم ماتې نه شي راکولی.

**امریکا غږ**: تاسو وایاست چې زه هېڅ وېره نه محسوسوم، حال دا چې په ټوله نړۍ کې افغانان په غم او سوچ کې پرېشانه دي؟

**ملا عمر**: مونږ هم پرېشانه یو، آینده ډېر سخت حالات را روان دي، خو زمونږ د الله جل جلالــه په رحمت باندې ډېر کلک یقین او ایمان دی. او د الله جل جلاله رحمت مونږ ته اطمینان راکوي، ځکه چې د الله جل جلاله نصــرت له مســلمانـانو سره دی. هغه مســلمانان چې د امریکا له ډاره مونږ ته وایي چې اسـامه بن لادن امریکا ته وسـپارئ، سـبا به همدغه خلک مونږ ته ښـکنځلې کوي او وایي بـه چې اســلام یې لـه خاورې سره خاورې کړ او په یو مســافر مسلمان یې ننگ ونه کړ.

یوه خبره بـه درته وکړم، چې امریکا په خپل هېواد کې دا ډول بریدونه (۱۱/۹) نه شي بندولی، ځکه چې امریکا په ډېرو اسلامي هېوادونو باندې یرغل کړی، او تر خپل تسـلط لاندې یې را وسـتلي او په مسـلمانانو ظلم کوي. که امریکا رښتیا امن غواړي، نو مسلمانان دې په کرار او ارام باندې پرېږدي او دوی سره دې کار نه لري.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**امریکا غږ**: ستاسو له دې خبرې نه څه مطلب دی چې امریکا ټول مسلمان دولتونه اشغال کړي او یرغل یې پرې کړی؟

**ملا عمر:** امریکا ټول اسلامي هېوادونه په خپل کنترول کې نیولي دي او په خپله لار یې روان کړي دي، همدا وجه ده چې دا ټول حکومتونه له خپلو ولسونو څخه ډېر لرې دي. خلک په اسلام عمل غواړي، خلک اسلامي قانون او حکومتداري غواړي، او حکومتونه د دوی په غوښتنو باندې هېڅ غور نه کوي.

څوک چې د اسلام په لاره ځي، نو حکومتونه یې نیسي او زندان ته یې اچوي. امریکا یو فساد منځته راوړی چې په مونږ ټولو یرغل کونکي دي، فساد به نه ختمیږي، اګر که زه مړ شم یا اسامه بن لادن مړ شي. دا فساد د امریکا پالیسي ده.

ای امریکایانو! تاسو ته په کار دي چې په خپله پالیسۍ نظر ثاني وکړی، تاسو ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول اسلامي نړۍ تر خپل تسلط لاندې نشی راوستلی.

**امریکا غږ:** که چېرې تاسو د امریکا په وړاندې له خپل ټول ځواک سره وجنګیږی، نو ایا امریکا به تا له ماتې سره مخ نه کړي او ستا قوم او ولس به نور هم خوار نه شي؟

**ملا عمر:** په ظاهره خو همداسې ښکاري، خو زما یقین دی چې داسې به ونه شي. خو دا خبره په یاد ولرئ چې مونږ په الله جل جلاله باندې له یقین او توکل څخه زیات نور څه نه شو کولی. او څوک چې په الله جل جلاله یقین او توکل ساتي، نو الله جل جلاله ورسره د مرستې او نصرت وعده کړې ده.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د تیسیر العلوني مرکه

**یادونـــــه**: تیســیر العلوني؛ د الجزایرې تلویزیوني شــبکې هغه خبریال چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال شــاوخوا دوه کاله په افغانســتان کې پاتې شــوی. ښاغلی علوني له هغو کمو خبریالانو څخه دی چې له ملا محمد عمر مجاهد سره یې لیده کاته ترسره شــوي. له نوموړي خبریال سره د هافینګټن پوســټ عربي ویبپـاڼې د ملا محمد عمر مجاهد د ژوند، اند او واکمنۍ په هکله مرکه کړې:

**پوښــتنه:** ملا محمد عمر مجاهد سره د لیدنې لامل، اغېز او شــالید په اړه څه وایاست؟

**علوني**: ما ۲۰۰۱ ز کال د اپرېل په میاشـــت کې له ملا محمد عمر سره ولیدل او همدغه میاشت کې مې د طالبانو هغه پلاوي سره هم د قطر پلازمینې دوحې ته د الجزیرې تلویزیون د خبریال په توګه سفر وکړ. له دوحې د راګرځېدو پر مهال د طالبانو پلاوي باید له ملا عمر سره د سفر د پایلو په اړه لیدلي وای. نو ما د طالبانو د پلاوي لـــه یوه چارواکي وغوښتل چې ملا صاحب سره د لیدو زمینـه راتـه برابره کړي او چـارواکي هم دا ژمنه وکړه چې دا کار به کوي. دغه مهال ملا محمد عمر له ژورنالېستانو سره خپل ملاقتونه بند کړي و.

او لامل یې دا وو چې خبریالانو به د ملا عمر په انځور ویستلو ټینګار کاوه. په اولو وختونو کې د ملا عمر دفتر لـه خبریـالانو ژمنې اخیســتې چې د انځور اخیستو هڅه به نه کوي، مګر یو شمېر خبریالانو به بیا هم د ژمنې ماتولو هڅه کوله او ما په دغسې یو سخت وخت د ملا عمر د لیدو تلوسه کوله.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


او ما دا خبره وکړه چې زه د ژور نالېستيک رسالت لپاره ملا صاحب سره نه ګورم، بلکې زما يوازينی غوښتنه د ملا صاحب د ژوند په اړه معلومات او د ده ليدل دي.

ملا عمر زما غوښتنه ډېر ژر ومنله او په سبا مازيګر يې د اميرالمؤمنين دفتر ته وغوښتلم. دغه دفتر ته وروسته له هغه ورغلی وم چې د نوموړي پخوانۍ دفتر د يوې چاودنې ښکار شوی و او په دغه چاودنه کې د ملا صاحب تره او ځينې نور خپلوان وژل شوي و او ما په خپلو سترګو هغه کنده هم وکتله چې د چاودنې له امله رامنځته شوي وه.

د ملا عمر دفتر او استوګنځی د عامو خلکو د کورونو په څېر و او د دفتر مخې ته هر ډول خلکو او موټرو د تلو او راتلو اجازه درلوده.

مونږ په وړوکي موټر کې په ډېره اسانۍ د ملا عمر رسمي دفتر ته ننوتلو او دهغه ځينو همکارانو مونږ يوې لويې خونې ته بوتلو، چې افغاني قالينې او له پاسه پرې واړې توشکې هوارې وې.

په دغه کوټه کې هېڅ داسې ځانګړې ځای يا څوکۍ نه وه چې نورو هېوادونو کې د مشر لپاره اېښودل کيږي او د خونې دېوالونه له هر ډول ښکلا او زينت بې برخې ساده پاده وو. لږه شېبه وروسته ملا عمر له خپلو دوو ساتوونکو سره خونې ته راننوت او ناست خلک ټول د ده سلام لپاره په کتار ودرېدل او زه په دغه کتار کې دريم يا څلورم تن وم. د طالبانو د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل زه ملا صاحب ته ور وپېژندم.

نرۍ دنګ سړی و، توره ګڼه ږيره يې وه، يو نيم سپين ډکی هم پکې و، ښکلي څېره يې وه، افغاني دوديز کالي يې پر تن و او توره افغانۍ لونګۍ يې پر سر

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



وه. د سړي رغب او هیبت زه دې ته پرېښودم چې زه ملا صاحب ته زیر زیر وگورم. مگر هغه مهال چې نوموړی د خونې په ښـــي کونج کې کېناســـت، بیا مې له یو اړخه په زیر زیر ور وکتل. ښــه مې په یاد دي چې دغه پلاوي کې د بهرنیو چارو وزیر مولوي متوکل، د پلان وزیر، د سترې محکمې رئیس او گڼ نور لوړ پوړي چارواکي ملگري و.

ملا محمد عمر خپلې خبرې د پلاوي په ښه راغلاست پیل کړې او وروسته د پلاوي هغه غړي خبرې پیل کړې چې په عمر کې تر ټولو مشـــر و او ورپسې هر یو دوحې ته د خپل سفر لنډیز وړاندې کړ. ملا عمر د پلاوي له ځینو غړو ځینې پوښتنې کولې او د ځینو خبرو سپیناوی به یې غوښت.

د غونډې په پای کې ملا عمر په پښتو ژبه لنډې خبرې وکړې او د غونډې یو گـډونوال زما غوږ کې د نوموړي خبرې په عربي ژباړلې او له خبرو وروســـته نوموړی له خپلو څو ملگرو سره ووت.

دغه مهال مې ځینې سر خریلي ماشـــومان ولیدل، نو د بهرنیو چارو وزیر راته وویل: چې دا د ملا صاحب زامن دي. د دغو ماشومانو جامې د عادي افغانانو په څېر وې او هېڅ ځانگړی امتیاز یې نه درلود.

**پوښتنه**: ستاسې شخصي انگېرنه د ملا عمر په اړه څه وه؟

**علوني**: لومړنۍ خبره خو دا ده چې سړی ډېر دروند او با رعبه مشـــر و، خپلو همکارانو او کشـرانو سره یې تعامل د پام وړ و.

ملا عمر سره د لیـدو پر مهـال مې فکر وکړ چې زه د یو رښـــتیني حـاکم پـه حضور کې یم او سره له دې چې واکمني یې ډېره ساده او له هر ډول رسمیاتو خالي وه، مگر بیا یې هم په جلسه رعب ډېر زیات و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**پوښتنه:** ایا د نوموړي امنیتي چارې او لـــه هغه سره لیدل ډېر سخت و او که اسانه؟ او بله دا چې امنیتي تدابیر یې په اسانه له منځه تلی شوای کنه؟

**علوني**: داسـې ځانګړي او قوي امنیتي تدابیر نه تر سـترګو کېدل او زه خو له رسـمي چارواکو سره ورغلی وم، نو ځکه هیڅا را څخه پوښتنه ونکړه، مګر له عامو افغانانو مې چې پوښـتنې کړي، نو راته یې ویلي چې دروازه یې د عامو افغانانو او په ځانګړي توګه د علماوو او رسمي مامورینو لپاره تل خلاصه وي او عام ولســـي وګړو سره یې هم لیده کاته په ډېره اسانه کېدل. ملا عمر به له عـامو منـاســبتونو لکـه د جمعې او اخترونو لمونځونو څخـه هېڅکلـه هم نه غیبېـده. ښــار تـه به هم په داســې وخت کې را ووت چې موټر به یې پخپله چلاوه. او چې د لمونځ وخت بـــه راغی، نو خپله به جمعې ته ورانديې شو او لمونځ بـه یې ورکړ. ډېری وخت به مازیګر له خپلو ملګرو سره په چکر ووت او خپـل څادر به یې ویړ کړ او خپلې خبرې به یې کولې. زه فکر نه کوم چې ملا صـاحب دې کومه ورځ په څوکۍ کېناسـتلی وي. په عامه توګه ویلی شم چې ملا محمد عمر هېڅ سـختو امنیتي تدابیرو ته اړتیا نه درلوده ځکه چې ده ځان ولســـي سړی باله او ټول کړه وړه یې د ولســـي خلکو په څېر و. هېڅکله یې هم ګڼ شمېر ساتوونکي نه لرل او نه یې د موټرو اوږده کتارونه خوښېدل. او له شـمالي ټلوالې پرته یې په هېواد کې هېڅ دښمن نه لره، د طالبانو تر ټولو ستره توره دا وه چې له سختو وخشـــي او ناامنه حالاتو وروسته یې افغانستان کې یو ځل بیا سرتا سري امنیت راوسـت. ما چې دوه کاله د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په افغانسـتان کې تېر کړل، نو د امنیتي چارو ښـه والی د واشـنګټن او پـاریس پـه څېر پرمختللو هېوادونو څخه څو چنده غوره و. د ملا محمد عمر

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


دفتر مخې ته د چاودنې په اړه د طالبانو څېړنې دا وې چې د بهرنیو استخباراتي کړیو لاس پکې و.

**پوښتنه:** تاسې څه فکر کوی چې د ملا عمر وفات به د طالبانو په غورځنګ منفي اغېز ولري؟

**علوني:** که دا خبره رښتیا وي چې ملا عمر دوه کاله وړاندې وفات شوی او تر اوسه د طالبانو د غورځنګ چارې همداسې په منظمه توګه پر مخ روانې دي، ورځ تر بلې پرمختګ کوي. د امریکایي ښکېلاک پر ضد یې مقاومت نور هم قوي شوی، که اوس هم کړنلاره عملي او جاري وساتي او د خپل صف یووالی وساتي نو د طالبانو صف کې د قیادت خلا نشته او که څه ستونزه رامنځته کیږي نو د بهرنیو استخباراتي کړیو هڅې به وي.

**پوښتنه:** څه فکر کوی چې ملا عمر یو زعیم، دیني عالم، سیاسي او عادي سړی و؟

**علوني:** ما چې څومره د ملا عمر سیرت او ژوند څېړلی، چې دی د افغانستان واکمن او تر مرګه یې و، نو زه ویلی شم چې د ده په اړه خپل نظر داسې څرګند کړم: د افغانستان سخت زړي او سرکشه خلک دي، دغه ولس په قومونو او قبیلو وېشل شوی او نوموړي سره له داسې مشکلاتو هم پر افغان ولس حکومت وکړ، نو ملا عمر یو قوي زعیم او واکمن و. دا منم چې ملا عمر سیاسي زده کړې نه وې کړې، مګر په عملي ژوند کې یې او د خپلو تېروتنو څخه یې په ډېره بیړه عبرت واخیست او د ۱۹۹۴م کال سیاست یې په راتلوونکو کالونو کې ډېر ژر بدل کړ او ډېر ژر یې خپل کورني او بهرني سیاست کې بدلون راوست. په ډېره لنډه موده کې یې په سیاسي لوبو داسې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



سر خلاص شــو، چې امریکـایـانو تـل هڅـه کولـه چې ملا عمر سره اړیکې وسـاتي او طالبانو لپاره په قطر کې سـیاسي دفتر پرانیزي ترڅو له افغانسـتانه د خپلو عسـکرو د ویسـتلو لپاره یوه کړنلاره وټاکي، چې خپل ولس ته یې مخ روڼ وي. امریکـا هڅـه کوي چې خپـل ولس او نړۍ ته وښــيي چې دوی له افغانسـتانه په داسې حال کې ووتل چې هېواد کې یې یو سـالم نظام پرېښود، مگر ځمکني حقـایق بیـا دا وایي چې افغـانســتان د امریکا له لاســه یو ناکام دولت دی. په ټولنیزه، سیاسي او اقتصادي چارو کې په بشپړه توگه ناکامه دی. او په فساد کې د نړۍ وتلی دولت بلل کیږي. امریکا چې پر افغانستان د یرغل پر مهال کوم هدفونه او موخې اعلان کړې وې، تراوسه د دغو موخو په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي او تر ټولو سـاده مثال یې افغانسـتان کې د نشه یي توکو کرل او کاروبار دی، او دوی هوډ کړی و چې افغانستان کې به د نشه یي توکو کرکیله او کاروبار له منځه وړي، په داسې حال کې چې د ۲۰۰۰م کال په پای کې ملا عمر په یو فرمان په ټول هېواد کې د مخدره موادو کاروبار صفر ته را ټیټ شوی و او د ۲۰۰۱م کال په پسرلي کې نړیوالو ادارو وویل چې افغانستان له اپیمو پاک هېواد دی. مگر د امریکایانو له راتگ سره افغانسـتان یو ځل بیا د اپیمو تر ټولو ســتر تولیدوونکی هېواد شــو. دا یې مثال دی. بل مثال یې دا دی چې امریکا د ملا عمر او اسـامه ځای نشـو پیدا کولای، تاسـې د نړیوالو ادارو هغـه راپورونـه هم چې افغانســتان کې د امریکایي عســکرو او د افغان دولت د فساد په اړه یې لیکلي دي، او دا خو لا پرېږده چې د افغانستان امنیتي او سیاسي وضعیت د امریکایانو له امله تباه او برباد دی.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


زه په لنډو ټکو کې ویلی شم چې ملا عمر یو رښتینی افغان و او اصولي سړی و، او داسې ډېره ستونزمنه ده چې یو وخت کې دې سړی هم اصولي وي او هم سیاستوال. د مثال په ډول هغه دا هېڅکله هم ونه منله چې اسامه بن لادن او د هغه نور عرب ملګري امریکا یا د هغوی خپلو هېوادونو ته وسپاري او سره د دې چې دی په دې خبره ښه پوهېده چې دا انکار به د ده لپاره ډېر تاواني وي او همداسې وشول. نو دا سړی موږ یو عادي سړی بللی شو؟

**پوښتنه**: ایا د ملا عمر د شخصیت کومه ځانګړنه راته ښودلی شی؟

**علوني**: ښه به دا وي چې د ملا عمر د شخصیت ځانګړي صفتونه او خویونه یې یاد کړو، ځکه چې د نوموړي مثبت اړخونه ډېر زیات دي. زما د تجربې له مخې ملا عمر د کلمې په اصلي معنا یو نر سړی و او د سړیتوب ټول مثبت خویونه پکې را ټول شوي و. ځکه په حدیث شریف کې راځي، قوي او تکړه سړی هغه نه دی چې ډېر زورور وي؛ بلکې قوي سړی هغه څوک دی چې د غوسې پر مهال خپل نفس کنترول کړای شي. یو وخت افغان عربانو (افغان عربان هغه اصطلاح ده چې نړیوالو رسنیو په افغانستان کې مېشتو عربانو ته کاروله) ملا عمر سخت غوسه کړی. هغه عربان چې د اسامه په مشرۍ په افغانستان کې اوسېدل، څو څو ځله ملا عمر منعه کړي و چې له افغانستانه په نورو هېوادونو کې بریدونه ونکړي او سره له دې القاعدې په کېنیا او تانزانیا کې د امریکا پر سفارت برید وکړ.

دغه مهال ملا عمر د القاعدې مشران یو ځل بیا منعه کړل. او ورته یې وویل چې د ده له امره سرغړونه ونکړي. له هغې وروسته القاعده یو ځل بیا په یمن کې پر امریکایي بېړیو برید وکړ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ملا عمر یو ځل بیا دوی ته وویل چې بیا داسې ونکړي او عربانو یو ځل بیا د ده لـه خبرو سرغړونـه وکړه او سره له دې هم ملا عمر د عربانو پر دې کارونو صبر وکړ او دا فکر یې وکړ چې دا عرب مجاهدین مسافر دي او د شوروي د یرغل پر مهال یې د افغانانو مرسته کړي او کړاوونه یې گاللي. اوس که موږ او تاسې دغه تصور وکړو چې موږ به چا سره له دومره زغمه کار واخلو؟ نو دې ته د نفس او عقل ضبط او کنترول وایي.

دا بـایـد ووایم هغـه دا چې ملا عمر د اســامـه لـه هغو ارادو نـه و خبر چې د ســپتمبر ۱۱ د پېښــې لپاره کوم پلان تیار کړی و. دا باید ووایم چې کله د بن لادن لـه خولې د امریکـایـانو د ځپلو خبرې را ووتې، نو د دواړو تر منځ خلا رامنځته شـوه. له دې پېښــې وروسـته چې د امریکایي یرغل شـېبې را نیږدې شــوې، ملا عمر او اســامه دواړو پرېکړه وکړه چې د را روانو ســتونزو په اړه مخـامخ سره ووېني. د ۲۰۰۱ م کـال د اکتوبر پر ۷ مـابښـــام د ملا عمر پـه اسـتوگنځي کې سره وگوري. اسامه د ملا عمر دفتر ته پر لار و چې امریکایي الوتکو بمبار پیل کړ او د ملا عمر دفتر یې هم بمبار کړ. اسـامه له نیمې لارې را وگرځېده، ملا عمر په معجزانه توگه خوندي پاتې و او ځینې ساتوونکي یې شهیدان شوي و.

ایا زه به وتوانېږم چې د ملا عمر ستاینه په څو جملو کې وکړای شم؟

لـه ټولو هڅو سره بیا هم نه توانېږم چې د ملا عمر د ســتاینې حق اداء کړم او دغه الفاظ نلرم. بس دومره وایم چې ملا عمر یو بې ساری قاید، زعیم او مشـر و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## له شرق الاوسط ورځپاڼې سره د ذبیح الله مجاهد مرکه

**یادونـــه:** شـــرق الاوسط ورځپاڼې د طالبانو د ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد سره د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات، د نوي مشـرتابه، د طـالبـانو د یووالي او مالي امکاناتو په هکله مرکه کړې. یاده مرکه د یرموک مجلې په دوهمه ګڼه کې هم خپره شـوې چې له یادې مجلې څخه یې دلته را اخلو:

**پوښتنه**: ملا محمد عمر څه وخت وفات شوی، که معینه نېټه یې راته په ګوته کړی او په کوم ځای کې خاورو ته سپارل شوی؟

**ځواب**: بسـم الله الرحمن الرحیم. الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی أما بعد:

عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په کال **۲۰۱۳**م د اپرېل په **۲۳** ورځ د ورپېښـې ناروغۍ له کبله وفات او په خپله خاوره افغانسـتان کې چې چېرته اوســېده هم هلته دفن کړای شـــو، چې د امنیتي ملحوظاتو له امله نشو کولای د نوموړي د تدفین ځای تعین او څرګند کړو.

**پوښـــتنه**: د دومره اوږدې مودې لپاره ولې د تحریک له جنګیالیو او سـیاسي مشـرانو څخه دا خبر پټ ساتل شوی وو؟

**ځواب:** تاسـو پوهېږی چې موږ په خورا ستره جګړه کې له یوه ظالم اشغالګر دښـــمن سره پـه جګړه بوخـت یو، د امیرالمؤمنین د وفـات د خبر لوځولو د هغوی پـه معنویـاتو جـدي تـاثیر لاره، د دښـــمن پـه وړانـدې د مجـاهدینو د روحیـاتو د کمزوري کېـدو جـدي احتمال وو، نو مو د جیدو او جنیدو علماء

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



کرامو په فتوی د امیرالمؤمنین د وفات خبر پټ او راز وساته او اعلان مو نشو کړای، لکه څرنگه چې ورته پېښه په خیرالقرون کې د حضـــرت ابو عبیده بن جراح رضی الله تعالی عنه لخوا د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه د وفات خبر له هغو مجاهدینو څخه پټ وســاتل شــو چې په یرموک کې د حضرت خالد بن ولید رضی الله تعالی عنه په مشــرۍ په جگړه بوخت و، کله چې جگړه ختمه شــوه او مجاهدینو ته د وفات د خبر رسېدو زمینه مســاعده شــوه، بیا نو د حضـــــــرت ابو عبیده بن جراح رضـــی الله تعالی عنه لخوا د امیرالمؤمنین ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د وفات خبر تصدیق شو. هلته هم د وفات د خبر پټ ســاتلو اســاسي علت د جگړې په مهال د مجاهدینو د معنویاتو ســاتل و. نو لازمه وگڼل شــوه چې فقط هغه څو نفره مشـــــران او د مرحوم امیرالمؤمنین رحمـه الله کورنۍ پـه لومړي سر کې پـه وفات خبر کړی شي، هغه کفایت کوي، نور څوک باید خبر نشـــــي او خبر د یوه سر په ډول پټ وساتل شي.

**پوښتنه:** د ملا عمر له وفات وروسته د اختلافاتو خبرونه څومره حقیقت لري؟

**ځواب:** د امیرالمؤمنین د وفات څخه وروســته په خورا عاجله او لازمه توگه د جهـادي حـالاتو بـاریکۍ تـه په کتو د اهل الحل والعقد شــورى لخوا چې د رهبري شــورى له غړو او د جیدو علماء کرامو څخه ترکیب شــوې وه، پرېکړه وشــوه چې نوی زعیم ملا اختر محمد منصــور وي. ځکه هم د دې کار وړتیا لري، هم یې دا څو کاله عملاً د ټول امارت رهبري په ســختو شـــــرایطو کې وکړه، د مجـاهـدینو پرې اعتماد دی او د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله لپاره هم د اعتماد وړ شخص و، نو هغه د نوي امیر په توگه غوره شو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


کله چې د نوي امير د ټاکل کېدو خبر خپور شو، له ټول هېواد څخه د جهادي محاذونو مشـــرانو، قومندانانو، مخورو، علماء کرامو، مجاهدينو او عام ولس د بيعتونو لړۍ پيـل او په ۷۲ ســاعتونو کې تقريباً د هېواد له هرې برخې څخه د بيعتونو پيغـامونـه را ورســېدل او دا خبره يې څرګنده کړه چې مجاهدينو ته د صـف د واحد سـاتلو مسئله څومره مهمه وه او همدا راز په خپلو مشـــرانو او علماء کرامو باندې څومره کلک اعتمادي او باوري ول. او شخصاً د ملا اختر محمد منصور په ټاکنه څومره راضي ول. پاتې شوه د يوه يا دوو نفرو اختلاف، هغه هم له امير سره نــه، بلکې د ټاکل کېدو په پروسه او طرز العمل بانـــدې، هغه دومره جدي نه دی او دا طبيعي ده چې دومره لوی صــف کې د مختلفو افکـارو او برداشـــتونو لرونکي اشـــخـاص را ټول شـــوي او خامخا به بېلابېل نظريات موجود وي، خو هغه نظريات په اســاسي توګه جدي نه وو او ډېر ژر بـه د حـل لازمې لارې ورتـه ولټول شي، د علماء کرامو وفـد پرې جـدي کار کوي او موږ په صف کې د ننه هېڅ اندېښنه نه ترې لرو.

البته اســلامي امارت د خپل مکلفيت، زغم او مســؤليت له مخې بيا هم هڅه کوي چې دغو کســانو تـه هم بېرته قناعت ور کړي چې د امارت په حمايت کې پاتې شي او د اسـلامي امارت دښـمنانو ته د امارت پسې د پروپاګند کولو موقع پـه لاس ورنکړي او پـه اګـاهـانه يا غير اګاهانه ډول د پردو لاســونو آله جوړه نشي.

**پوښتنه**: په غرب کې موږ دا خبرې ډېرې اورو چې د طالبانو مبارزه د پاکستان د اســتخبـاراتو لـه لوري پر مخ وړل کېـده، او ملا عمر يوازې ســمبوليـک شخصيت وو، حقيقت څه دی؟

Downloaded from Bawar.net

**ځواب:** هو! داسې پروپاګند تنها زموږ پسې نه، بلکې د هر ازادۍ غوښتوونکي، خصوصاً بیا مسلمان تحریک پسې ویل کیږي. تهمت ویوونکي د الله تعالی په نصرت او مرسته باور نه لري، هغوی د عقیدې په لحاظ په الله تعالی او د هغه په لاره کې په جهاد او قربانۍ باور نه لري، نو حیران پاتې دي چې څرنګه ممکنه ده چې دومره ضعیف او تش لاسي مجاهدین داسې بریالي شول او دومره غټ دښمن یې مات کړ؟. نو د خپل عقل د تسکین لپاره هڅه کوي زموږ مبارزه کله تر پاکستان پورې وتړي، کله یې بېرته په امریکا او د هغو تر استخباراتو پورې وتړي او کله نور افواهات ووایي.

موږ ډاډ ورکوو چې زموږ جهاد د هیچا د احسان پوروړی نه دی، او نه هم بهرنۍ مرستې او استخباراتي پټ لاسونه کولای شي چې دومره غټه مبارزه پر مخ بوزي. ځکه که بهرنۍ مرستې او د استخباراتو همکاریو ګټه درلودای، نو بیا به یې امریکایانو او د هغو لاسپوڅو ته ګټه کړې وای. ځکه د نړۍ په سطحه امریکا ډېر قوي استخبارات لري او په پټه هم نه بلکې برالا یې زموږ په هېواد کې دا څوارلس کاله فعالیت وکړ، خو نتیجه یې صفر ده. او که بهرنۍ ملاتړ ګټه درلودای، نو د کابل اداره به اوس له هر مشکل څخه خلاصه وه، ځکه د ۴۹ بهرنیو مجهزو هېوادونو مرسته ورسره وه. دا چې ټول ناکام شول، دا د الله تعالی د دین برکت دی او د مجاهدینو په مقابل کې د هغوی د بطلان ښکاره نښه ده. هغه خلک چې عقل یې د دغه رمز درک نشي کولای، په موږ پسې بد اتهامات تړي او دا د هغوی د عقل او درک سویه ده.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**پوښتنه:** ايا طالبان داسې يوه حالت ته راغلي چې ځواکمن مشـــرتابه ته اړتيا ولري ترڅو يې صفونه يو موټی کړي، او د طالبانو د تحريک په راتلوونکي به د دې اغېز څه وي؟

**ځواب:** دا چې جهادي صف د قربانيو او سرښندنو صف دی، دلته هره لحظه د قيادت په شمول د شهيد کېدلو، اسير کېدلو او يا هم په طبيعي مرگ د وفات کېدلو احتمال متوقع وي، ځکه نو د جهادي صف مشـرتابه مخکې تر مخکې لا د دې صف پر نورو خصوصياتو او مشخصاتو سر بېره د قيادتو د روزنې او تربيې مدرسه هم ده.

دلته که نن يو مشـر شهيد کيږي، يا اسير کيږي او يا هم په خپل طبيعي مرگ وفـات کيږي، مجـاهـدين د دې واقعې پـه راتلو نـه کمزوري کيږي او نـه د کمزورتيـا احســاس کوي، ځکـه هغوی تـه لا وړانـدې په فکري لحاظ دا ور تلقين شـوي وي چې د جهادي لارې تداوم په شـخصـياتو او افرادو پورې نه وي تړلی، بلکې د هغې تداوم او وابســتگي په افکارو او مبادئو پورې وي. په دې لار کې به د طبيعي او يا هم عســکري حوادثو له امله اشــخاص او افراد حتماً اوړي را اوړي، خو افکار او مبادئ چې د جهادي لارې اساس دی، هغه به تل ثابت وي. همدا لامل دی چې د اميرالمؤمنين په وفات سره په مجاهدينو کې د هېڅ کمزورۍ احســاس نه کيږي، بلکې د هغه له پيل کړې لارې سره د وفادارۍ له امله په ډاډه او ځواکمن شــکل د خارجي يرغلگرو او د هغوی د ملاتړو پر خلاف خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

د دې تر څنگ د اســلامي امارت نوی زعيم محترم منصــور صـاحب هم يو تجربه شوی او خورا بريالی مشـر پاتې شوی، مرحوم اميرالمؤمنين پرې اعتماد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



درلود، په عملي میدان کې يې جهادي صف په سختو شـــرايطو کې رهبري کړی. اوس يې د ځان لپاره خورا قوي او با رسوخه، په دین پوه مرستيالان هم ټاکلي، قوي رهبري شـوری چې ټول باتجربه اشـخاص او د اسلامي امارت د سر خلک په کې عضويت لري دا هم ورسره ده. نو امید لرو چې تر پخوا به د اسـلامي امارت وحدت لا ډېر ټينګ وساتل شي او تر پخوا به لا ډېر په قوت کې زموږ موجوديت ثابت شي. ان شاءالله

**پوښـــتنه:** دا خبره تر څومره حقيقت لري چې طالبان اوس مهال د تمويل په برخه کې له ضعف سره مخامخ دي؟

**ځواب**: زموږ په باور موږ د ضـعف زمانه شـاته پرېښوده، اوس الحمدلله زموږ مجاهـدين او امارت لا د قوي کېدو په حال کې دی. موږ د خپل ولس پراخ ملاتړ له ځانه سره لرو، ورځ په ورځ پرمختګونه لرو، په نظامي سـاحو کې هره ورځ لسـګونه میله سـپکه او درنه وسله، مهمات او لازم توکي له دښمن څخه پـه غنيمت راته پاتې کيږي، نو زه دا خبره ردوم چې خدای مه کړه امارت دې د تمويل په برخه کې له ضعف سره مخ شوی وي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په اړه زما د ژوند څو خاطرې

**ملا عبدالسلام ضعيف** (په اسلام اباد کې د افغانستان پخوانی سفير)

مشـــــــر ملا صـاحب زه له هغه وخته پېژنم چې هغه د جهاد په دوران کې د مرحوم حفيظ الله اخندزاده صـاحب په جبهه کې يو عادي مجاهد و، داسـې مجاهد چې د مرحوم ملا نيک محمد اخند سره چې د روسانو په مستقيم بريد کې يې سر د تنه جلا سو يو ځای او دوی دواړه جهادي ملګري و. د نوموړي جهادي کار نامې د پنجوايې او ميونـــــد ډېرو پخوانيو مجاهدينو ته معلومې دي. ملا نيک محمد اخند د ارزګان ولايت د دهراوت ولسـوالۍ اوسېدونکی و، ډېر متواضـع، ارام، خاموش او د لوی زړه لرونکی انسـان و. هغه کله په يوازې ځان سره د روسانو د سرو لښکرو په وړاندې جګړه او عمليات کول، په يو وخت کې بـــه يې درې ډوله سلا له ځان سره عملياتو ته وړله، او په يوازې ځان به يې د روسـانو او کمونسـتانو سره داسـې جګړه کوله لکه د يوې لويې جبهې جنګ. د ده سره په عملياتو کې ډېر لږ کسان شــــريکېدل، ځکه چې د هغه سره عملياتو ته تګ داسې و لکه فدايي حمله کول. او دا ډول جګړې ته زړه ښه کول يقيني ګران کار دی.

محترم مشـر ملا صاحب يو له هغو کسانو څخه و چې د ملا نيک محمد اخند سره به يې يو ځای په ډېرو عملياتو کې برخه اخيسته.

مرحوم ملا صـــاحب درې ځله زما تر قوماندې لاندې روســـانو پر وړاندې په عمليـاتو کې برخـه اخيســـتې او څو ځلې په ګډو عملياتو کې موږ يو ځای د افرادو په توګه له روسانو سره جګړه کړې، وروسته د طالبانو په وخت کې زه د مرحوم ملا صاحب عسکر سوم او په دې سره افتخار کوم.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



مرحوم ملا صاحب د ډېرې زياتې حوصلې او پوره اطاعت څښتن و، لوی جرئت يې درلودی، نورو مجاهدينو ته به يې لوړ مورال ورکاوه، د جګړې په ميدان کې چې بــه هر طرف ته هغه مرحوم سنګر ونيو، د هغه طرف څخه به سرې پوره ډاډه و، هيڅکله يې وار خطايي نه درلوده او نه يې دښمن ته سنګر پرې ايښی دی.

محترم مشر ملا صاحب د جهاد په وخت کې د طالبانو او د هغوی سره نيږدې نورو جبهاتو د مجاهدينو په منځ کې ډېر محبت درلودی. د هغه جرئت، اخلاق او صــداقت هر ملګری دېته لېواله کاوه چې د هغه سره انډيوالي او ملګري وکړي. محترم مشر ملا صاحب چې کله د ځينې موضوعاتو پر سر د حفيظ الله اخندزاده له جبهې څخه ولاړی، خپلو ملګرو مجبوره کړ چې د مجاهدينو يوه وړه ډلګۍ جوړه کړي. هغه د کندهارــــهرات د سړک غاړې سره د سنګحصار سيمه داډي په نامه کلي کې يو کوچنی اطاق (د مجاهدينو ټولی) جوړ کړ. د اطاق مصــارف به يې د خپلو مجاهدو ملګرو د امامتونو د زيرو (له کلي څخه د ډوډۍ راټولول) او د زکاتونو د پيسو څخه پوره کاوه، تر څو يې وروســته خپل د مجاهدينو کوچنی ګروپ (ټولی) د حرکت انقلاب اسلامي تنظيم سره رسمي کړ. خدای ستـه چې ښه چټل سوي او با احساسه ملګري يې درلودل، چې ملا برادر، غازي، ملا عبدالسلام، يارانه او نور...

د مرحوم مشــر ملا صاحب يوه سترګه په سنګحصار کې د جهاد په وروستي وخت کې د عملياتو پر مهال د الوتکو د بمبارد له کبله شهيده سوه. د ده سره يو ځای په همغه ورځ مرحوم ملا نجيب الله اخند هم زخمي سو. ملا صاحب

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


مرحوم په همهغه زخمي حالت کې د پاشمول په عملیاتو کې برخه واخیسته، یوه ورځ یې هم استراحت ونه کړ.
د ډنډ ولسوالۍ په تیموریانو سیمه کې مرحوم مشر ملا صاحب د روسانو اووه ټانګونه په داسې حال کې په راکټ وویشتل چې، په نوبت به د روسانو ټانګونه د مجاهدینو د سنګرونو پر لور د جګړې لپاره را مخکې کېدل، په هغه جګړه کې مرحوم مشر ملا صاحب او مرحوم ملا عبیدالله اخند چې بیا د ملي دفاع وزیر سو، مجاهدینو ته یې نجات ورکړ، د روسانو مجهزه قوه یې د پوره شکست سره مخ کړه، مرحوم حاجي ملا عبیدالله اخند د اخرني ټانګ د ویشتلو سره یو وخت کې سخت زخمي سو.
مرحوم ملا صاحب یو د هغو مجاهدینو څخه و چې په کندهار کې یې په زړورتوب شهرت درلود. په کندهار کې یو شمېر مجاهدین و چې د زړورتوب له کبله ډېر مشهور و، چې اوس هغه ټول شهیدان سوي. د مرحوم مشر ملا صاحب په شمول دغه کسان لکه شهید ملا خواص اخند، مرحوم ملا محمد اخند، مرحوم ملا فدا محمد اخند، مرحوم ملا معاذ الله اخند، مرحوم ملا نیک محمد اخند، مرحوم ملا بورجان اخند، مرحوم طالب جان، مرحوم ملا عبیدالله اخند، شهید رحمت الله او ځینې نور ...
د مجاهدینو تر بریالیتوب وروسته مرحوم مشر ملا صاحب خپل اطاق په مدرسه بدل کړ. دیني درسونو ته یې مخه کړه، خپله یې هم دیني درسونه ویل او هم یې ملګري مکلف کړي وه چې درسونه ووایي. له دې سره سره د کلي کوچنیو ماشومانو ته هم دیني درسونه ویل، تر څو حالت دېته ورسېدی چې خلکو ملا صاحب په دې مجبوره کړ چې خلکو ته د ظالمانو او نا مسؤله

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



وسـلـه والو د نجات لپاره د یوه سـپېڅلي غورځنګ (د طالبانو اسـلامي تحریک) رهبري پر غاړه واخلي.

**د مرحوم ملا محمد عمرمجاهد د مشرتابه انتخاب**

محترم ملا صاحب خپله ځان مشـرتوب یا امارت ته نه دی انتخاب کړی، نه هم د قوم پر بنیاد، نـه د تعلیم د سـویې د اوچتوالي لـه کبله، نه د مالدارۍ او شتمنۍ له کبله هغه مشـر شوی. د هغه د مشر تابه د انتخاب معیار یوازې ښه او پاکه جهادي سـابقه، د قومیت او قومپرسـتۍ څخه پاکوالی، د هغه پاکي، رښـتینوالي او لویـه تقوی وه او دا ټول هغه خواص وه چې د جهاد په جریان کې مجاهـدینو تجربـه کړي وه، او هغه د همدې درانه مسـؤلیت لپاره وړ او مناسـب کس وبلل سـو. د مرحوم ملا صـاحب انتخاب د ډېر وخت او زیاتو سـلا او مشـورو وروسـته رامنځ ته سـو، ځینو قومندانانو کوشـش کاوه چې انتخاب بل لور ته واړوي، دغو قومندانانو لـه انتخاب مخکې او وروسته پوره تلاش وکړ چې مشرتوب بل لور ته واړوي، ولې د مجاهدینو د بې کچې مینې چې مرحوم ملا صاحب سره یې درلوده، دوی ونه توانېدل.

**د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد درانه خواص**

اول: تر ټولو لوی صفت د مشـر ملا صاحب دا و چې شـریعت یې دټول ژونـد، کړنلارو او کارونو معیار ټاکلی و. هره فیصله او موضوع چې به ورته ورسېده، تر هر څه لومړی به یې د شـریعت په رڼا کې پرېکړه او عمل کاوه، هغه پرېکړه او مسئله چې د شـریعت موافق به وه، هغه به یې عملي کوله، او که به د شریعت خلاف وه هغه به یې سمدستي ردوله.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


دویم: د هغه د ټول پرسونــل او کارکوونکو انتخاب د تقوی او یا هم د لیاقت پر بنیاد وو. تر هغه ځایه چې د ده علم ورته رسېدلای وای تقوی لرونکی او یا هم لایق کسـان یې گمارل، که څه هم ډېرو خلکو ته به دا معیار د سوال خبره وه.

دریم: لکه څنگه چې عمر نومېدی همداسې هغه د حضـــرت عمر رضی الله عنه غوندې د پوره صداقت خوی درلود. نه یې چا ته دوکه ورکوله او نه خپله تر پایه د چا لخوا څخه دوکه سـو. او دښـمنانو د دوسـتۍ او دښمنۍ په دواړو حالتو کې پوره کوښښ وکړ چې هغه ته دوکه ورکړي، ولې ونه توانېدل.

څلورم: هغه ربښـتونی او پاک انسـان و، هیڅ نوعه اخلاقي او لسـاني کمزورتیا یې نـه درلوده، هغـه دروغ ویل نه خوښــول، او نه یې له چا سره چل او دوکه خوښــېدلـه، نـه یې بې ځایه او بې مانا خبرې کولې او نه یې بې ځایه وخت تېراوه.

پنځم: هغه د غریبو او ساده خلکو سره مینه درلودله، د یتیمانو او معیوبو خلکو د حال څخه یې ځان خبراوه، پخپل ځاني او کورني ژوند کې ساده او هم یې ساده ژوند ته ترجیح ورکوله.

شـپږم: هغه د بل چا خبره په ډېرو سـړو مغزو او پوره حوصلې سره اورېدله، بیا یې د هو یـا نـه ځواب مقابل لوري ته ورکاوه، په خبرو کې یې د چا سره ډېره مشـــاجره نـه کولـه. پـه وعده باندې یې وفا کوله. د خولې او زړه خبره یې هر وخت یوه وه. د متین عزم څښتن و، په هر کار کې به یې پرېکنده عمل کاوه.

اووم: د ښــو او متدینو خلکو سره یې زیاته مینه کوله، د علماء کرامو احترام به یې کاوه، د هغوی خبرو او مشورو ته به یې ځانگړې پاملرنه کوله.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


تر کومه ځايه چې زه مرحوم ملا صاحب پېژنم، د يوه مؤمن مسلمان په توګه د هغه په حق کې د خدای پر وړاندې په لاندې څو شيانو شاهدي ورکوم:
اول: د الله جل جلاله سره د هغه په اخلاص او رښتينوالي باندې. هغه خپل ځان هر وخت د خدای جل جلاله شـــــريعت ته تسليم کړی و. د دين او د دين د علماء کرامو عزت يې کاوه.
د الله جل جلاله کتاب قرانکريم يې د ځان او ملت لپاره دستور او قانون ګرځولی و. ټولو ملګرو ته يې د خير توصيه کوله.
دويم: هغه د هر ډول قومي او منطقوي تعصباتو څخه پاک انسان و، د هر چا سره يې معامله په تقوی باندې وه.
دريم: هغه د هيچا پر وړاندې دروغجن، دوکه باز او خاين نه و.
څلورم: هغه پاک نفس او پاک لمن انسان و.
پنځم: د هغه دوستي او دښمني په شخصـــي تعصب نه، بلکې د خدای جل جلاله د دين او شريعت پر بنياد وه.
شپږم: هغه خپله مباشـــر ظالم نه و، او نه يې بل چا ته په ظلم سره امر کاوه، نه يې د ظالم دفاع کوله.

**د هغه ټينګ عزم**

کوم وخت چې امريکايانو پر افغانســتان د بريد تکل کړی و، په سيمه کې د امريکا په مرسته او لمسون سيمه ييز مخالفتونه او تحرکات زيات سوي و، ګاونډي هېوادونه هم د وخت او موقع څخه د پوره استفادې په فکر کې و. د امريکايي استخباراتو پرلپسې وفدونو به د پاکستان او ايران د پټو اجنسيو سره ليدنې کتنې کولې، او معلومات به يې يو بل سره تبادله کول. د همدې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


مجلسونو ځینې معلومات به د مرحوم ملا صاحب پورې رسېدل، هم د سیاسي معاملو خبره کېدله او هم د زور او جنګ خبره ګرمه وه، متاسفانه چې کله هم صادق قاصد د ستونزې د حل لارې د لټولو له پاره ونه موندل سو، تر څو سالم او د فاصلو د کموالي پیغام طرفینو تر منځ تبادله کړي، تر دې چې د امریکا لخوا د حملې او جګړې خبره د شک څخه یقین ته ورسېدله، له مطبوعاتي ډګر څخه عملاً نظامي برخورد ته خبره ورسېده.

که څه هم حالت ډېر ترینګلي سو، ساحه پر طالبانو تنګه سوه، تصامیم یقیني سول، بیا هم مرحوم ملا صاحب خپله حوصله د لاسه ور نه کړه، د خپل عزم څخه په شا نه سو او نه یې هم هیڅ ډول معاملې ته سر ټیټ کړ. خپله یې هم د مقاومت لاره غوره کړه، او خپلو اتباعو ته یې هم د مقاومت توصیه کوله، تر دې چې د ده دغه لوی عزم په افغاني غیرت توکل ډېر لوی تغیرات هم راوستل.

**د هغه مرحوم وفات او له دې فاني دنیا څخه د تل لپاره کوچېدل**

دا به د نړۍ په تاریخ کې ډېر شاذ او نادر واقعات وي چې د داسې لویو چلنجونو او نړیوالو څارګرو ادارو په موجودیت کې دې داسې یو انسان چې پرته له الله جل جلاله بل هېڅ اسره ونه لري، داسې یو انسان چې د غلیمانو له پاره تر ټولو لومړۍ مطلوب وي، داسې یو انسان چې پنځه ویشت ملیونه امریکایي ډالر یې پر سر باندې جایزه اېښودل سوي وي، یوازې دا نه چې هغه ژوند وکړي؛ بلکې د مقاومت دومره لوی قوي صف هم په متحده توګه رهبري کړي او تر دیارلسو کلونو پورې دا مبارزه جاري وساتي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


موږ په اوســـني تاريخ کې د عراق او لبيا دوه رئيســـان وليدل چې د مقاومت وروسته د لږ وخت له پاره هم ونه توانېدل چې ځانونه وساتي او يا هم مقاومت وکړای سي.

د مرحوم ملا صاحب کوچېدل د ابوذر غفاري رضی الله عنه غوندې هم نه وه. هغه په خپل ديارلس کلن مقاومت کې نه د وطن څخه وتلی او نه يې د خپلو دوستانو او قريبانو حتی د خپلو ازواجو او اولادونو سره ملاقات سوی دی. په داسې حال کې يې له دنيا څخه سـترگې پټې کړې چې نـــه د هغه د صحت درملنـه وســـوه، نـه چـا ورسره د مرگ پـه وخـت کې څـه ډول چې لازم و خواخوږي کولای سوای، نه چا د هغه سره د اخري سلگۍ په وخت کې چې د مظلوميت سترگې ور اوړي تلقين ورکړ، او نه هم چا ورته تسلي ورکړه.

ابي ذر غفاري رضـی الله عنه که څه هم يوازې سـا ورکړه خو د هغه مېرمن او لور يې د مرگ په وخت او صـــحابه کرام يې د تدفين او تکفين په وخت کې حاضر و، ملا صاحب مرحوم چې د نړۍ د دجالي قوت په وړاندې د مقاومت غبږ پورته کړی و، د ډېر مظلوميت، پرديسۍ، تنهايۍ، مايوسۍ او محروميت په وخت کې يې خپله مبارکه روح د مرگ داعي ته وسپاره.

انالله و انا اليه راجعون

نه چا ورسره غمرازي وکړه، نه يې څوک تکفين او تدفين ته حاضر ســـوه. الله دې جنة الفردوس ورته نصاحب کړي، امين

**د هغه د ټينگ عزم نتيجه**

ډېر خلک به داسې وي چې د هغه سره به دښمني ولري، د هغه د نوم د يادولو سره به حساسيت ولري. دلته څو ډوله تضادونه وجود لري. ډېرې تربگنۍ هم

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



تېرې شـوي دي، د هېواد د اشـغال اړوند هم د تعاون او ترديد موضوع شتون لري، د نه تعرف او نه علم، دا ډول شـخصـــــي تعصـباتو لړۍ هم گرمه ده، له همدې امله ده چې ځينې كســـان به ما پر دې ليكنه هم گرم وبولي، نيوكې او اعتراضـونه به را باندې وكړي، زما ځواب به سر لـــه اوســه هم دا وي چې له مرحوم ملا صـــاحـب سره زما مينه او محبت د هغه په رښـــتينوالي او حقانيت باندې وه او وي به. كېداى سي زه تر ډېرو هغو خلكو مرحوم ملا صاحب ښه وپېژنم چې د ده سره نږدې اوسېدلي وي، كار يې ورسره كړى وي. زما تعرف تر هغـه هم وړانـدې وه، مـا د ډېر غربـت او ســـختي په وخت كې د هغه سره ملگرتيا كړې وه، هغه مې په سختو حالاتو كې تجربه كړى و، د همهغه وخت څخه مې پېژانده، د هغه په انتخاب كې مې خاص د الله جل جلاله د رضا او د وطن د نجـات له امله ډېره هڅه هم كړې وه. بل دا چې كه كوم معترض وي، لومړى دې خپـل پـه گرېوان كې سر ټيـټ كړي، د خپـل ځـان سره دې خپل قضاوت وكړي، چې د كومې لارې پلوى دى او د بل سره يې دښمني يا تضاد په څه دى.

لكه څنگه چې ما وړانـــــدې ذكر كړه، د ده د پاك او قوي عزم په نتيجه كې هغه الله پاك د ظاهري او ښـكاره ذلت څخه وساتى. الله پاك هغه په ژوندون د خپلو دښـــمنـانو پـه لاس ور نه كړ، نه يې هم د دښـــمنانو د ملگرو په لاس ژونـدى وركړ، ســـمه ده چې شـــهادت ډېر لوړ مقام دى، خو د دښـــمنانو پر وسايلو خداى جل جلالـــه هغه ته مرگ هم ور نه كړ، نه يې د دښمنانو زړونه ور باندې يخ كړل او مرحوم ملا صـاحب تر اخري سـلگۍ پورې د دښـمنانو شـومو اهدافو ته ښـه راغلاسـت هم ونه وايه. دا چې كليدي او مهمې رسنۍ د امريكا او د هغوى د متحدينو په مالي لگښـــت متكي دي، د هغوى د اهدافو

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



لپاره کار کوي، په ډېر تکرار سره د سپین څخه تور او تور څخه سپین جوړوي، گرانه به وي چې د داسې دروند شخصیت، کوم چې د نړیوال ښکېلاک پر وړاندې یې سر ټیټ نه کړ، د هغه د شخصیت حق دې په ځای پاته سي، ولې زه مطمین یم چې نا پېیلی تاریخ به د هغه درانه شخصیت حرمت وساتي.

اوس چې هغه هسته وکوچېدله ډېر مهم او لوی سوال دا دی چې ده دغه ناخوالې د کوم هدف لپاره تېرې کړې؟

ولې یې دیارلس کاله د خپل ژوند خواږه ملگري یوازې پرې ایښي و؟

ولې یې د داسې غربت او تنهایي مرگ ته ځان سپارلی و؟

دا هر څه یې د یو لوی اسلامي او شرعي هدف لپاره پر ځان منلي و، د یوه لوی کور (افغانستان) د بچ کولو لپاره و، د یوه لوی پېغور (دښمن ته د خپل ځان یا مسلمان تسلیمول) څخه د ځان او خلکو ساتلو لپاره و، او د مسلمانانو د تېر تاریخ د ژوندي کولو، ساتلو او جوړولو لپاره، او داسې نور...

اوس چې د هغه دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسېده، د ساحل لمن ته رسېدلی و، تر ډېره هغه په خپله دنده کې بریالی او کامیاب پاته سو، هدف ته په مېړانه ورسېدی.

د استبدادي چلباز، چالاکه او شیطاني دښمن پر وړاندې نه سرټیټی تسلیم او نه یې تر پایه تنازل وکړ.

د نړۍ شیطاني نیواکگرو او دهغوی متحلفینو او خادمانو به د مرحوم ملا صاحب په مرگ سره خوشالي کړي وي، په ذم ویلو سره به یې ژبې ستړې سوې وي، ډېرو محبینو به یې د شریرو د شر له وېرې په سکوت اکتفاء کړې وي، خو په حقیقت کې هغه د تاریخ یوه ځلانده مېړنی څېره وه. الله جل جلاله دې ورته مغفرت وکړي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**د امیرالمؤمنین رحمه الله تر وفات وروسته یو څو د خواخوږۍ توصیې**

دا چې امیرالمؤمنین رحمه الله خپله دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او د رحلت داعي ته يې لبیک ووایه، نور د ده هغه مسؤلیت ورسره بشپړ سو، الله پاک دې د آخرت دغه لوی سفر و هغه ته روښانه او اسانه کړي. د هغه د دې رحلت سره اوس نو دښمنانو ته یو لوی فرصت په لاس ورغی، منافقانو ته د نفاق زمینه برابره سوه، رقیبانو ته د انتقام اخیستو دروازه خلاصه سوه، او ځان غوښتونکو او شخصیت پرستانو ته د خیانت چانس پیدا سو، لنډه دا چې هرې بلا سر را پورته کړی، او د فتنو دروازې خلاصې سوې.

**په داسې وخت کې مخلصو دوستانو، په ځانګړې توګه مسؤلیت لرونکو کسانو ته څه په کار دي؟:**

لومړی: هر ډول اختلافاتو ته د پای ټکي ایښودل او په دغه اور اوبه تویول.

دویم: هر کار کې مشوره کول او د خپلو ملګرو د نظرونو احترام او درناوی کول.

دریم: په ملګرو حسن الظن کول او د هر ډول تخریب، افترا او تورونو څخه ځانونه ساتل.

څلورم: د خود خواهی، جاه طلبۍ او تکبر څخه ځانونه لیرې کول.

پنځم: د قوم، سیمې او ژبې په نومونو د مرداریو، بدبویو او تعصباتو څخه تېښته کول.

شپږم: د صف د یووالي لـه پاره هرې قربانۍ ته تیارېدل او په دې لاره کې تحمل، زغم او تواضح کول.

اووم: باید دې ته د ټولو پام وي چې په دې وخت کې به دښمنان او منافقین د نفـاق اچولو لپـاره ډېرې تیزې منډې پیـل کړي او هر مهم سـړي تـه بـه د

Downloaded from Bawar.net

خواخوږي او دوست په نامه ځانونه ور نيږدې کوي، د همدوی د دامونو څخه ذهنونه او مغزونه خوندي ساتل.

اتم: د هر ډول مشکل او ستونزو د حل له پاره بايد د خپلو افغاني علماء کرامو او با نفوذو اشخاصو څخه استفاده وشي. او د دوی په منځګړيتوب سره ستونزې حل شي، ځکه افغانان زموږ د ټولنې په درد او درمل ښه پوهيږي، د ستونزو تشخيص ښه کولای شي، او ښه نسخه هم ورته موندلی شي.

هره ټولنه يا مقاومت چې د يوه فکر او هدف له پاره متعهد وي هيڅکله نه خرابيږي، په دې شرط چې يوازې فکر او هدف ورته مهم وي، نه شخص او نه اشخاص. ځکه شخص د فکر په تړاو ارزښت لري او بس، او که په دغه ټولنه کې شخص يا اشخاصو تر فکر زيات ارزښت وموندی، هغه وخت به ټولنه د خرابۍ خواته روانيږي. که داسې اثار وليدل سي بايد مخه يې ېبرته د فکر يا فکري محتوی سره سم ونيول سي، ځکه هر کله چې شخص يا اشخاصو ته تر مفکورې اهميت ورکول سي، هغه يا هغوی به ضرور فکر يا فکره د خپلو منافعو يا اغراضو قرباني کوي. لکه څنګه چې د شخص عمر لنډ دی نو همدومره به د هغه فکرې /فکر عمر هم لنډ وي. ځکه چې د ده د شخصيت دا ډېر اهميت به د فکرې يا فکر اهميت تر خپل سيوري لاندې راولي او داسې مثالونه اوس په دنيا کې خورا ډېر دي، او بې سارې ناخوالې يې هم راولاړې کړي دي. د يوې فکرې ټولنې له پاره متعهد شخص يوازې د فکرې سمبول په توګه کارول کيږي، نه د هغه شخص د اهميت په توګه. او دا شخص بايد هيڅ کله هم دومره مهم نه شي چې دی يا نور خلک فکر وکړي چې دا وړی بې له ده نه شړی کيږي. که خبره همداسې سوه بيا نو د هغه د بې ځايه کېدو او بې لارې کېدو سره ټول ارمانونه خاورې کيږي. هيڅ وخت بايد يوه فکرې ټولنه د شخص يا اشخاصو تر وجود پورې محدوده نه وي، او

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



نـه هم د هغوی د خواهشـــاتو قربـاني سي. زما په نظر په دغه مهم او اســـاس وخت کې اختلاف ته لمن وهل، یا د اختلاف اصل ته وده ورکول، داسې مانا لري لکه خپل د سـنگر ملگري چې د دښمن طرف ته یې مخه نـــه وي او د حراست یا مقاومت په حال کې وي، دښمن یې هم تېښتې ته اړ کړی وي، خو د شـــا لـه خوا یې خپـل ملگری پرې حمله وکړي او په څټ کې یې پر برچه ووهي. پـه دې کـار سره بـه دوښـــمن دوې گټې لاســـته راوړي، یو دا چې د شـکسـت مخه به یې ونیول سي او بل دا چې په ده پسې تعقیبونکی دښمن به په خپله له منځه ولاړ سي.

هیڅ یوه ټولنـه کـه څـه هم وړه وي تر هغـه پورې له منځه نه ځي تر څو چې خپلې پړلې (د پښو پوندې) په خپله ونـــه وهي، او له خپل دننه څخه ونه وهل سي، همـدا وهـل اختلاف او د یوه او بل د پښـــو وهل دي. هیڅ حکومت له منـــځه نه ځي تر څو چې له خپل منځه تخریب نه سي، هیڅ مقاومت نه سي ختمېدلای تر څو چې په خپلو ملگرو باندې یې باور ختم نه سي.

او که مسـؤول شـخص او یا اشـخاص د اختلاف د ورکولو له پاره، د صف د توحیـد لـه پـاره یا د قدرت په تمه، یا د قدرت څخه د لیرې کېدو د قربانۍ په خاطر تقصیر کوي نو الله جل جلاله به یې د عزت پر ځای خامخا د ذلت سره لاس او گرېوان کړي، او د دنیـا او اخرت درونـد مسـؤولیت به یې هم په ذمه باندې پاته سي.

د منځ خبرې وړونکي، غوږه مال او حقیقت منحرف کوونکي ته دې الله جل جلاله هدایت وکړي، دوی هم باید د هغه خدایه څخه ووېرېږي چې سبا ته ورتلونکي دي، د بـل لپاره او د کومې تمې په خاطر دې د دې لوی صـــف د وېشلو سبب نه کیږي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



دا ځکه چې د صف توحید ساتل د سولې او امنیت لپاره خورا مهم او د هرې فیصلې ضمانت کولای سي. موږ د افغاني قضیې ژوندي شاهدان یو چې د صف تفرق مو ګټلي ګټې د لاس څخه وایستې او ناخوالې یې تراوسه هم ګالو. د ټولو افغانانو په اختلاف کې په ځانګړي توګه د طالبانو په اختلاف کې د دین او وطن د دښمنانو ګټې او زموږ د ټولنې تباهي نغښتې ده.

الله جل جلاله دې ټول افغانان په دې باندې متحد کې چې د اختلافاتو پر خلاف سره یو شي، او د نفاق جنازه په مهارت سره د خپل ټاټوبي څخه وباسي.

د خپلواک او آزاد هېواد په هیله

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د بیت المقدس د پخواني امام زوی

**عبدالحی مطمئن** (د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد پخوانی ویاند)

په اسلام اباد کې د فلسطین سمبولیک سفیر د ۱۹۹۸م کال اوړي کې کندهار ته سفر وکړ. هغه له ځان سره فلسطیني پوځ کې پاتې شوی جنرال چې پلار يې د بیت المقدس امام پاتې شوی و، کندهار ته راوستی و. دوی له ملا محمد عمر سره ولیدل. ملاقات نه وروسته ملا محمد عمر د ځوځانو په هغه کوډله کې د غرمې (قیلوله) کوله، دا د کندهار او هلمند د عامو خلکو دود دی چې د گرمۍ په موسم کې په ځوځانو پوښلې ځاله اوبه اچوي او د هغه یخ شمال ته ځان له گرمي ژغوري. ملا محمد عمر هم د خپل دفتر په انگړ کې همداسې یوه د ځوځانو ځاله جوړه کړې وه. کله چې د غرمې کوډلې ته دننه شو او خپل څادر يې پر ځان راکش کړ. د بیت المقدس د امام زوی چې په دغه حالت کې ملا محمد عمر ولید سخت يې وژړل. هغه چې کله مېلمستون ته خپلې کوټې ته لاړ، ډېر زیات متاثر و. د فلسطین سفیر هغه وپوښت چې ولې ژاړې؟!

هغه وویل چې د ملا محمد عمر له خواخوږۍ او مینې ډک مجلس نه وروسته چې هغه په خپله ځاله کې په خپل څادر ویده شو، ماته د هغه اعرابي قول رایاد شو چې عمر فاروق يې فیصله وکړه او بیا يې یوه دېوال ته سر ولگاوه او ویده شو. اعرابي ورته وویل: حَکمتَ عَدلتَ اَمِنتَ فَنِمتَ (پرېکړه دې وکړه، عدالت دې پکې وکړ، امانت داري دې پکې وکړه او بیا ویده شوې.) هغه بار بار دا جمله تکراروله او سترگې يې له اوښکو ډکې وې. ماته دغه صحنه ډېره

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



جالبه وه او تراوســه مې نه هېرېږي. له نيکه مرغه د دې صــحنې شـاهدان څو ملګري تراوسه لا ژوندي دي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## مشر ملا صاحب او څو جالبې خاطرې یې

**موسی فرهاد**

د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په اړه څو مختصرې خاطرې، پرته له خپلې تبصرې ستاسو سره شـــریکول غواړم، نور یې قضاوت، پرتلنه او له هغه نه مثبت یا منفي برداشـت سـتاسـو خپل کار دی. خو مخکې تر هغه د نوموړي ځینې مســلم او متفق علیه خاصــیتونه ذکر کول هم اړین گڼم. واقعاً چې نوموړی د تاریخ د دغې خاصــې مقطعې یو منفرد ریښـتینی او سـپېڅلی شـخصیت و. د ملا عبدالسلام ضعیف خبره ده، څرنگه چې هغه عمر نومېده؛ همداسـې یې د عمر فاروق غوندې د پوره صداقت ځانگړتیا لرله، نه یې چاته دوکـه ورکوله او نه خپله تر پایه د چا لخوا څخه دوکه ســو. ملا صــاحب په رښتیا سره څو صفات درلودل:

ځان یې د خدای شـریعت ته تسلیم کړی و، پاک نفسه انسان و، هېڅ اخلاقي او لسـاني کمزورتیا یې نه درلوده، دروغ ویل یې نه خوښول، له چل او فریب نه یې کرکه لرلــــه، بې ځایه او بې ضرورته خبرې یې نه کولې، د بل چا خبره یې په غور اورېدله، په خبرو کې یې له چا سره ډېره مشـاجره نه کوله، په وعده باندې یې وفا کولـه، د خولې او زړه خبره یې هر وخت یوه وه، له قومي، ژبني او منطقوي تعصــب نـه یې ډېر نفرت کـاوه، خپلـه ظـالم نـه و او نـه یې ظلم خوښېده، د متین عزم څښتن و، په هر کار کې به یې پرېکنده عمل کاوه.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


**څو جالبې کړنې او خبرې يې**

۱) د بي بي سي خبريال له ملا صاحب نه وپوښتل چې تاسو خو د چيچنيا د مسلمانانو سره خواخوږي لرئ؛ ايا له هغوی سره عملاً مرستې هم کوی او يا ورته اماده ياست؟

نوموړي يې په ځواب کې لنډکی، ساده، خو هر اړخيزه او با معنی کليوالي جمله وکاروله: « زموږ خپله پښه په پايڅه کې بنده ده. »
يعني په خپل کور کې په مشکلاتو کې را ګير يو، له نورو مسلمانانو خصوصاً چيچنيايانو سره به څه مرسته وکړای شو.

۲) يو مشر ملګری چې ملا صاحب ته ډېر نژدې پاتې شوی؛ وايي: يو ځل ملا صاحب په کندهار کې په خپل دفتر کې و، چې د غرمې ډوډۍ ورته راوړله شوه. د پسه د غوښو قورمه وه. ملا صاحب چې خواړه وليدل څو شېبې همداسې لاس نيولی فکرمند کېناستی، وايي ما ترې پوښتنه وکړه، ولې په چورت کې شوی؟!
وايي ده راته وويل: دا به څنګه وي؟ مجاهدينو او نورو عامو خلکو ته خو ښايي لږو ته داسې خواړه رسيږي او موږ او تاسو يې خورو.هغه ملګری وايي ما ورته وويل: د هندوستان يو مشهور عالم مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله چې څه کم سل کاله وړاندې زمانه کې تېر شوی؛ د هغه په اړه ليکل شوي چې د سهار په ناشته کې به داسې خواړه ورته تياريدل چې هغه وخت به د هغه مهال پنځوس روپۍ مصرف ورباندې راته، نو ده چونکه د مسلمانانو ستر خدمت کاوه دا خواړه يې ځانته مناسب بلل. تاسو هم کولای شی چې

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



ویې خوری ځکه چې زیاته ســتړیا دې کمزوری کوي او د ولسي ــ امورو په انجامولو کې بیا نقصان راځي. وایي بیا یې تسلي وشوه.

۳) د ملا صاحب موټر چلوونکی وایي: یوه ورځ د میوند د شهیدانو تاریخي مقبرې ته ووتلو، چې بېرته راتلو لمر لوېدو ته قریب و، تېز باران شــو، لیرې په دښــته کې داسې یو شی ښکارېده لکه سړی چې روان وي. د ملا صاحب ور پام شو. وایي دا خو سړی معلومېږي او په دې باران کې بــــه اوس څه کوي؟ سمدستي یې ماته وویل ته موټر در وګرځوه، چې ورغلو پوښتنه مو ترې وکړه، کوچی و، وایي هــاغــه پورې غره پــه ځنــډه کې مو کیږدۍ دي، هلته ځم. ملا صــاحب ورته وویل: راځه سپور شه. په هغه شدید باران کې مو د غره ځنډې ته ورساوه. د ختو او باران له وجې څه باندې یو ساعت وخت ولګېدی، بېرته را روان شو، قریب نیمه شپه وه چې ځای ته راغلو.

٤) د صــحنې شــاهدان کیســه کا چې د هندوســتان یوه الوتکه له مســافرو ډکه وتښتول شوه. د کندهار او کابل پر هوایي ډګرونو یې چکر واهه او د کېناستلو اجازه یې غوښــته، خبره تر ملا صــاحب پورې ورســېده، چونکه له حقیقته یې څوک خبر نه ول، نو په اړه یې پرېکړه هم ګرانه وه. ملا صــاحب له مشـــــرانو سره د مشورې پر مهال وویل: «راځئ اجازه ورکړو، نیت به ورته صفا کړو، که چیرې مسلمانان وو نو هم به مو د اسلامي وروروليٰ او هم بشــري خواخوږۍ په اساس له هغوی سره مرسته کړې وي او که نامسلمانان وو، بیا به مو هم خپل بشـــــري مسؤلیت اداء کړی وي. او دا چې موږ دا کار د ښه نیت له امله کوو،

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



الله تعالی به مو د نقصــان پر ځای عزت او کامیابي په برخه کړي.» هغه و چې اجازه ورکول شوه او معامله یې د افغانانو په نیکنامۍ پای ته ورسېده.

۵) د اســفندیار ولي خان هغه خبره ډېره مشــهوره ده چې وایي نصــیرالله بابر خپلـه راته وویل چې زه لاړم کندهار ته د ملا عمر سره مې ملاقات وشــو، د ډوډۍ پر سر مې ورته وویل چې ملا صــاحب که تاسـو د ډیورنډ د رســمیت پېژنـــدلو مسئله خلاصـه کړی نو ټولې ستونزې به ورسره حل شي. وایي ملا صــاحب پرته له څنډه په ډېره تونــــده لهجه راته وویل: پاڅه، له دې ځای نه سمدستي پاڅه، بیا دا خبره درنه وانه ورم.

٦) د عبدالحکیم مجاهد وینا ده، وایي له نیویارک نه راغلم لـــه ځان سره مې د اســـامه په اړه څو طرحې راوړې وې، ملا صــاحب ته مې وړاندې کړې، او ورته ومې ویل چې د امریکا فشــار نور هم زیاتیږي، باید چې یوه لاره ورسره یوسـو. وایي ملا صاحب راته وویل: « موږ امریکا ته نـــه، بلکې الله ته مسؤل یو، ته ولاړ شه کابل کې له نورو مشـــرانو سره په ګډه یوه داسې لاره راوباسی چې زموږ دین او زموږ ملي عزت ته پکې زیان ونه رســـیږي، زه درسره موافق یم.»

۷) د مزار د فتح پر مهال چې اته ایراني دیپلوماتان د ملا صــاحب په ناخبری کې ووژل شـــول، ایران تـه یې عـذرونـه وویـل خو هغوی نـه منـل. د جنګ اخطارونه یې ورکړل. ملا صـاحب په راډیو کې هغوی داسې مخاطب کړل: « ایراني اخوندان نه مسلمانان په اسلام ورګډوي او نه یې کفار پر کفر ورګډوي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


کـه چېرې د ایران لخوا پر موږ برید وشي، نو زموږ ځواکونـه بـه ۳۰ کیلومتره دننه د ایران خاورې ته ننوزځي»

۸) یو محافظ یې کیسه کوي چې یو کال زیاته وچکالي شوه، بارانونه ونشول. د کندهار او هلمند په رېګونو کې کوچیان خلک او د هغوی څاروي له تندې سره مخ شـول. ملا صـاحب ته چې دا خبره ورسـېده، سمدستي یې ملګرو ته وویل چې تاســو درځئ خپله یې حال واخلو، چې ورغلو د خلکو حالت ډېر ځورونکی وو، ملا صــاحب په خپله ځینو خېمو ته ورغی. هغوی نه پېژانده، خبرې یې ورسره وکړې. چې را روان شـــو پـه مخـابره کې یې د کندهار والي صـاحب او د میدان هوایي مسؤلینو ته امر وکړ چې د دې خلکو غم وخورئ، یوه انســاني فاجعه رامنځته کېدوونکي ده، په الوتکو او موټرو کې یې داســې ځای ته رانقل کړئ چې هلته اوبه وي. او په ټانکرو کې یې څارویو ته اوبه ور ورسـوئ. چې بیا وروسـته د هغو خلکو ښـه خدمت وشو. هم دوی او هم یې څاروي وژغورل شول.

دا (مشــت نمونـه ئی خروار) پـه اســاس بـه یې کافي وګڼو...کنه نو تاریخي کارنامې او په زړه پورې تاریخي ویناوې یې نورې هم بې شمېره دي.

الله تعالی دې پخپل خاص رحمت سره ونازوي، آمین.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## مرحوم اميرالمؤمنين د خپلې پېږې مجدد و (خاطره)

**عبدالحنان همت**

د طالبانو د پاڅون لومړي وختونه و، کندهار ولایت تازه نیول شوی و. موږ او مرحوم اميرالمؤمنين په یوه حویلۍ کې، چې هغه وخت دغه ځای ته د والي کوټۍ (د والي کور) ویل کېدل، اوسېدلو.

د نظام قراول په برخه کې موږ او شاته مشران و، اکثر وخت به مو ډوډۍ هم ورسره خوړله چې انتهايي ساده وه، ځکه اوس مې یوازې پټاټې په یادېږي. لمونځ به مو هم یو ځای ورسره کاوه. دا چې د ده او نورو طالب مشرانو لیدل راته مهم و نو له موقع څخه په استفادې به مو هره کړنه په دقت سره څارله.

هغه وخت کې غالباً ټول مشران دلته په همدې حویلۍ کې اوسېدل. هره شپه به تر ناوخته مجلس روان و، د ورځنیو کارونو او فیصلو به جاج اخیستل کېده او د راتلونکي لپاره به په مشوره سره پلان جوړېده. له نورو ولایتونو به د جهادي قوماندانانو، علماوو او قومي متنفذینو پلاوي هم دلته راتلل.

دلته په دوو کوټو کې د لنډ وخت لپاره موقتي بندیان هم ساتل کېدل. زموږ یوه ملګري یو بندي د را ایستلو پر وخت یو چاپلاخه وهلی و او په دغه وخت کې اميرالمؤمنين هم لیدلی و. ماخستن موږ ویدېدلو چې اميرالمؤمنين کوټې ته را ننووت، زموږ د مشر ملا محمد اخند پوښتنه یې وکړه، موږ هم په وار خطايي هغه ورته را خبر کړ. هغه ته یې وویل چې اندېوالان دې پوه کړه زندانیان دې نه وهي، وهل او تعذیب د محکمې له فیصلې وروسته وي، مولوي پاسني صاحب (د هغه وخت قاضي) ته بندیان لیږئ چې هغه یې په اړه فیصله وکړي، تاسو یې یوازې د ساتلو مسؤلیت لرئ. پر دې خلکو تر موږ مخکې هم سخت ظلمونه شوي، موږ یې باید نور اوښکې پاکې کړو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



او څو نورې لنډې سپارښتنې يې وکړې چې اوس مې هېرې دي. مرحوم اميرالمؤمنين له هغه وخت وروسته هم ما څو ځله نور ليدلی و او هغه ملګري چې له ده مرحوم سره به ټول وخت اوسېدل، د هغوی له خولې مو هم ډېرې کيسې اورېدلي دي، چې په ټوله کې سړی ويلی شي چې اميرالمؤمنين د سياست او امامت په برخه کې د خپلې پېړۍ بې مثاله مجدد و.

دی که څه هم غټ عالم او فصيح خطيب نه و، خو مؤثر دعوت يې ټول د عمل له لارې و، هغه په عمل کې داعي و. هغه خلک چې له ده سره يې له نژدې رابطه وه، ټول په يو نه يو ډول د ده په عظيمو صفتونو رنګېدلي.

ټول د ده په ډول د خپل هدف په وړاندې هر ډول قربانۍ ته تيار دي، ټول تر ډېره حده له هر ډول فساده پاک دي او...

مرحوم اميرالمؤمنين انتهايي قاطع، جرئتمند، قربانۍ ته تيار او له هر ډول تصنع څخه پاک و. که تاسو د امارت مشرانو ته متوجه شوي ياست، دا صفتونه الحمدلله ټولو هغو کسانو ته انتقال شوي چې له ده سره يې ناسته پاسته درلوده. او ياد صفتونه له هغو څخه نورو هغو کسانو ته چې له دوی سره له نژدې راشه درشه لري، انتقال شول، او دا لړۍ به تر ډېره وخته دوام لري.

مرحوم اميرالمؤمنين د خپلې پېړۍ يوازينی کس و چې عملاً يې دين او سياست سره يو ځای کړل. مرحوم اميرالمؤمنين د خپل حاکميت په دوران کې د نړۍ د استعماري قدرتونو له مختلفو فشارونو سره مخامخ شو، خو د اسلامي شريعت په تنفيذ، د بتانو د نړولو او د اسامه په موضوع کې له حده زيات فشارونه له مختلفو لارو پرې ولوېدل، خو پر الله د توکل له مخې يې هر څه وزغمل، ولې له خپلو ارزښتونو تېر نه شو. مرحوم اميرالمؤمنين يوازينی کس و چې د وخت د هر استعمار له قدرت او دبدبې څخه مطلق بې پروا و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



هغه ثابته کړه چې د خپل یوه مظلوم مسلمان ورور په دفاع کې هر څه ته تیار دی، خو د اسلامي امت پر لمن استعمار ته د سر ټیټولو تور داغ نشي زغملی.
نو ځکـه موږ ویلی شـــو چې مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمـد عمر مجـاهد د سیاست په برخه کې د خپلې پېړۍ بې مثاله مجدد و.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## خـاطــره

سید احمد قانع

کوچنی وم، تـازه مې بیســکل زده کړی و. د جمعې ورځ وه، بازار خالي و، د خرقې شـریفې خواته ولاړم. د خرقې شـریفې د زیارت څخه یوه ډله طالبان را ووتل، په مخ کې جګ صـوفي سـړی چې تور بخن غټ ترخضـــــي ارایش کالي یې اغوستي و، جرمني بوټ یې په پښو وو، توره د پاچ لنګوټه یې پر سر، ربیکاټ صدرۍ یې په تن وه، را روان و.

زه په ډېر فاتحانه انداز له خپل بیسـکل سره چې نوی مې بازار ته را ایستلی و، له دروازې څخه په لږ فاصـــله کې ولاړ وم. دوی را ورســېدل، بې له دې چې څوک پر ما د بیسـکل د ایسـته کولو غږ وکړي، را ورسېدل. همدې لومړي تن زما سره داسې چلند وکړ، لکه ما چې لاره په حقه سره بنده کړي وي، په ډېرې ارامۍ سره د بیســکل مخ ته تېر شـو. خدای شـاهد دی چې د ده د دې چلند څخه ډېر خوشـحاله شـوم. په زړه کې مې وویل دا سـړی لکه چې زما د نوي بیسـکل د زده کړې او خوشـحالۍ څخه خبر و. تلوسه مې شوه، چې دا سړی وپېژنم. یو نفر ته مې وویل: ملا صاحب دا سړی څوک وو؟

په تلواري غږ یې راته وویل: لوی ملا صاحب!

د لوی ملا صاحب د نامه پېژندنه خدایږو راته سخته وه، کور ته راغلم دا کیسه مې د کورنۍ و نورو غړو تـه وکړه. چـا راتـه وویـل هغـه خو ملا محمـد عمر اخوند و، د جمعې لمانځه وروسته ولایت ته تلئ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## خاطره

**احمدگل ریان**

د کراچی د جامعه احسن العلوم مدرسې مهتمم، تکړه مقرر او شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا زروالي خان صاحب کیسه کا چې کله د یوولسم سپتمبر واقعه پېښه شوه او امریکایي خرسانو د عقاب په څاله د بلوسېد په نیت لکی ببره کړه، نو موږ څو تنه علماء کرام د نورو په نماینده گۍ د ملا محمد عمر مجاهد حضور ته د امارت د بقا لپاره له یو شمېر مشورو سره حاضر شوو.

د مجلس د وخت په راکولو ډېر خوشحاله شولو خو چې له ستړي مشي او جوړ تازه وروسته مو په خبرو ورسره پیل وکړ یو ډول عجیب احساس مو وکړ. لومړی مشوره مو دا ورکړه چې که تاسې اسامه بن لادن ورته وسپارئ ښه به څکه وي چې امارت به په خپل ځای پاتې شي، دا کار محمد صلی الله علیه وسلم هم کړی او صحابه کرام یې کفارو ته سپارلي.

وایي چې ملا محمد عمر لږ غلی شو بیا یې په ملا صاحبانو نظر تېر کړ او په ورو یې وویل: محمد صلی الله علیه وسلم دا کار له صلحې وروسته کړی، تاسې ماته په شریعت کې داسې دلیل را پیدا کړی چې کافرانو ته د یوه مسلمان په لاس ورکول جایز دي، نو زه به دا کار وکړم.

مفتي صاحب وایي نه یوازې دا چې علماء کرام چپ شول، بلکې دې ټینګ ایمان او لوړ علمیت ته یې حیران پاتې شول او ډېرو خو له سترګو اوښکې وبهولې، وایي چې نورې مشورې مو په ستوني کې وچې شوې. د خدای په اماني په اخیستلو سره مو ترې د تلو اجازه وغوښته او خپلو استوګنځایونو ته له درنې پښېمانتیا سره ستانه شوو.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## ملا محمد عمر ولاړ، خو...

**داود جنبش**

ملا محمد عمر ولاړ، خو ځانته یې په افغان تاریخ کې ځای پرېښود. دا چې دا ځای څه دی، غوره قضاوت به پرې هغه وخت شونی وي چې د اوسني پېر ترخې هېرې شي او د هماغه مهال نسل د ۱۳۵۷ د ثور تر کودتاه وروسته ټول غمجن پړاو په سړه سینه وسپړي او وڅېړي. ښایي د خبریالانو په ډله کې تر ما له مرحوم ملا صاحب سره ډېرې مرکې چا نه وي کړي.

یو ځل مې پر ۱۹۹۶م کال چې د بېل کلنټن ادارې پر خوست د کروز توغندیو برید وکړ، نیمه شپه مې له خوبه را ویښ کړ. نژدې پر هره مهمه پېښه یې تل زما ټیلیفونونو ته ځواب ویلی او مرکې ته یې غاړه ایښې ده. ان تر پټېدلو لږ وړاندې یې وروستۍ مرکه هم د ۲۰۰۱م په ډسمبر کې له ما سره وکړه او تر هغه وروسته یې بیا چا غږ وا نهورېد.

د ۱۹۹۶م په اپرېل کې چې کله ملا محمد عمر د زرو روحانیونو د یوې ډلې لخوا امیرالمؤمنین وټاکل شو، د لنډې کتنې لپاره مې د کندهار د والي په دفتر کې ورسره ولیدل او بنډار مو وکړ. تل ورو غږېده، غوسه یې نه کوله، جملې یې لنډې او ساده وې، په خبرو کې یې د نورو ملایانو خلاف د مذهبي متونو پر ځای ډېر کلیوال سمبولونه او معیارونه خوښول.

یو ځل چې کله د اسامه بن لادن او امریکا ته د طالبانو د ګواښ پوښتنه ترې وشوه نو ده په ډېره ساده لهجه وویل(( زموږ پښه پخپله پایڅه کې بنده ده))

بل ځل چې کله ایران په مزار شریف کې د خپلو ډیپلوماتانو د وژل کېدو په غچ کې لسګونه زره عسکر د افغانستان پولې ته را وخوځول، ملا عمر له

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



هغوی نه د سرې سینې د غوښتلو تر څنګ وویل ((نو که چېرې ونه شوه بیا به یې تر اصـفهانه پسـې واخلو)) د تهران پر ځای د اصـفهان یادول یوه تاریخي تداعي وه. ده غوښتل ایرانیانو ته د هوتکي شاه محمود دوران ور په زړه کړي چې په اصـفهان کې یې د فارس صـفوي واکمنه وپرځولـــه او هلته یې ځان واکمن کړ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## مک کرسټل: ملا عمر ته تر کرزي سل ځله ډېر احترام لرم

**نظر محمد مطمین**

د ملا محمد عمر مجاهد د شخصیت اړوند؛ په افغانستان کې د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال مک کرسټل شخصي نظر:"زه (جنرال مک کرسټل) راغلی یم چې ملا محمد عمر ژوندی ونیسم او یا یې مړ کړم. همدا کار کوم، هغه زما دوښمن دی، جګړه ورسره کوم، ترڅو یې ژوندی ونیسم او یا یې ووژنم. مګر بیا هم هغه ته سل ځله تر حامد کرزي زیات احترام لرم. هغه یو څوک دی او د خپل هدف لپاره جګړه کوي، زما دوښمن دی، مګر په دې برخه کې هغه ښه ګڼم. تر کرزي سل ځله زیات احترام د هغه شخصیت ته لرم"

پورته خبرې جنرال مک کرسټل پخواني ډیپلومات او په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر ملا عبدالسلام ضعیف ته د هغه په کور کې د لیدنې پر مهال کړې وې. په داسې حال کې چې جنرال فیلډ او په کابل کې د امریکا د هغه وخت سفیر هم شتون درلود. پورته خبرې د نومبر۱۸ مه ۲۰۱۷ ضعیف صاحب ما ته کړي وې. او نن ورځ (د اپرېل ۲۴مه،۲۰۱۸) مې یو ځل بیا د جنرال مک کرسټل د څرګندونو اړوند د محترم ضعیف صاحب څخه یادې خبرې په تایدي ډول واورېدې.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



# خلورم څپرکی

## د اميرالمؤمنين رحمه الله ويناوې او ځينې فرمانونه

### د اميرالمؤمنين رحمه الله څو ويناوې

١) زه به په خپل مشر توب کې افغانانو ته داسې تاريخ پرېږدم چې هغه دوی ته پېغور شي، نو په داسې عزم کې د ملت همکارۍ ته ضرورت شته او بايد ويې کړي.

٢) په ياد ولرئ چې بې له علماء کرامو دا کار نه شي بشپړ کېدلی. او که علماء کرامو له غفلت څخه کار واخيست، نو دا کار به ضرور خرابيږي. ځکه د طالب کار په سنگر کې هستوگنه او د دښمن مقابله کول دي. شريعت او قانون نافذول يواځې د علماء وو کار دی. که دا کار خراب شو، نو د قيامت په ورځ به زه د ستاسو گرېوانونه نيسم. او ذمه وار به همدا تاسو وی.

٣) چا چې له دين سره خيانت کړی، الله تعالی ذليله کړي دي. راځئ له دين سره وفا وکړو، ترڅو د دنيا او اخرت کاميابي مو په نصاحب شي.

٤) له خدای سره مې وعده کړې، که يوه لوېشت ځمکه مې په قبضه کې راشي، د خدای نظام به پرې نافذ کوم.

٥) د اسلامي عقيدې او خپلواکۍ ساتنې امتحاني ستونزې په صبر او زغم سره گالل کيږي.

٦) نړيوال به د امريکايانو او د دوی د پلويانو د مرگ شاهدان وي.

( ٢٠٠١/نومبر/٢٨ )

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



۷) زما او د اسامه بن لادن په وژلو به ستونزې هوارې نشـــي، که دوی غواړي چې تروریزم لـــه منځه یوسي، نو لومړی دې خپلې قواوې له خلیج نه وباسي او د اسرایلو ملاتړ دې پرېږدي. (۲۰۰۱/سپتمبر/۲۴)

۸) د اسامه بن لادن په هکله:

ظاهرشــاه کفـار، کفـارو ته نه دي ســپارلي، نو زه مســلمان څنګه کفارو ته وسپارم؟

۹) د امریکایانو د ګواښونو په ځواب کې:

امریکایان تکنالوژي لري، وژل کولای شي، خو مرګ نشي پرې دفع کولای.

۱۰) امریکا موږ ته د ماتې او شکست وعده را کړې ده. او الله موږ ته د فتحې او برې وعده را کړې ده. نو ګورو چې کومه وعده رښتونې ده.

۱۱) امریکایانو ته په خطاب کې:

دا نو شـاهي نظام نه دی چې تاسـې راشی موږ به درنه لاړ شو، دلته مجاهدین دي، منظم قطعـات دي، غرونو تـه به درنه وخیژي. هســې به ځان هم خراب کړی موږ هم.

۱۲) د ایران هېواد د اخطارونو او ګواښونو په ځواب کې:

ایران هوښیار ملک دی، دا کار (پر افغانستان حمله ) نه کوي. او که دا کار یې وکړ، نو تر اصفهانه به یې پسې واخلو.

۱۳) الله تعـالی لـه مؤمنانو سره د کامیابي وعده کړې ده، نو له ځانونو حقیقي مؤمنان جوړ کړئ! الله تعالی به ضرور بریا در نصـاحب کړي، ځکه الله تعالی د خپلې وعدې مخالفت نه کوي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


۱۴) نو د روســانو په مقابل کې چې خلک را پورته شــول، هغوی ته خو ما نه وو ویلي، نه به طالبانو ورته ویلي وو او نه هم اسـامه. بلکې دا د افغان مسلمان ولس خپل ایماني غیرت وو چې د اشغالگرو په مقابل کې را پورته شول. نو د اوسنیو اشغالگرو په مقابل کې به څنگه نه را پورته کیږي؟!

۱۵) افغانان ډېر غیــور ولس دی، دا یې کله هم نفس نه اخلي چې داسې کار دې وکړي (مسـلمان دې کفارو ته وسـپاري)، که ټول افغانسـتان په بل مخ هم اوړي په افغانستان کې داسې کوم فرد نشـي پیدا کېدای چې دا دې نفس قبول کړي چې کوم مسلمان دې کفارو ته په لاس ورکړي.

۱٦) ملامتي په طالبانو او یا په اســامه مه وایاســـت، زما دې د الله پر وحدانیت قسـم وي چې که اسـامه همدا اوس په لاس ورکړی، بیا به هم همدا زوږ حال وي، همدا پټکې به وي. نو دا مسـئله د اسـامه نه ده بلکې دا د اسلام سره ضد او عناد دی.

۱۷) دغـه اســلامي امـارت دوی لپـاره د خطر زنگ دی او دې خطر ته دوی متوجـه دي. او پـه خپـل ټول توان او قوت سره غواړي دا نظـام ختم کړي. نو تاسـو په دې پوه شـئ چې د دې بحران څخه د وتلو یواځینی لار پر خپل الله باندې اعتماد کول دي. او په دې لاره کې صبر او استقامت کول دي. او همدا د کامیابی یواځینی ذریعه ده.

۱۸) مرگ حق دی او هر چـاتـه راځي، نو چې د امریکـا پـه ملگرتیا کې د بې ایمانی او بې غیرتی پـه حالت کې وي دا به ښـــه وي او که په اســلام کې له ایمانه سره د غیرت په حالت کې شهادت؟

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د امیرالمؤمنین رحمه الله ځینې فرمانونه

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر ښاغلي عبدالسلام ضعیف په خپل کتاب "طالبان له کندهاره تر مزاره" کې د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ځینې فرمانونه راوړي، چې د فرمانونو الفاظ یې د هغه ملي ارشیف څخه چې د وخت په رسمي مجلو کې چاپ شوي و، کټ مټ را نقلوي. چې موږ یې له نوموړي کتاب څخه ځینې فرمانونه دلته راوړو:

## په ټولنه کې د ښځو د حقوقو په هکله د افغانستان اسلامي امارت د مقام فرمان:

ګڼه: (۱۰۴)

نېټه: ۱۷/۵/۱۴۱۹ هـ.ش

څرنګه چې په اسلامي شریعت کې ښځه ځانته خپل شرعي حقوق لري چې د هغو په ترلاسه کولو سره یې حیثیت او مقام لوړ او حیا او پرده یې خوندي کیږي، مګر بد بختانه په افغاني ټولنه کې د ناوړو او غیر شرعي رواجونو له امله، ښځه له خپلو دغو شرعي حقوقو څخه بې برخې او راز راز ظلمونه ورسره کیږي نو د دغه ډول بې عدالتۍ د مخنیوي په منظور لاندې مراتب منظوروم:

لومړۍ ماده: د هېواد مسلمان اتباع نسي کولای چې د قتل په صورت کې ښځه د دیت، جوړې (سولې) یا په بل نوم سره د مړي (میت) کورنۍ ته په بدل کې ورکړي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



دويمه ماده:

۱ـ د هېواد مسلمان اتباع نسي کولای چې کونډه ښځه د مېړه د کورنۍ له غړي سره په نکاح کولو مجبوره کړي.

۲ــ د شــريعت د حکمونو مطابق، کونډه ښــځه کولای شـــي چې په خپله خوښـه نکاح وکړي.

دريمه ماده: د امارت ټول مسـؤلين او قاضـيان دنده لري چې د دغه فرمان له حکمونو څخه سرغړونکو ته سخته جزاء ورکړي.

څلورمه ماده: دغه فرمان د توشـيح له نېټې څخه نافذ او په رسـمي جريده کې دې خپور شي.

والسلام

د اسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد)

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د رشوت د مخنیوي په هکله د افغانستان اسلامي امارت د مقام فرمان:

په دې کې شــک نشــته چې په یوه اســلامي نظام کې غدر، خیانت او بډې (رشـوت) اخیستل د دغه نظام هدفونو او ارمانونو ته سخته ضربه ورکوي او د لوی خدای جل جلاله د نا رضایتۍ او د اسلامي نظام د ناکامۍ سبب ګرځي. په افغانســتان کې د طالبانو اســلامي تحریک هم د دغه راز مفاســدو د دفع او رفع لپاره را ولاړ سـوی دی او اسلامي امارت یې تأسیس کړی دی، نو په دې خاطر چې د دا ډول احتمالي جنایتونو او مفاسـدو بیخي مخنیوی شـوی وي، لاندې مراتب منظوروم:

لومړی ماده: که چېرې د اسـلامي امارت په ادارو کې څوک په رشـوت ونیول شي، په پنځه کاله حبس محکومیږي.

دویمـه ماده: د اســلامي امارت محاکم مکلف دي چې د رشــوت د جرم په مرتکبینو باندې د دغه فرمان د لومړی مادې حکم تطبیق کړي.

دریمـه ماده: دغه فرمان د توشــېح له نېټې څخه نافذ دی، د هېواد په ډله ییزو خبري وسیلو او رسمي جریده کې دې خپور شي.

والسلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



**د بنگو د کښت د مخنیوي په هکله د افغانستان اسلامي امارت د مقام فرمان:**

گڼه: ٢

نېټه: ١٣/١/١۴٢٠ هـ.ش

لومړی ماده:

١ـ په ټول هېواد کې د بنگو کرل مطلقاً منع دي.

٢ـ کوم اشخاص چې د بنگو په کرلو لاس پورې کوي، شرعي سزا به ورکړل شي.

دویمه ماده: د ولایتونو والیان مکلف دي چې په خپلو مربوطو ولایتونو کې د بنگو د کرلو د مخنیوي په خاطر، لازم تدابیر ونیسي.

دریمه ماده: دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

والسلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د کور او محل د تلاشي د څرنګوالي په هکله، د افغانستان اسلامي امارت د مقام حکم:

ګڼه: ۱۱۸۷

نېټه: ۱۵/۱۱/۱۴۲۱ هـ.ش

د افغانستان اسلامي امارت مقام، ټولو محترمو مسؤلینو او طالبانو ته خبر ورکوي چې په کوم کور او یا ځای کې چې د تلاشـــی ضرورت پیدا شي، د یوه ضرورت په خاطر، لومړی دې هغه کور یا ځای محاصره شي، وروسته دې د کلي امام او دوه تنه نور مسؤل کسان، له ځانه سره د تلاشۍ په منظور ملګري او د تلاشـــۍ ځای ته دې داخل شي، د کلي د امام او د کلي د دوو تنو په حضور کې دې هغه ځای تلاشي شي تر دې وړاندې هیڅوک نشـــي کولای چې په یوازې توګه، د تلاشـــۍ په منظور یوه کور ته ور داخل شي، دا د دې لپاره چې د شخصـــي اغراضو درلودونکو خلکو او هم هغو کسانو مخه ونیول شي، کوم چې په یوه او بله بهانه، د طالبانو په جامه کې د خلکو ځورېدل غواړي. په آخر کې په دې تاکید کوو چې دغه حکم باید په جدي توګه په نظر کې ونیول شي، د تخلف په صورت کې به سر غړوونکي ته سخته سزاء ورکول شي.

والسلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


## اوس هم وختي دی چې...

**شفیع اعظم**

فکر کوم اوس هم ډېر وختي دی چې د ملا عمر د ریښتیني شخصیت په اړه پوه شــو. لا هم پر تبلیغاتي دســتگاه امریکا او د عمر هغه حریفان حاکم دي چې دوی یې له تاج او تخت نـه لاندې راوپرځول او بیا یې د کولاب تر لمنو پسې واخیستل.

دغې تبلیغاتي دستگاه اوولس کاله په پرلپسې ډول ملا عمر پر پنجاب، امریکا او نورو ناولیو ډلو ټپلو وتاپه. حال دا چې موږ وینو همدا اشخاص په خپله تر ټولو زیات د پنجاب گټو ته وفادار او د امریکا پر مټ یې له لاسه تللی تخت را خپل او د ملت په شتمنیو له هېڅ نه ملیاردران شول.

هغه عمر چې زه پېژنم او له امله یې پر ما گران دی، نو هغه د پنجاب په گډون د دې وطن د هر بهرني او کورني دوښـمن سر سخته دوښمن او د پښتونوالې او د عصــــــر د مسـلمانۍ سـوچه او نگه بېلگه وه. هغه چې څېره یې په دغه تبلیغاتي زهراگین ماحول کې نشـــي لیدای حق یې دی، اما صبر دې وکړي او په ښکنځلو، بد رد ویلو دې خپل ځان ته سپکاوی نکوي.

تاریخ بې رحمه قاضي دی او هر څه به په ډاگ نندارې ته کېږدي.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## د الله په امان ملا محمد عمر مجاهده!

**ادهم شرقاوي**

الله تعالی مونږ ته د بري وعده راکړې او امریکا د ماتې، نو نړیوال بــه وګوري چې د چا وعده رښتونې ده! دا ستا هغه یوازینۍ خبره ده چې ماته یاده ده.

ســتا خبرې تل کمې وې، خو عمل دې ډېر و. او الله تعالی ګواه دی چې ته د دې منبر یو نا اشنا او په زړه پورې خطیب وې.

داســې ګومان ونکړې چې زه دا څو کرښې ستا په غمرازۍ کې لیکم، ته د نن ورځې له غمرازیو څخه مستغني یې. بلکې هغه چاته پکار ده چې پخپل ځان وژاړي، کوم چې ته یې له لاسه ورکړی یې.

نو په تا دې سلام وي!

په تا دې سلام وي د عبدالله عزام دوسته او د اسامه بن لادن ملګریه!

په تا دې ســلام وي چې روســیه دې د درنو ګوزارونو لانـــــدې ویلې شــوه او امریکا ستا د پلټنې له امله په ځمکه سرګردانه ده!

په تا دې سلام وي د زړو جامو او سپېڅلي ایمان خاونده!

په تا دې سلام وي د خالي جیبونو او ډک زړه خاونده!

په تا دې ســلام وي چې د هغه څه پروا دې ونکړه چې د امنیت په شورۍ کې روان ول، او نه له هغو پلانونوووېرېـــدې چې د ملګرو ملتونو په انګړ کې ستا او ســتا د امارت پر ضــد جوړېدل. په تا دې سلام وي چې دوی درته په سپینه ماڼۍ کې راټولېدل او تا ورته په سمڅو کې خپل افراد منظم کول.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net


په تا دې سلام وي چې دوی درته د پنټاګون جنرالان راټولول او تا يې په مقابل کې د سورة الانفال جنرالان تيارول.

مونږ ته دې ډېر څه را وښودل اې اميرالمؤمنينه!

مونږ ته دې را وښودل چې رښتونې ولاء او براء يوازې په کتابونو کې نه؛ بلکې دا ده چې کوم مسلمان کافر ته ونه سپارې، ولو که د ټولې پاچاهي په قيمت دې تمام شي.

مونږ ته دې را وښودل چې رښتونی توحيد امريکا ته په هغه وخت کې (نه) ويل دي چې ټول ورته (هو) وايي. مونږ ته دې را وښودل چې د قوت او غښتلتيا راز په تورې او ټوپک کې نه؛ بلکې په هغه لاس کې نغښتی چې اوچتوي يې.

مونږ ته دې را وښودل چې ضروري نه ده واک دې تل سړی ګمراه کړي.

مونږ ته دې را وښودل چې د حقيقي مشرانو ځای تل د جګړې او مقاومت په لومړيو ليکو کې وي. مونږ ته دې را وښودل چې غرونه د اتلانو له نظره خندقونه دي. او سيندونه د اتلانو لــه نظره کمينونه دي. او کله چې په هلمند او قندهار کې واوره ووريږي، نو مېلمستيا ايجابوي چې د ناټو عسکرو ته په خپلو مرميو سره تودوخه ور ورسوې!

اې مشره! سپور آخر بايد ښکته شي. اوس وخت راغلی چې ته ارام وکړې او د خپل رب په لوري لاړ شې. د الله لپاره مو مينه درسره درلوده او د الله په لار کې مو له لاسه ورکړې. ستا په تلو تعزيت نه کوو، ځکه د څه لپاره دې چې ژوند کاوه په هغه دې مرګ ترلاسه کړ.

Downloaded from Bawar.net

Bawar.net



## ماخذونه

۱) سعید، قاري سعید، د سپین کاروان سرلاري، چاپ کال:۱۴۳۸ هـ .ق. لومړی ټوک، چاپ وار: لومړی، خپرندوی: ا.ا.ا د فرهنګي چارو کمیسیون د تالیف او ترجمې څانګه.

۲) ضعیف، ملا عبدالسلام ضعیف، طالبان له کندهاره تر مزاره، چاپ کال: ۱۳۹٦ ل، خپرندوی: اکسوس کتاب پلورنځی.

۳) مطمئن، عبدالحی مطمئن، ملا محمد عمر، طالبان او افغانستان. چاپ کال: ۱۳۹٦ ل خپرندوی، افغان خپرندویه ټولنه.

٤) یرموک مجله، ګڼه، دوهمه/مارچ ـ ۲۰۱۸

٥) الاماره وېبپاڼه.

٦) نن ټکی آسیا.

۷) نورې بېلا بېلې سرچینې...

Downloaded from Bawar.net